
Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# د سارتر ژوند
# فلسفه او ویناوې

پوهندوی م. صفا

ketabton.com - The Digital Library

# د سارتر ژوند، فلسفه او ویناوې

له نویو زیاتونو او سمونو سره

پوهندوی محمدمصطفی صفا

ketabton.com - The Digital Library

## د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: د سارتر ژوند، فلسفه او ویناوې
تألیف: پوهندوی محمدمصطفی‌صفا
خپرندوی: کتابتون ټکی کام
د خپرېدو وار: دویم

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

## د پښتو ادب نومیالي څېړونکي او کره‌کتونکي

## ارواښاد استاد محمدصدیق روهي ته!



ketabton.com - The Digital Library

# لـيکلــړ

| سرليک | مخګڼه |
|---|---|


۱. د سريزې پر ځای ........................ ۵
۲. سارتر څوک و؟ ........................ ۱۱
۳. سارتر او وجودي فلسفه ........................ ۲۷
۳. ۱. د وجودي فلسفې پيدايښت او پلويان ........................ ۲۸
۳. ۲. د وجودي فلسفې عمومي موضوعات ........................ ۲۹
۳. ۳. د وجود مفهوم په وجودي فلسفه کې ........................ ۳۲
۳. ۴. د انسان د ماهيت ټاکنې پړاوونه ........................ ۳۵
۳. ۵. وجودي فلسفه او نظرياتي تضادونه ........................ ۴۰
۳. ٦. پر وجودي فلسفه نيوکې او د سارتر ځوابونه ........................ ۴۵
۳. ۷. وجودي فلسفه او ادبيات ........................ ۴۸
۴. د سارتر لنډې ويناوې ........................ ٦۰
۵. سارتر په انځورونو کې ........................ ۱۰٦
٦. سرچينې ........................ ۱۲٦

ketabton.com - The Digital Library



## د سریزې پر ځای

# فلسفه د پوهې کړکۍ

فلسفه په دې ارزي چې ولوستل شي
ځکه دا به بې‌انصافي وي چې
ژوند کوو، خو غور ورباندې نه‌کوو.
(استاد اسدالله غضنفر)

موږ تل په ځان کې یو مبهم غږ اورو... زموږ د ژوند زیاته برخه بې‌معنا ده او په شک، وېره او عبث‌والي کې ضایع کېږي. موږ له هغو بې‌نظمیو سره په جګړه کې یو، چې ځیني په موږ کې د ننه او ځیني له موږ څخه د باندې دي؛ خو موږ داسې ورسره احساسوو، چې که چېرې خپله اروا راوسپړو، په هغو کې به یو مهم او معنادار شی ځان راوښیي. موږ په شیانو باندې د پوهېدلو په لټه کې یو، زموږ لپاره د ژوند معنا دا ده چې خپل ځان او هر هغه شی، چې موږ ورسره مخامخ کېږو، ځان ته روښانه کړو. موږ غواړو د هغو شیانو شکل او ارزښت د خپل نظر په تله کې وتلو، چې زموږ سترګې ورسره مخامخ کېږي، ترڅو په دغه ډول خپل ځانونه د ورځنیو پېښو له توپان څخه وژغورو.
موږ غواړو مخکې له دې چې راباندې ناوخته شي، ځیني واړه مسائل را لوی کړو. موږ غواړو د ستونزو او کړکېچونو پر وړاندې خپله خوښي له لاسه ورنه‌کړو او آن د مرګ پرمهال هم پر شونډو موسکا ولرو. موږ غواړو کامل او بشپړ واوسو، خپلې وړتیاوې او استعدادونه وازمویو او هغو ته نظم، ترتیب او همغږي وبښو. (۸: ۱)
هر انسان د زړه له تله غواړي، په هغه څه وپوهېږي چې له ده نه پټ دي. د رازونو د سپړلو معنا په حقیقت کې پوهېدل دي؛ په تېره بیا د ژوندانه او نړۍ په اړه په حقیقت پوهېدل، هر چا ته په زړه‌پورې دي؛ ځکه د ژوندانه برخلیک ورسره تړلی دی او هر څوک غواړي چې په هر ځای کې ښه ژوند وکړي او ښه برخلیک ولري.

ketabton.com - The Digital Library



د حقیقت د پېژندلو او له هغو سره د انسان د جوړجاړي لپاره فلسفه لومړی کړکۍ ده، چې د حقیقت او انساني ذهن تر منځ پرانیستل کېږي.

فلسفه اوسمهال ساکنه او ولاړه ښکاري، خو دا حالت یې له دې سببه دی چې د خپلې بریا ثمرې یې خپلو اولادونو، یعنې علم او پوهې ته په میراث ورکړې دي. خو دا لا تر اوسه د مجهولاتو او ناخرګندو ټاټوبیو په کشف پسې وتې ده. (۸: ۲)

بریتانوي فیلسوف «برټرانډ راسېل» ویلي:

(په څه چې پوهېږو، علم دی او په څه چې نه‌پوهېږو، فلسفه ده.)

دا نړۍ او د هغو د رازونو څولۍ دومره ارته او پراخه ده او دومره تیاره او پټ ګوټونه لري، چې که انسان ملیاردونه کاله نور هم په همداسې پرله پسې څېړنه او پرمختګ کې تېر کړي، بیا به یې هم مخې ته د رازونو یو داسې بې‌پایه سمندر پروت وي، چې دی به یې د تل او کچ د موندلو لپاره لالهانده وي او لا به یې د پوهې تنده پرې ماته نه‌شي. (۱۵: ۴)

فلسفي شاعر (غني خان) په خپل یوه شعر کې د همداسې رازونو له کهکشان سره مخ شوی:

یو تېکي د رنګ کې، دریاب رنګارنګ...
د ژوند یوه لمحه کې، سوونه عمرونه
په لپه ایرو کې، ښارونه د تور
د هر ګل په شونډو، رازونه د طور
خاورینه څرمن کې، خندا او غرور
دې بت کې د خاورو، دا تال د ابد
د خاڅکي په مخ کې، جمال د ابد
ثبوت ما نه لوی ستا د ځان کوم دی
ګواه ما نه ښه ستا د شان کوم دی.

فلسفه په مرموزو او له اسرارو ډکو شېبو کې ګام اخیستل دي. فلسفه بشر دې ته هڅوي چې د ژوندانه او بې‌پایه نړۍ په اړه ژور فکر وکړي او د هغوی د حقیقت د روښانه لمر په وړاندې د رازونو ځړېدلې پردې یوې ډډې ته کړي. (۱۵: ۳)

ketabton.com - The Digital Library



فلسفه د انسان د کاري برخې تر ټولو پراخه ساحه ده او مور هغې ته د يوه ځانګړي شي پر مټ هېڅکله هم بريد نه شو ټاکلی. د فلسفې عمر ته که ځير شو، نو د ځمکې پر مخ د انسان له عمر سره پرتله کېدا شي. فلسفې د تاريخ په اوږدو کې زيات بدلونونه ليدلي دي او په هره دوره کې يې له تېرمهال سره جوَت توپيرونه پيدا کړي دي. د دغې موخې لپاره دا خبره بسنه کوي، چې بېلابېلو تعريفونو ته وکتل شول.

د فلسفې يوه معنا په فکري استعدادونو باندې د هغې اطلاق بلل کېږي، څو انسان ته دا وس ورکړي، چې شيان، پېښې او ډول ډول چارې له ډېر لوړ او پراخ ليد څخه وڅيري او په دې توګه د وخت او ژوند پېښې په پوره ډاډ، باور او آرامتيا سره وزغمي. فلسفه په دې معنا سره د حکمت انډول يا مترادفه ده.

له بلې خوا فلسفه داسې يوه پوهه ده چې غواړي تر ټولو بنسټيزو حقيقتونو او د هغوی منلو ته لاره هواره کړي.

(ابن سينا) وايي: (فلسفه د ټولو شيانو په حقيقتونو باندې پوهاوي ته ويل کېږي، په دومره اندازه چې د انسان په وس پوره وي. فلسفه د خپل ژوند له لومړيو ورځو څخه يوه اصيله او پراخه بشري پوهه بلل کېږي. دغه راز فلسفې ته الهي پوهه هم ويل کېږي.)

فلسفه انسان ته د شيانو د ذاتي پېژندنې په موخه د هغو له حقايقو او مباديو څخه پرده پورته کوي. فلسفه پر پوهې عمل دی. فلسفه هغه فکري خوځښت دی چې د انسان او جهان تر منځ پخلاينه راولي. فلسفه د کايناتو د موندلو لپاره يوه بشري هڅه ده. فلسفه له مجهولاتو څخه د معلوماتو په لور د انسان د بېولو وسيله ده. فلسفې ته په اوسنۍ زمانه کې د پوهې د يوې داسې مور خطاب شوی چې ټوله شتمني يې د اوسنيو علومو ترمنځ وېشل شوې ده.

نن ورځ د ټولو فلسفي سيستمونو د نظريو رښتينواله او نارښتينواله د ساينس او منطق په تله تلل کېږي او همدا د معيار په توګه ګڼل شوي دي. کله چې يوه فلسفي نظريه په همدغه تله وتلل شوه او پوره وخته، نوره د فلسفې له کړۍ راوځي او د پوهې په يوه څانګه پورې نښلي... لنډه دا چې فلسفه د (ولې؟) او ساينس (څرنګه) ته په ځواب موندلو پسې لالهانده دي. (۱۵: ۲)

ketabton.com - The Digital Library



**دا چې علمي شناخت او معرفت له عقله پيدا کېږي، مګر بيا هم عقل په ټوله معنا نه راضي کوي؛ ځکه چې انسان طبعاً د جهان د شناخت او پېژندنې او پر حقيقت د معرفت د موندلو تلوسه لري.**

**د انسان دغه تلوسه کله ناکله د ده په ذهن کې داسې پوښتنې راپاروي چې نه ساينس تر اوسه په خپلو تجربو کې روښانه کړې او نه تخنيک.**

- **زه څوک يم؟**
- **ولې يم؟**
- **ولې راغلی او راوستل شوی يم؟**
- **انسانيت څه دی او څه ډول بايد وي؟**
- **آزادي څه ده او موږ ته څه ډول او څومره آزادي لازمه ده؟**
- **اجبار څه دی؟ اختيار څه دی؟**
- **عدالت څه دی؟**
- **ايا ژوند کومه معنا لري او که يې لري، نو څنګه به پر هغې پوهېږو؟**
- **ايا داسې کېدای شي چې يو شی شتون ولري، خو د هغه لاملونه معلوم نه‌وي؟**
- **زموږ پوهه واقعيت لري او که ټول شيان يوازې د ننداري غوندې دي؟**
- **جسم، زمان، مکان، هستي او نيستي څه شی دي؟**
- **له ژونده ورهاخوا څه دي؟**
- **روح څه شی دی؟...**

**زموږ د ځينو وتليو شاعرانو په شعرونو کې هم دغه ډول پوښتنې ځان راښيي. دلته د نمونې په توګه د پښتو ژبې د دوو معاصرو شاعرانو (غني خان او محمدصديق پسرلي) څو بيتونه راوړو. د غني خان يو شعر دی:**

**موږ بربنډ له کومه راشو په تش لاس؟**
**ولې جوړ کړو، دين، ايمان، وېره، وسواس؟**
**په تش لاس کوم خوا ته ځو، چې ژوند شي خلاص؟**
**په کوم ملک، په کوم وطن، په کومه لاره؟**

ketabton.com - The Digital Library



دا ویرونه، دا غوغا، دا شور د څه دی؟...
زندګي څه ده؟ مرګ څه ده؟ ګور د څه دی؟
چا پسې؟ څه پسې؟ څه له بې‌قراره؟
عزت څه دی؟ طاقت څومره؟ دولت څه وي؟
ولې ما ته چې وي ښه، بل ته ښه نه‌وي؟...
یو وړوکی سر او دا قیصې بې‌شماره
څه د پاره؟ څه د پاره؟ څه د پاره؟

دغه راز د استاد محمدصدیق پسرلي څو څلوریزې دي:

که لاړ شو ومرو، نو بیا به څه وي؟
وایي فنا ده، فنا به څه وي؟
هېڅوک رانه‌غی، له ډېرو تللیو
د خاموشانو، دنیا به څه وي؟

د عدم غېږ کې، سوکه ویده وو
نه خیر او شر و، نه بد، نه ښه وو
که بیا عدم وي، نو پاکه ربه!
د پاڅولو، مطلب دې څه وو؟

که ژوندون غم وي، عدم به څه وي؟
که بې‌غمي وي، نو غم به څه وي؟
ملا له مرګه مو ډاروه مه
چې ډوب ویده شم، تورتم به څه وي؟

له انسان سره دا او دې ته ورته زرګونه پوښتنې چې په هر وخت کې پیدا شي، د فلسفي افکارو بنسټونه جوړوي. بریتانوی فیلسوف (آیزایا برلین) وایي:
(ټولو انسانانو، په ټولو وختونو کې داسې پوښتنې درلودلې، چې په بنسټیزه توګه یې فلسفي ځانګړتیا درلودلې ده. فلسفي پوښتنې یوازې د لوړو تمدونونو زېږنده نه‌دي، ځینې ډېرې ساده پوښتنې هم فلسفي ماهیت لري.)

ketabton.com - The Digital Library



امريکايي فيلسوف (ويليام جيمز) هم ورته نظر لري، نوموړي ويلي:
(په موږ کې هر يو فيلسوف دی، پوه يا ناپوه فرق نه‌کوي. موږ تل په دې هڅه کې يو چې په هغو چارو نظر ورکړو، چې په موږ پورې اړه لري او يا يې په اړه تصميم نيسو. د يو څه په اړه د نظر ورکولو او تصميم نيولو همدا اړتيا د عقل او پوهې پر لوري راښکون دی او دا هماغه لامل دی چې له موږ څخه فيلسوفان جوړوي.)
دلته پوښتنه راولاړيږي، چې که داسې وي، نو ولې بيا د هر چا له نوم سره د (فيلسوف) کلمه نه‌ليکو او د افکارو په تاريخ کې يوازې د ګوتو په شمېر څو فيلسوفان پېژنو او بس!؟
د دې پوښتنې لنډ ځواب دا دی (چې هر چا څه وغوښتل، هماغه به ورسيږي.) موږ ځکه هر چا ته په علمي لحاظ فيلسوف نه‌وايو، چې ټولو دا نه‌دي غوښتي او نه هم دې وزګار دي چې د فلسفي پوښتنو په اړه خپل افکار بشپړ راټول او د ټاکليو آرونو په رڼا کې ژوره وده ورکړي؛ خو هغه څوک چې د ژوندانه په نورو چارو کې ډېر نه دی بوخت شوی او د حقيقت موندلو ته يې کار ويلی او د دغه کار لپاره يې يو سيستم غوره کړی، موږ هماغه ته (فيلسوف) وايو.
په نړۍ کې په اساسي او باقايده ډول داسې فيلسوفان شته چې د خپلو آثارو او فکارو له مخې نړيوال شهرت او محبوبيت لري. د ساري په توګه؛ سقراط، ارسطو، افلاطون، اپيکور، سيسرون، ابو نصر فارابي، ابن رشد، ابن خلدون، تامس هابز، ډيکارټ، جان لاک، باروخ سپينوزا، فرانسيس بيکن، ايمانويل کانټ، ژان ژاک روسو، شوپنهاور، هېګل، فريدريش نېچې، ويليام جيمز، جان ډيوي، جورج سانټايانا، هربرټ سپنسر، برټرانډ راسېل، ژان پُل سارتر او نور... يادولی شو.
په دغو پاڼو کې د معاصر فرانسوي فيلسوف او ليکوال (ژان پُل سارتر) په ژوند، اند او ادبي او فلسفي دريځ باندې خبرې شوې دي، هيله ده، خوند ترې واخلئ.

ketabton.com - The Digital Library



# سارتر څوک و؟

## (د سارتر ژوند او هلې ځلې)

ژان پُل سارتر (Jean Paul Sartre) د فرانسې د شلمې میلادي پېړۍ یو نامتو فیلسوف، د نوبل ادبي جایزې ګټونکی لیکوال، سوله غوښتونکی سیاستوال، کره کتونکی او د ایګزیستېنشیالیزم د فلسفي مکتب په پلویانو کې یو مهم او مخکښ شخصیت بلل کېږي.

څېړونکي وایي، که څه هم د وجودي فلسفې (ایګزیستېنشیالېزم) بنسټ د نورو فیلسوفانو له خوا ایښودل شوی دی، خو دا (سارتر) و، چې دغې فلسفې ته یې نړیوال شهرت ورکړ. د دوی په اند، په شلمه میلادي پېړۍ کې هېڅ یو فیلسوف د سارتر په اندازه مشهور نه‌شو؛ دا ځکه چې نوموړی نه یوازې د فلسفي مسائلو شنونکی او مفکر و، بلکې د ګڼو داستانونو، ننداریکونو او ادبي مقالو لیکوال او ویناوال هم و. د ده د شهرت یو لامل دا هم ښودل شوی چې د خپل وخت او ماحول د نورو روښانفکرانو په پرتله یې ډېر ساده او قلندرانه ژوند کاوه او د خپلې ټولنې د ځینو دودونو او رواجونو پر وړاندې یې بې‌پروایي ښودله. ویل کېږي، نوموړي به د دې لپاره چې ډېره مطالعه او لیکل وکړي، ډېر ځله به یې د شپې مهال د بې‌خوبۍ ګولۍ خوړلې.

د سارتر آثار د نړۍ شاوخوا اویا (۷۰) ژبو ته ژباړل شوي دي او په نړیواله کچه لوستونکي او مینه‌وال لري. د پښتو ادب وتلی څېړونکی استاد محمدصدیق روهي لیکي:

(د سارتر د آثارو لوستونکي ډېر زیات دي او ښایي چې زیاتره لوستونکي به یې هغه کسان وي چې د ده له ویناو څخه خوند اخلي، خو موافقه ورسره نه‌لري.)

استاد روهي دغه مطلب په یوه بله کرښه کې داسې روښانوي: (ایا لوستونکي ناول د دې لپاره لولي چې هغه کټ‌مټ رښتیا دی؟)

ketabton.com - The Digital Library



د سارتر په آثارو کې د هغه د ایډیالوژیک او فلسفي رنګ ترڅنګ د ادبي ادا او ښکلا داسې قوت او زړه‌راښکون شته، چې لا تر اوسه یې په لوستونکو او مینه‌والو کې کمی نه‌دی راغلی.

سارتر په ۱۹۰۵م کال د فرانسې په پلازمېنه «پاریس» کې نړۍ ته راغلی دی. د سارتر پلار، ژان باپټیست سارتر (۱۸۸۲م-۱۹۰٦م) د سمندري ځواکونو افسر و او مور یې، آنه‌ماري (۱۸۸۲م-۱۹٦۹م) په سوله کې د نوبل ګټونکي علمي او سوله‌پال شخصیت (ډاکتر البرټ شوایتزر) د تره لور وه. دوی یعنې د سارتر مور او پلار په ۱۹۰۴م کال کې واده سره وکړ او یو کال وروسته سارتر وزیږېد. سارتر د ۱۵ میاشتو و، چې پلار یې د ژېړې تبې له امله مړ شو او مور یې د خپل پلار (شارل شوایتزر) کره لاړه.

سارتر د خپل ماشومتوب د وخت دغه دردناک حالت په خپل یوه اثر (کلمات) کې چې د ده د ماشومتوب د وخت ځانلیک (آتوبیوګرافي) دی او نومړي په پاخه عمر لیکلی، داسې بیانوي:

(زما نیکه شارل شوایتزر، زما د پلار تر مړینې مخکې د تقاعد غوښتنه کړې وه، خو کله چې ما او مور مې پناه ورووړه، نیکه مې هغه غوښتنه بېرته واخیسته او بیا یې په کار پیل وکړ... زما د پلار مړینې زه او زما مور له خوبه راویښ کړو. کله چې پوه شوم چې څه راپېښ دي، اندېښنو په سر واخیستم. د مور مې یوازې ما ته سترګې وې، خو ما خپل ځان له هغې سره پردی احساساوه. د نیکه په کور کې به مې ویل کېدل؛ ستا د پلار د مړینې ګناه د هغه پر خپله غاړه وه. دا هغه جمله وه چې څو څو ځله مې د خپلې نیا له خولې اورېدلې ده. هغې به دا هم ورسره غبرګوله، چې پلار دې د ژوند له پیټي څخه اوږې سپکې کړې. نیکه مې له بلې خوا پر هغه مرحوم باندې پړه اچوله چې څنګه یې په ۳۰ کلنۍ کې له نړۍ سترګې پټولې؟ په دې توګه به د خپل زوم له غمه ووت، چې ګواکې داسې موجود نور په نړۍ کې له بېخه شته نه‌دی، خو ما هغه نه‌شوای هېرولی؛ ځکه زما پلار داسې ځای خالي کړی و، چې ما له هغو سره د هېڅ ډول پېژندګلوۍ فرصت ونه‌موند... له هغه وخته چې ما ښې او کیڼ لاس پېژندلی، په خپله ګناه باندې هم پوه شوی یم، هر یتیم هلک له سخت حساسیت سره لاس او ګرېوان وي او تل خپل ځان خطاکار بولي، فکر کوي چې مور او پلار یې له هغه څخه بېزاره وو؛ ځکه یې هغه پرېښی دی او د تل لپاره ترې ابدي ځالې ته

ketabton.com - The Digital Library



الوتي دي... هغه مهال زما مور هم د خپل برخليک له ستونزو سره مخ وه، پرله‌پسې غمونو او بې‌خوبۍ مې له مور څخه د زړه زور اخيستی و. شيدې يې وچې شوې او زه يې دايي ته وسپارلم. له مور څخه جدايي په ما کې په ناروغي بدله شوه. د مرګ او ژوند ترمنځ شوم. وروسته مې داسې فکر کاوه چې زه د دې لپاره نړۍ ته راغلی يم، چې يوازې مړ شم. يو ناژغورلی ماشوم د پلار غېږې ته پناه وړي، خو ما دا پناه نه درلوده او له هغې لرې لوېدلی وم. هر وخت به مې مور ډاډ راکاوه او راته ويل به يې، چې ته د نړۍ تر ټولو نېکمرغه ماشوم يې! مګر دا مې هم نه‌شوای کولی، چې د مور دغه خبره ونه‌منم او هغه څه چې ما ليدل ونه‌زغمم. له ځان سره به مې ويل، ايا زه په رښتيا نېکمرغه يم!؟ ما د خپلې هغې بې‌کسۍ د بيان لپاره چې په ځان کې مې احساسوله، هېڅکله الفاظ پيدا نه‌کړل. ښايي سبب يې دا و، چې زه يې هېڅ وخت يوازې پرېښی نه‌يم. په دې ډول شپې ورځې راباندې تېرېدې، ساه مو ايستله، خواړه مو خوړل، په ډېرو کيسو کې نه‌وو او ژوند ته مو ادامه ورکوله؛ ځکه ژوند مو پيل کړی و...)

د سارتر نيکه (شارل شوايتزر) د آلماني ژبې استاد و او د کورنۍ اقتصادي حالت يې بد نه‌و. ده د خپلې لور په خاطر سارتر ته زياته پاملرنه کوله. سارتر يې په مور باندې ګران و، پاک يې ساته او اوږده وېښتان يې ورته پرېښي وو. سارتر په دې اړه ليکي:

(زما اختيار د لويانو په لاس کې و. زما عادت و، چې خپل ځان د هغوی په نظر کې ووينم، هغوی غوښتل زما په وجود کې د لوی سړي خوی ځای پر ځای کړي. کله چې به له ما څخه لرې هم وو، د سترګو تر کونجو به يې څارلم. ما به منډې وهلې، ساعتېري به مې کوله، خو د دوی پام راپسې و. د لوبو وسايل به يې راته راوړل او نړۍ به يې زما لپاره د ساعتېرۍ ور ګرځوله. نيکه به مې چې کوم وخت زما اوږده وېښتان وليدل، مور ته به مې يې په غوسه ويل؛ تا دغه هلک د نجلۍ په شان جوړ کړی دی، دا کار مې نه‌خوښېږي، وېرېږم دغه ماشوم د ښځو په شان ډارن او کمزوری نه‌شي...)

سارتر درې کلن و، چې ښۍ سترګه يې ناروغه شوه او ورو ورو يې خپل ځير له لاسه ورکړ. همدا لامل و، چې ده د ژوند تر پايه پورې عينکې په سترګو کولې او خپلې يوازينۍ کينې سترګې ته زياته پاملرنه کوله. ده په ماشومتوب کې د نورو ماشومانو په

ketabton.com - The Digital Library



پرتله وړه ونه درلوده، حتی کله چې لوی هم شو، له قده ټيټکی سړی و، دغه ټکي ته ان په ماشومتوب کې د ده د مور پام و، خو هڅه يې کوله چې سارتر له دغه ټکي څخه ونه‌ځوريږي. سارتر په دې اړه ليکلي:

(زما مور چې له قده لوړه او د ښکلې څېرې خاونده وه، د سپکاوي زغم يې نه‌درلود. هڅه به يې کوله چې زما وړوکی قد کومه جدي خبره ونه‌ګڼي. دې به زما او د ځان د زړه ښه کولو لپاره ويل، مور شوايتزران لوړې لوړې ونې لرو او د سارتر د پلارګنۍ خلک ټيټ قدي دي. زما زوی هم خپل پلار ته ورته دی. خو کله به چې د نورو ماشومانو منځ‌و رامنځ‌و ته ځير شوه او زه به يې يوازې او خفه وليدلم، نو هڅولم به يې، چې هسې نه خپل ځان سپک او ناڅيزه وګڼم. په داسې حال کې ما د هغې خلاف فکر کاوه او هيڅکله مې خپل ځان وړوکی او ناڅيزه نه‌دی انګېرلی او نه مې له دې ټکي کوم ځور احساس کړی دی.)

د سارتر مورني نيکه په خپل کور کې د ځان لپاره يو شخصي کتابتون درلود، د دغه کتابتون الماری په آلماني او فرانسوي ژبو باندې له بېلابېلو علمي او ادبي کتابونو څخه ډکې وې. سارتر به ډېر وخت د خپل نيکه په کتابتون کې د خپل ذوق کتابونه لټول. دی لا ښوونځي ته نه‌و تللی چې خپلې مور يې ليکل او لوستل وروښودل. ده به د ورځې زياته برخه د خپل نيکه په کتابتون کې د کتابونو په لوستلو تېروله. کله به يې لوستل او کله به يې له هغو څخه ليک کاوه. په دې اساس نوموړی يو کورناستی هلک و او له خپلو همځولو سره يې ډېره لږه ناسته ولاړه درلوده. سارتر د خپل دغه وخت ځينې يادونه په خپل ځانليک کې په خورا جالب انداز راوړي دي. دی ليکلي:

(هر څومره چې خپل فکر د تېر مهال په لور اړوم او د خپل ماشومتوب کلونه رايادوم، نو د ماشومانه ناپوهيو او نورو ناسمو کارونو کوم اثر مې پکې نه تر سترګو کيږي. هيڅکله مې د نورو ماشومانو په څېر په خاورو، خځلو کې لاس نه‌دی وهلی، ځالې مې نه‌دي ورانې کړې، بوټي مې نه‌دي شکولي او په مرغيو پسې مې کاڼي نه دي ويشتي. زما لپاره مرغۍ، ځالې، ژوي، کروندې او هر څه کتابونه وو. کتابتون راته د يوې داسې هينداري بڼه درلوده، چې په هغو کې د ټولې نړۍ تصوير موجود و. کله به چې په کتابتون کې فکر يووړم، نو د لايتناهي نړۍ عظمت به مې د هغو له

ketabton.com - The Digital Library



ټولو رنګارنګيو سره په سترګو ليده... د نيکه د کتابونو پوره واک مې درلود. ساعتونه، ساعتونه به د کتابونو په منځ کې ناست وم، ورځ تر بلې د ډېرو پوهانو له نومونو سره اشنا کېدلم. اوس فکر کوم چې زما معنوي وده له همدغه ځايه پيل شوې ده.)

سارتر د کتابونو په منځ کې رالويېده. زياتره وخت به د مېز شا ته ناست و، يا به يې څه ليکل او يا به يې لوستل. مور به يې هر ماښام پوښتنه ورڅخه کوله، چې نن دې څه شی زده کړل؟ او کوم کتاب دې ولوست؟ سارتر د دغو شېبو يوه په زړه‌پورې خاطره ليکي:

(زما مور به هم بې‌کاره نه پاتې کېدله او زما د تشويق لپاره به يې چې څه په وس وو، هغه يې کول. څوک به چې زموږ کور ته راتلل، پرته له دې چې ما ته خبر راکړي، هغوی به يې هغې خونې ته راوستل، چې زما مېز پکې ايښی و. دا کار به يې د دې لپاره کاوه، چې ما هغوی ته د کار پر مهال وروښيي. زما به هم ورته پام و، خو ځان به مې يو ډول بوخت او متفکر ښوده او دا هم د دې لپاره چې زيات د ستايې وړ وګرځم. مېلمه به چې څو شېبې ما ته وکتل، په آرامۍ سره به له هغې کوټې ووت او په بله کوټه کې به يې زما ستاينه کوله. دغه حالت ما ته د ټولو ګاونډيانو پاملرنه راواړولې وه. مور مې هڅه کوله، خلکو ته وښيي چې زوی مې اوچت استعداد لري او پرته له کوم ښوونکي څخه يې له خپله ځانه ليکل او لوستل زده کړي دي؛ خو نيا به مې مور ته ويل چې تاسې د دغه ماشوم په روزنه کې له زياتې سختۍ کار اخلئ او که چېرې دغه حالت همداسې پر مخ لاړ شي، لرې نه‌ده چې دغه ماشوم به يوازې هډوکي پاتې شي.)

د سارتر عمر د «۷» کلو په شاوخوا کې و، چې مور او نيکه يې د (څلورم هانري) ښوونځي ته واستاوه. د دغه ښوونځي مدير د سارتر له نيکه سره پېژندل. له دې امله به نوموړي مدير په سارتر باندې چې د نورو زده‌کوونکو په پرتله آرام او ګوښه‌ګير غوندې و، ځانګړی پام کاوه.

سارتر په خپل ټولګي کې د هغو زده‌کوونکو له ډلې څخه و، چې پر ليک او لوست يې ښه سر خلاصېده. ښايي يو لامل به يې دا و، چې هغه مخکې له مخکې په کور کې له ليک لوست او کتاب سره اشنا شوی و.

ketabton.com - The Digital Library



سارتر چې کله «۱۲» کلنۍ ته ورسېد، مور يې له يوه سړي سره چې (ژوزف مانسي) نومېد او د سارتر د پلار پخوانی ملګری و، واده وکړ او نور يې له خپل دغه نوي خاوند سره د (لاروشل) ښار ته کډه وکړه. سارتر که څه هم له خپلې مور سره لاړ، خو د خپلې مور له دغې پرېکړې خځه ناخوښ و.

سارتر د (لاروشل) د ښار په يوه ښوونځي کې خپلو زده‌کړو ته ادامه ورکړه. نوموړي تر «۱۵» کلنۍ پورې همدلته په زده‌کړو بوخت و، خو په دغه ښوونځي کې د زده کوونکو ناوړه حالت او ناسم روزنيز چاپېريال د ده د زړه‌تنګۍ لامل شوی و. همغه وو، چې په ۱۹۲۰م کال پاريس ته راواستول شو او دلته د شپې په يوه لېسه کې په زده‌کړو بوخت شو.

په دغه لېسه کې ده له خپل يوه ټولګيوال سره چې (پُل نيزان) نومېد، ملګرتيا ټينګه کړه. نيزان هم د سارتر په شان د ماشومانه شخړو او شوخيو پر ځای له ليکلو او لوستلو سره مينه درلوده. دغه هلک فرانسوي ادبياتو ته د سارتر په پام اړولو کې ستر رول درلود.

سارتر په ۱۹۲۲م کال چې عمر ۱۷ کلو ته رسېده، له يادې لېسې خځه د فراغت برى ليک تر لاسه کړ. تر فراغت وروسته ده له خپل ملګري نيزان سره يو ځای پرېکړه وکړه چې د پاريس په پوهنتون کې لوړې زده‌کړې وکړي. دوی په همدغه هوډ، په ۱۹۲۴م کال نوموړي پوهنتون ته لاره پيدا کړه او هلته يې په ګډه سره د يوې مجلې چې (بې‌نومه کوچنۍ مجله) نومېده، په خپرولو پيل وکړ.

سارتر په دغه پوهنتون کې د نيزان په څېر نور ملګري هم پيدا کړل، چې دغو ټولو د ده په علمي او عملي ژوند کې ځانګړی رول درلود. ده د تحصيل په څو کلنه دوره کې د فرانسې د اوولسمې ميلادي پېړۍ د ستر فيلسوف (ډيکارټ) په راسيوناليزم (د عقل اصالت) باندې نيوکې وکړې او څو مقالې خپرې کړې.

سارتر په ۱۹۲۹م کال په لومړۍ درجه د دغه پوهنتون له فلسفې څانګې څخه د خپل فراغت برى‌ليک تر لاسه کړ. د (سيمون دوبووار) په نوم يوه پېغله په دويمه درجه او (نيزان) په څلورمه درجه کې راغلل.

سارتر د پوهنتون په وروستي (۱۹۲۹م) کال کې له خپلې ټولګيوالې (سيمون دوبووار) سره واده وکړ. څېړونکي وايي، سارتر له بورژوايي واده سره مخالفت کاوه او

ketabton.com - The Digital Library



له همدې امله یې له سیمون دوبووار سره د عمر تر پایه پورې د ملګرتیا ژوند وکړ. دوی دواړو به یو بل ته د (ته) پر ځای د (تاسو) کلمه کاروله. آلمانۍ لیکواله (کرستینه رایس) د دوی په اړه لیکي:

(سیمون او سارتر نه یوازې د خپلو استعدادونو په خاطر سره نږدې شوي وو. دوی دواړه د خپل وخت وتلې د مینې جوړه هم بلل کېده. دوی سره یو ځای وو، خو یو ځای نه‌اوسېدل. وروسته دواړو په یو تعمیر کې بېل بېل اپارتمانونه واخیستل. دوی داسې یوه جوړه وه چې هېڅکله یې د یو او بل آزادي نه‌اخیسته. دوی یو بل ته مینه، درنښت او یو پر بل پوره اعتماد درلود. دوی دواړو دا په ځان حتمي کړې وه چې د هر ډول احساساتو په اړه که هغه د ځان لپاره وي یا د نورو لپاره باید یو بل ته ووایي. دوی د مینې د جوړې ترڅنګ ښه ملګري هم وو او د ژوند تر آخره هماغسې پاتې هم شول. سیمون او سارتر په پاریس کې د خپلو مفکورو او لیکوالۍ له امله ډېر مشهور وو. کله به چې دوی دواړه یو ځای په لاره تلل، نو خلکو به مخ پسې اړاوه او د دوی په زړه‌پورې جوړې ننداره به یې کوله.)

سیمون دوبووار د شلمې پېړۍ یوه تکړه فېمنیسته لیکواله او د ایګزیستېنشیالیزم فلسفي مکتب پلوۍ ګڼل کېږي. نوموړې په ۱۹۰۸م کال د پاریس په یوه شتمنه کاتولیکه کورنۍ کې زېږېدلې وه. ریاضي او فلسفه یې په یوه کاتولیک انستېټیوټ کې، ادبیات یې د (سنټ‌مارین) په ښوونیز مرکز کې او د فلسفې په برخه کې یې لوړې زده‌کړې د (سوربُن) په پوهنتون کې سر ته رسولې وې.

د دې مشهور کتاب (دویم جنس) نومېږي، چې په ۱۹۴۹م کال کې یې خپور کړی دی. په دغه کتاب کې د هغو ظلمونو په اړه په خورا تفصیل او تحلیل سره بحث کوي، چې د تاریخ په اوږدو کې په ښځو باندې شوي دي. دا کتاب تر خپرېدا څو کاله وروسته له فرانسوي څخه انګلیسي ته وژباړل شو او په ګڼ شمېر په امریکا او نورو هېوادونو کې وپلورل شو. د دې هېڅ کوم اولاد پیدا نه‌شو، نوموړې په یوه مرکه کې په دې اړه ویلي:

(هېڅکله مې له دې ټکي افسوس نه‌دی کړی چې د کوم اولاد څښتنه نه‌شوم. دغه ټکی زما لپاره جالب و، البته له دې سببه نه چې له اولاد څخه مې بد راځي. هغه مهال چې زه په تانده ځوانۍ کې وم، غوښتل مې د خپل ماما له زوی «ژاک» سره

ketabton.com - The Digital Library



واده وکړم، طبيعي ده چې د اولادارۍ فکر مې هم کړی و، مګر کله چې مې له سارتر سره ژوند شو، نوره زموږ تر منځ دغه د جوړجاړي رابطه د روښانفکرۍ پر اساس وه، نه په کوم بل سبب. ما چندان علاقه نه‌درلوده، چې له سارتر څخه دې څه ولرم، په خپله همدی زما لپاره بس و. همداسې زه هم د خپل ځان لپاره بس وم. فکر کوم، څرنګه ژوند چې موږ غوره کړی، ډېره اړتيا نه‌شته چې زه دې پکې د يوې مؤنثې رول ولوبوم.)

سارتر تر واده او له پوهنتون څخه تر فراغت وروسته، د (لوهاورو) او (ليون) په کالجونو کې د فلسفې په تدريس بوخت شو. نوموړي د تدريس پر مهال هم له نورو فلسفي او ادبي مطالعو څخه ډډه نه‌کوله. ده په ۱۹۳۱م کال د وجودي فلسفې خوا ته تمايل پيدا کړ او هغه يې په خپلو ليکنو کې منعکس کړ.

دوه کاله وروسته له يوه تحصيلي بورس څخه په استفادې د نورو زده‌کړو په موخه آلمان ته لاړ او په (برلين) کې يې زده‌کړې پيل کړې. سارتر په آلمانۍ او فرانسوي ژبو ان د ماشومتوب له دورې څخه ليکل او لوستل کولی شوی. ده په آلمان کې د هغه هېواد د وتليو او منليو فيلسوفانو لکه (هېګل، هوسېرل او هايديګېر) آثار مطالعه کړل، خو په دې ټولو کې د (هايډېګېر) له آثارو او فکارو څخه زيات اغېزمن شو.

مارټين هايديګېر (Martin Heidegger) هم د سارتر په شان د فلسفې تر څنګ د ادبياتو مينه‌وال و او په آلماني ژبه يې کله ناکله شاعري هم کوله. سارتر چې کله د هايديګېر آثار ولوستل، په ځانګړي توګه د هغه له (وجود او زمان) اثر څخه ډېر اغېزمن شو. څېړونکي وايي، د هايديګېر د افکارو اغېز په فرانسه کې د لومړي ځل لپاره د سارتر په ليکنو کې څرګند شو.

سارتر په آلمان کې و، چې دويمې نړيوالې جګړې زور واخيست، په همدې بنسټ بېرته فرانسې ته راغی. څرنګه چې نوموړی تر دغو شېبو پورې له سياست لرې سړی و، مګر تر دې وروسته د فرانسې د ژغورنې په فکر کې شو. دی په عين غيرنظامي توب کې، پرته له هېڅ ډول وېرې د جنګ ليکو ته ننوت او د نقشې اخيستونکي په دنده يې پيل وکړ. سارتر د دې کار تر څنګ له فرصت څخه په ګټه اخيستو د ۹ مياشتو په اوږدو کې ۲۰۰۰ مخونه ليکنې وکړې، چې وروسته د هغو يوه برخه (د جنګ د ناپوهۍ دفترونه) په نوم چاپ شوه.

ketabton.com - The Digital Library



سارتر د جګړې په لیکو کې په ۱۹۴۰م کال ونیول شو او د بند لپاره آلمان ته یووړل شو. دی په زندان کې د انساني ژوند له کړکېچنو اړخونو سره اشنا شو. هلته یې د ځان په شان ډېر نور زندانیان ولیدل. ده به زندانیانو ته تر نیمو شپو پورې کیسې کولې، له دې کبله د زندانیانو ورسره زیاته مینه پیدا شوه. خو د ده په آزادېدو پسې هلې‌ځلې روانې وې. په پایله کې د ډاکټرۍ د یو لړ جعلي اسنادو په جوړولو سره په ۱۹۴۱م کال له زندانه راخوشي شو.

سارتر لکه مخکې چې یادونه وشوه، ساده ژوند درلود او د شتو او پیسو په زېرمه کولو کې یې چندان فکر نه‌کاوه. دی لیکي:

(ما هېڅکله د مالکیت احساس نه‌دی کړی؛ ځکه چې کله به د نیکه په کور کې اوسېدم او کله به د پلندر کره اوسېدم. په خپل کور کې هېڅ وخت نه‌یم اوسېدلی. زما د ژوند اړتیاوې به نورو پوره کولې.)

وروسته چې دی لوی شو او د خپلو آثارو د خپرولو له لارې یې پیسې لاسته راوړې، هغه به یې هم بې‌دریغه خرڅولې، نوموړی لیکي:

(هېڅکله د شتو خاوند نه‌شوم، خو د تنګلاسۍ ستونزې مې هم نه‌دي لیدلې.)

هغه مهال چې د سارتر پلرنۍ نیا مړه شوه، سارتر ته یې یو لک (۱۰۰۰۰۰) فرانکه په میراث ورسېدل. ده دغه ټولې پیسې په یوه اوږده سفر کې چې سیمون دوبووار هم ورسره وه مصرف کړې. په دغه سفر کې یې یونان، چکسواکیا، اسپانیا، ایټالیا، آلمان، مراکش، برازیل، مکسیکو، کیوبا، چین، الجزایر، روسیه، جاپان او د افریقا ګڼې ځنګلیزې سیمې ولیدلې.

سارتر په اته کلنۍ کې ناول ته ورته لیکنې کولې. ویل کېږي د ده د لومړنۍ ادبي هڅې د خپروونکو له هرکلي سره مخ نه‌شوې. خو ادبي آثار یې بې‌اثره پاتې شول. د (ماتې) په نوم اثر له ماتې سره مخ شو او د (باریونا) په نوم ډرامه یې له چاپه پاتې شوه؛ خو سارتر هېڅکله له خپل کار و زیار څخه لاس وانه‌خیست. ده په ۱۹۳۸م کال د (کانګې) د اثر په لیکلو شهرت تر لاسه کړ. دغه اثر چې یو ناول دی، له چاپ څخه دوه کاله وروسته (۱۹۴۰م) د فرانسې د شلمې پېړۍ د خو غوره ادبي آثارو له ډلې څخه وشمېرل شو. د هغه مهال د فرانسې یوه مشر نوبل ګټونکي لیکوال (اندره ژید)

ketabton.com - The Digital Library



هم د دغه ناول ستاینه وکړه. په خپله سارتر هم د ژوند تر پایه پورې خپل دغه ناول تر ټولو غوره اثر ګاڼه.

سارتر زیات‌کاره لیکوال و، ده په ۱۹۴۴م کال یو پنډ فلسفي اثر د (هستي او نېستي) په نوم خپور کړ او په دې سره یې ځان د (هایدیګېر) د (وجود او عدم) د کتاب سیال کړ.

سارتر نه یوازې فلسفي کتابونه او مقالې لیکل، بلکې ننداریکونه، ډرامې او مقالې یې هم لیکلې. ده چې کله د خپل ماشومتوب د وخت ځانلیک (کلمات) په خواږه او استادانه نثر ولیکله، دغې هڅې د ده شهرت لا زیات کړ. تر دې چې نوموړی یې د نوبل جایزې د ګټونکو په ډله ودراوه. سارتر خپل قلم د ژوند تر پایه پورې روان وساته او د بېلابېلو بوختیاو تر څنګ یې داسې نور ادبي او فلسفي آثارو وپنځول چې په زرګونو لوستونکي یې پر ځان رامات کړل.

خو هېره دې نه‌وي چې د ده آثارو د مینه‌والو تر څنګ ځینې مخالفان هم پیدا کړل، چې ایګزیستېنشیالیزم او په ځانګړې ډول د سارتر افکار یې د ټولنې منل شویو دودونو او مسلطو افکارو ته ګواښ بلل.

د سارتر پر وړاندې دغه ګنګوسې یو مهال د دې لامل شوې چې په ۱۹۴۸م کال په (واتیکان) کې د ده د آثارو په خپراوي او لوستلو بندیز ولګول شو؛ خو دغه بندیز د ده د آثارو د لا شهرت لامل شو.

د سارتر د مشهورو آثارو نومونه په لاندې ډول دي:

- کانګې (ناول)، ۱۹۳۸م
- د روښانفکرانو په دفاع کې (کره‌کتنه)، ۱۹۳۸م
- دېوال (داستانونه)، ۱۹۳۹م
- مچان (ننداریک)، ۱۹۴۳م
- هستي او نېستي (فلسفي اثر)، ۱۹۴۴م
- وتل ممنوع دي (ننداریک)، ۱۹۴۴م
- تیفوس (فلم لیک)، ۱۹۴۴م
- د آزادۍ لارې (ناول)، ۱۹۴۵م

ketabton.com - The Digital Library



- د عقل سن (ناول)، ۱۹۴۵م
- د روح عذاب (ناول)، ۱۹۴۵م
- بې‌کفنه او بې‌قبره مړي (ننداریک)، ۱۹۴٦م
- ایگزیستېنشیالیزم او د بشر اصالت (فلسفي اثر) ۱۹۴٦م
- بې‌سیوري سړي (ننداریک) ۱۹۴٦م
- ادبیات څه دي؟ (ادبي – فلسفي اثر)، ۱۹۴۷م
- بودلر (د فرانسوي شاعر بودلر په اړه کره‌کتنه)، ۱۹۴۷م
- کار له کاره تېر شو (ننداریک)، ۱۹۴۷م
- ککړ لاسونه (ننداریک)، ۱۹۴۸م
- خواشینی خوب (ناول)، ۱۹۴۹م
- خرخ ډنډه (ننداریک)، ۱۹۴۹م
- وروستی مهلت (ناول)، ۱۹۴۹م
- شیطان او خدای (ننداریک)، ۱۹۵۱م
- کین (ننداریک)، ۱۹۵۳م
- نکراسوف (ننداریک)، ۱۹۵۵م
- د آلتونا گوښه‌گیران (ننداریک)، ۱۹۵۹م
- فروید (د زیگمونډ فروید په اړه ننداریک)، ۱۹۵۹م
- د ډیالیکټیک عقل کره‌کتنه (فلسفي اثر)، ۱۹٦۰م
- په کیوبا کې د شکرې جگړه (یونلیک‌ډوله مقالې)، ۱۹٦۱م
- کلمات (ځانلیک)، ۱۹٦۴م
- د تروا ښځې (ننداریک)، ۱۹٦۵م
- د کورنۍ ناپوه (کره‌کتنه)، ۱۹۷۱م
- د مقالو مجموعه (په یوولس ټوکونو کې)، ۱۹۴۷م – ۱۹۷٦م

سارتر په یوه مرکه کې د خپلې لیکوالۍ او ادبیاتو په اړه ځینې رازونه داسې بیان کړي:

ketabton.com - The Digital Library



(له هرې لارې چې تاسو دلته راغلي ياست، ادبيات مو د جګړې ډګر ته ورکاړي. ليکل په يو ډول د آزادۍ غوښتل دي. که ورسره لاس او ګريوان شوې، که وغواړې او که‌نه، نور نو ښکېل شوی يې. که ليکوال غواړي چې لوستونکي يې ټول خلک واوسي، ځان بايد د هغوی په کتار کې احساس کړي. يعنې د دوه ميلیارده وږيو خلکو په کتار کې بايد ودرېږي. زه په هېڅ ډول د ټولنې د ټيټې طبقې د ادبياتو چا ته توصيه نه‌کوم. خلک هم بايد د ليکوال د هدف د پوهېدو لپاره هڅه وکړي. ليکوال بايد د کلام له پېچلي کولو نه لاس په سر شي. خو «سل په سلو کې» نه‌شي کولای چې تل خپل مطالب په پوره روڼتيا يا زير و زبر سره وليکي او يا خپل تازه او مبهم افکار د لرغونو قاعدو په بنسټ وليکي.

د متن له پيچلي کولو سره مې جوړه نه‌ده. زه «مالارمه» ته د فرانسې د يوه ستر شاعر په سترګه ګورم او خپل زيات وخت مې د هغه د شعر په پوهېدو کې تېر کړی دی، خو تر ډېره بريده يې د کلام د پيچلي کولو طريقه نه‌خوښوم. هغه يوه خطا ګڼم... ځينې مطالب شته چې ويل يې مشکل دي، له دې کبله لوستل به يې هم خامخا بې مشکله نه‌وي. له بل لوري بايد داسې ونه‌انګېرو چې خلک تل هغه ډول ليکنې غواړي چې لوستل او پوهېدل يې ورته اسانه ښکاري.

تر هغه چې ليکوال ونه‌کړای شي د دوه ملیارده وږيو کسانو لپاره څه وليکي، په يو ډول ناراحتۍ به اخته وي. ليکوال بايد خپل قلم د ځپل شويو خلکو په خدمت کې وکاروي. «اميل زولا» او «اندره ژيد» هم همداسې کړي وو. که ليکوال داسې ونه کړي او تر برستنې لاندې ځملي او د خواريکښو دفاع ونه‌کړي، کوم مقام او منزلت ته نه‌رسېږي.

کله چې پر يوې موضوع ليکل پيلوم، ناڅاپي دا فکر رالوېږي چې د دغې موضوع په اړه زما د پوهېدو کچه څومره ټيټه ده... ليکل، لوستونکي ته يوه بلنه ده، څو هغه څه ته چې ما د ژبې له لارې رابرسېره کړې دي، عيني ژوند وبښي.

ښايي ادبيات ونه‌شي کړای د جګړې او وينې تويېدو مخه ونيسي، ښايي ونه‌شي کړای د يوه ماشوم د مرګ مخنيوی وکړي، خو کولای شي هغه کار وکړي چې دنيا ور باندې فکر وکړي... د يوه اثر د رامنځته کولو تر ټولو مهمه انګېزه، نورو ته يو څه ورکول دي. هېڅوک هم د ځان لپاره ليکل نه‌کوي، که نور نه‌وای، هيڅوک به هم د

ketabton.com - The Digital Library



شعر د لیکلو، مجسمې جوړولو او د هنري اثر د رامنځته کولو په لټه کې نه‌و. که یو چا یو ښکلی څیز رامنځ ته او ټولنې ته وړاندې کړ، زموږ په نړۍ کې یو څه بدلون مومي. دا په دې معنا ده چې د هر هنري او ادبي اثر په رامنځته کولو سره زموږ په نړۍ کې یو ښکلی څیز زیاتیږي. نن سبا ډېری ځوانان د سبک په کیسه کې نه‌دي او انګېرنه یې هم دا ده، کوم څه چې د ویلو لپاره لري، ویې لیکي. خو زما په نظر سبک نه یوازې دا چې له ساده لیکلو سره اختلاف نه‌لري، بلکې ساده‌ګي یې اړینه ده. تر هر څه مخکې دا هغه ډول لیکنې بڼه ده چې درې یا څلور مطالب په یو مطلب کې ویل کېږي. که څوک نه‌شي کولای خپلې وینا ته دغه معنایي کثرت وبښي، غوره دا ده چې لیکل ونه‌کړي.
هغه څه چې ادبیات له علمي ژبې رابېلوي، دا دي چې کلمه په ادبیاتو کې تل په یوه معنا نه‌وي. د لیکوالۍ په دنیا کې هنرمن هغه څوک دی چې کلمات په داسې ډول یو د بل تر څنګ کېږدي چې د هغې ښکلا په بنسټ چې پرې خوروي یې او د هغه وزن پر بنسټ چې ورته ښښي یې، هغه کلمات څو معناوې خپلې کړي.)
سارتر د خپلو ادبي او فلسفي بوختیاو تر څنګ له سیاست څخه هم لرې نه‌و. ده په دویمه نړیواله جګړه کې په عملي توګه ګډون وکړ او یو کال د آلمانیانو له خوا بندي کړی شو، خو کله چې راخوشي شو، نورې سیاسي هلې‌ځلې یې هم په ژوند کې زیاتې شوې. ده په ۱۹۴۹م کال د ډیموکراتیک جمهوریت په نوم سیاسي ګوند تشکیل کړ؛ خو په ۱۹۵۲م کال د دغه ګوند له سقوط وروسته دی کمونیسانو ته ورنږدې شو. په ۱۹۵۴م کال نوموړي شوروي اتحاد، سکانډنیاویا، افریقا، د امریکې متحده‌ایالاتو او کیوبا ته سفرونه وکړل او په وروستي هېواد (کیوبا) کې یې د یوه اتل په توګه هرکلی وشو.
سارتر په ۱۹٦۴م کال د نوبل د ادبي جایزې مستحق اعلان شو، خو ده دغه جایزه ونه منله او تور یې پورې کړ چې دا جایزه د بورژوازي ایډیالوژۍ په خدمت کې ده.
په ۱۹٦۷م کال د نړۍ د سوله غوښتونکو له خوا په ویتنام کې د امریکې د امپریالیزم د جنایتونو په هکله یوه بین المللي محکمه جوړه شوه. سارتر د دې محکمې د رئیس په توګه وټاکل شو او ورپسې یې د (ټولوژنې) په نوم یوه مقاله خپره کړه.

ketabton.com - The Digital Library



سارتر چې کله د کمونېزم خوا ته تمایل پیدا کړ، تر یوه بریده یې له ایګزیستېنشیالیزم څخه لاس واخیست او حتی له خپل یوه نږدې ملګري (البېرټ کامو) سره یې اړیکې وشلېدې.

البېرټ کامو (۱۹۱۳م – ۱۹٦۰م) د سارتر په څېر یو فلسفي لیکوال و او په ۱۹۵۷م کال یې د ۴۴ کلنۍ په عمر، یعنې له سارتر څخه ۸ کاله وړاندې د نوبل جایزه ګټلې وه. ده له سارتر سره زیات کلونه ادبي ملګرتیا درلوده، خو یو مهال د دوی تر منځ دغه ملګرتیا له منځه لاړه.

ایراني لیکوال او محقق (رضا سیدحسیني) د خپل کتاب (ادبي مکتبونه) په دویم ټوک کې د دوی د ملګرتیا د جوړېدو او ورانېدو په اړه لیکي:

(سارتر او کامو مخکې له دې چې یو بل وپېژني، هر یوه داسې آثار لیکلي وو، چې دوی ته یې شهرت ورکړی و؛ خو بیا هم د دوی تر منځ ځینې ګډ ټکي شته وو. سارتر د کامو یو اثر «پردی» وستایه او کامو د سارتر دوه آثار «کانګې» او «دېوال» وستایل. مګر بیا هم دغو دوو لیکوالو یو له بل سره بېل نړۍلید درلود. سارتر له طبیعت څخه ترهه او کرکه درلوده او کامو د مدیترانې په لمر مَین و. د دغو دواړو لیکوالو ملګرتیا د فرانسې تر آزادۍ وروسته ټینګه شوه او کامو هم د سارتر له ایګزیستېنشیالیزم څخه ملاتړ وکړ، خو په ۱۹۵۲م کال د دوی دواړو تر منځ د اړیکو پرېکون غوغا وپاروله. د دوی تر منځ اختلاف د سیاسي مسایلو له امله و. سارتر مخکې له مخکې د شوروي اتحاد له کمونېزم سره علاقه وښوده او کامو تر هر څه وړاندې له هغو کرکه او اندېښنه درلوده. دغه بېلتون په واقعیت کې له هستۍ او ادبیاتو څخه د دوو متفاوتو انګېرنو له امله و، چې وروسته انسان‌پالنه، بغاوت، هیله، نېکمرغي او له ښکلي سبک سره مینه د کامو په کار کې او تعهد، سیاست، انقلاب، وسوسه او له ادبي ښکلاو بېزاري د سارتر په کار کې راڅرګند شول.)

سارتر هېڅکله په خپل ژوند کې د کمونېزم رسمي غړیتوب وانه‌خیست او حتی د کمونیستانو ځینې وحشیانه اعمال یې په خپلو لیکنو او ویناو کې وغندل.

په ۱۹٦۷م کال د کیوبا ولسمشر (فیډل کاسترو) سارتر ته بلنه ورکړه چې په کیوبا کې په یوه کلتوري کانګریس کې ګډون وکړي. ده دغه بلنه ومنله، خو د روماتېزم ناروغۍ سارتر ته موقع ورنه‌کړه چې په نوموړي کانګریس کې ګډون وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



سارتر د ژوند په وروستیو کلونو کې د لیدلو ځواک له لاسه ورکړ او له ګڼو نورو جسمي کمزوریو او ناروغیو سره هم لاس او ګرېوان شو. نوموړي په ۷۰ کلنۍ کې د یوې مرکې په ترڅ کې د خپلې روغتیا په اړه وویل:

(راته مشکله ده چې خپل حالت ښه وګڼم، مګر دا هم نه‌شم ویلی، چې بشپړ خراب دی. دوه کاله کېږي چې له یو شمېر ستونزو سره مخ یم، په ځانګړي ډول کله چې تر یو کیلومتر زیات پلی ځم، پښې مې درد کوي. له همدې امله پلې ګرځېدا په همدغه اندازه کوم. له بلې خوا د وینې له شدید فشار سره مخ یم، خو په دې وروستیو کې په ناڅاپي ډول ورنه خلاص یم. تر ټولو مهم دا چې کیڼه سترګه مې هم له ستونزو سره مخ شوه. زما دغه یوازینۍ روغه سترګه وه. ښۍ سترګې خو مې آن په درې کلنۍ کې د لیدلو ځواک له لاسه ورکړی و. اوس په مبهم ډول شیان وینم. رنګ او رڼا معلومولی شم، مګر شیان په سمه توګه نه‌شم لیدلی او نه نور لیکل او لوستل کولی شم. که ربښتیا ووایم، د لیکلو ځواک راکې مړ نه‌دی. کله ناکله توري او کلمې د کاغذ پر مخ رسموم، خو کله چې یې ولیکم، هغه بیا نه‌شم لوستلی. لوست په بشپړ ډول راته ناشونی دی. کرښې او د کلمو ترمنځ فاصلې وینم، خو په خپله کلمې نه‌شم تشخیصولی. څرنګه چې له لیکلو او لوستلو محروم شوی یم، نو زما لپاره نور هېڅ امکان پاتې نه‌دی، چې د یوه لیکوال په توګه کار وکړم. له دې مخې د لیکوالۍ فعالیت مې په بشپړ ډول پای ته رسېدلی دی. حافظه مې غالباً ښه ده، خو ځینې وخت د نومونو په برخه کې یاري راسره نه‌کوي. زیاتره وخت یې په ډېر مشکله رایادوم. کله داسې هم شي، چې له بېخه مې په یاد نه‌راځي، مګر لا تر اوسه په لاره یوازې تللی شم...)

په دغه مرکه له سارتر څخه تر پورتنیو توضیحاتو وروسته پوښتل شوي:

(د دې ټولو تر څنګ له لیکوالۍ سره د اړیکو پرېکول، سخت او درونډ ګوزار دی، خو تاسې څنګه له هغو څخه په آرامۍ خبرې کوئ؟)

سارتر په ځواب کې وایي:

(دغه ټکي زه له وجودي اړخه په بشپړ ډول له منځه وړی یم. ویلی شم، زه وم، مګر نور نه‌شته یم. زه چې کوم وخت په هغه څه باندې فکر کوم، چې له لاسه مې ورکړي، نو هېڅ وخت د غم او خفګان احساس نه‌کوم او نه مې کړی دی.)

ketabton.com - The Digital Library



په پای کې د سولې، آزادۍ او هستۍ دغه ستر فيلسوف په ۱۹۸۰م کال د ۷۵ کلنۍ په عمر د تل لپاره له نړۍ رخصت واخيست، خو نوم يې د تاريخ د يوه ستر شخصيت په توگه ژوندی پاتې شو. د نوموړي د خښولو په مراسمو کې چې په پاريس کې ترسره کېدل (۵۰۰۰۰) پنځوس زره کسانو گډون کړی و.

د سارتر له مړينې څخه درې کاله وروسته، مېرمن سيمون دوبووار (د خدای پامانۍ مراسم) په نوم يو کتاب د دغه فيلسوف او ليکوال د ژوند او مړينې په هکله خپور کړ.

سيمون دوبووار شپږ کاله وروسته، يعنې په ۱۹۸٦م کال د ۷۸ کلو په عمر له ژوند سره مخه‌ښه وکړه او جسد يې د سارتر د قبر تر څنگ خاورو ته وسپارل شو.

ketabton.com - The Digital Library

# سارتر او وجودي فلسفه

ketabton.com - The Digital Library



## ۱: د وجودي فلسفې پیدایښت او پلویان:

وجودي فلسفه یا «Existenialisme» په بنسټیزه توګه له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته، لومړی په آلمان او وروسته په فرانسه کې رامنځ ته شوه او له دویمې نړیوالې جګړې وروسته یې په ګڼو نورو اروپایي او امریکایي هېوادونو کې هم پراختیا وموندله.

څېړونکي د دغې فلسفې مشهور پلویان په دوو ډلو وېشلي دي؛ په لومړۍ ډله کې یې کاتولیکان (د مسیحي دین لویه څانګه) یا دین‌پلوه فیلسوفان شامل دي، لکه: (کیرکې‌ګارډ)، (کارل یاسپرس)، (ګابریل مارسل) او (نیکولای بردایف) او په دویمه ډله کې هغه فیلسوفان دي چې د کوم ځانګړي دین پلویان نه‌دي، لکه (مارټین هایدیګېر)، (ژان پُل سارتر)، (سیمون دوبووار) او نور.

د فلسفې د مؤرخانو په اند، د وجودي فلسفې «Existenialisme» اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۹م کال د (اف. هایمان) په نوم یوه غربي فیلسوف وړاندې کړه.

دغه اصطلاح د ایګزیسټېنس «Existence» له کلمې څخه چې د (وجود) په معنا ده او د فرانسوي ژبې د «Existentiel» له کلمې چې د (وجودي) معنا ورکوي، اخیستل شوې ده، چې په ټولیز ډول (د وجود اصالت) یا (د وجود مخکې‌والي) معنا ښیندي.

په (آریانا دایرة المعارف) کې راځي: (ایګزیسټنشیالیزم د لاتیني کلمې ایګزوس څخه اخیستل شوی دی، چې د شته‌والي او د وجود د ماهیت معنا ورکوي.)

په اوسنیو متونو کې د ایګزیسټنشیالیزم لپاره د (وجودي فلسفې) او (وجودیت) نومونه ډېر کارېږي؛ خو د یادولو خبره دا ده چې د دغې فلسفې «Existenialisme» رېښې تر دې نومونې وړاندې د ځینو اوچتو فیلسوفانو په آثارو کې ځېدلې دي. (شوپنهاور)، (برګسن)، (هوسېرل)، (نېچې) او (کیرکې‌ګارډ) هغه فیلسوفان دي چې د وجودي فلسفې یو شمېر ځرکونه یې په خپلو آثارو کې څرګند کړي دي.

د دوی له منځه ډنمارکی فیلسوف سورن کیرکې‌ګارډ (Soren Kierkegaard) (۱۸۱۳م – ۱۸۵۵م) هغه څوک دی، چې کارونه یې د وجودي فلسفې لپاره تر ټولو مهم بلل شوي او همدا لامل دی چې اکثره څېړونکي ده ته د وجودي فلسفې د پلار خطاب کوي.

ketabton.com - The Digital Library



د کيرکېګارډ په آثارو کې وېره، وارخطايي او د پوچۍ احساس غښ ټکي دي. دی چې مذهبي هم دی، ځان دغې پايلې ته رسېدلی بولي، چې له انسان سره ځکه د وېرې، اضطراب او پوچۍ احساس شته چې هغه پر خدای باندې ايمان درلودلو ته چمتو کړي. په دې توګه يوازې پر خدای باندې مطلق ايمان درلودل دي چې په وسيله يې انسان کولی شي، د ژوند او هستۍ پر بې‌معناوالي غلبه ومومي.

د وجودي فلسفې په تاريخ کې دويم کس چې لوی ځای لري، آلمانی فيلسوف مارټين هايدېګر (۱۸۸۹م – ۱۹۷٦م) دی. هايدېګر په آلمان کې د وجودي فلسفې بنسټګر بلل کېږي. دی د آلمان لويديځې خوا ته د آلپ د غرونو په لمنو کې په يوه کليواله او مذهبي کورنۍ کې زيږېدلی و، نوموړي خپلې زده‌کړې د آلمان په معتبرو پوهنتونونو کې سرته رسولې وې او د (اډمونډ هوسېرل) شاګرد و، چې وروسته د (فرايبورګ) په پوهنتون کې د هغه ځای‌ناستی شو. د ده د آثارو شمېر (٦۰) ته رسېږي، خو تر ټولو مهم اثر يې (وجود او زمان) دی چې په ۱۹۲۷م کال کې يې خپور کړی. دغه اثر په شلمه پېړۍ کې يو له خورا مهمو فلسفي آثارو څخه شمېرل شوی دی.

په فرانسه کې د وجودي فلسفې او هايدېګر د آثارو اغېز له ۱۹۳۵م کال وروسته پيل کېږي. دا هغه وخت دی چې د هايدېګر او کيرکېګارډ آثار د (ژان پُل سارتر) او نورو مفکرانو له خوا مطالعه شول.

د سارتر او نورو فرانسوي مفکرانو يوه ځانګړتيا دا وه چې دوی وجودي فلسفه تر ادبي آثارو (ناولونو، کيسو، ډرامو او کره‌کتنو) پورې وغځوله او په دې توګه يې د ادبياتو او فلسفې اړيکې سره ټينګې کړې.

## ۲: د وجودي فلسفې عمومي موضوعات:

په وجودي فلسفه کې تر ټولو ستره او بنسټيزه موضوع د (وجود او ماهيت) مسائل دي. دا چې پر دغو مسائلو ښه وپوهېږو، ښه به وي چې لومړی هغه وپېژنو.

ketabton.com - The Digital Library



## الف: وجود:

ځینې فیلسوفان وايي چې وجود کوم ځانګړی تعریف نه‌لري. د دوی په اند، وجود یو بدیهي او روښانه مفهوم دی او تعریف ته یې چندان اړتیا نه‌شته. کوم څه چې د وجود د تعریف په نوم ویل کېږي، یوازې لفظي تعریف ورته ویلی شو او دا د هغه حقیقي تعریف نه‌شي کېدلی. دوی وايي:

(درې شیان دي چې د هر متعارف انسان لپاره روښانه او څرګند دي او هېڅوک په هغه کې د خپل ځان په هکله شک نه‌کوي. یو دا چې په خپله شته او وجود لري. دویم دا چې له هغه څخه بهر هم ځینې شیان شتون او واقعیت لري او درېیم دا چې دی کولای شي، هغه شیان وپېژني او له هغه خبر شي. دغه درې عوامل دلیل ته اړتیا نه‌لري او هر څوک د خپل درک له مخې پرې باور لري.) (۱۷: ۷۹)

ځینې وايي؛ وجود یا هستي د شیانو تر منځ لفظي مشترک دی. مثلاً د علت او معلول وجود یو نه‌دی او د علت وجود حتماً د معلول له وجود څخه قوي دی، نو وجود په بېلابېلو مواردو کې د بېلابېلو معناو درلودونکی وي. پر همدې بنسټ د شیانو تر منځ لفظي مشترک دی.

وجود د واقعیت متن تشکیلوي او بهرنی حقیقت لري. دلته بیا له دوو مفاهیمو سره مخ یو؛ (واقعیت او حقیقت). د دې دواړو په اړه پوهان وايي:

واقعیت هغه دی چې حقیقت ولري، هستي او اساس ولري، نښې‌نښانې یې محسوسې شي او تر تجربې او مشاهدې لاندې راشي او همدا ډول حقیقت یعنې د واقعیت ماهیت یا د واقعیت په باب رښتیا. دلته چې د ماهیت کلمه یاده شوه، نو د هغو په اړه هم څو خبرې کوو.

## ب: ماهیت:

ماهیت د یوه شي د ډېرو ژورو او زیاتو پایښت لرونکو خواصو او رابطو مجموعې ته ویل کېږي، چې د هغو په وسیله د نوموړي شي مبدا، خصلت او د انکشاف قوانین ټاکل کېږي. یا په ساده ډول؛ ماهیت د یوه شي یا یوه موجود د هغو خصوصیاتو مجموعه ده، چې له نورو شیانو یې ورباندې توپیر کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



ماهيت داسې شی دی، چې د (ما هوَ) يعنې (څه دی؟) په ځواب کې بيانېږي. که چېرته د سکرو رنگ ته گوته ونيسئ او پوښتنه وکړئ، چې دا کوم رنگ دی؟ ځواب درکول کېږي؛ تور. په دې ډول توروالی د سکرو ماهيت دی. (۱۷: ۸۴)

وجود او ماهيت سره تړلي شيان دي. چېرته چې وجود وي، هلته به ماهيت هم وي او چېرته چې ماهيت وي، هلته به وجود وي.

کله چې تاسې وايئ (ونه موجوده ده)، ايا دوو څيزونو ته اشاره لرئ، که يوه ته؟ ايا يو شی د (ونې) په نوم دی او بل د (وجود) په نوم؟ ايا (وجود) او (ونه‌والی) په يوه شي کې جمع کېږي، يعنې يو څيز هم (ونه) او هم (موجود) کېدای شي؟ همداراز کله چې وايئ (زه موجود يم)، ايا ستاسو (زه‌والی) ستاسو له موجوديته جدا دی؟

دلته د (ونې) مفهوم د دغه څيز (څه‌والي) ته اشاره ده. په کلي توگه د (ونې) په څېر مفاهيم چې د څيزونو د (څه‌والي) د معلومولو لپاره راځي (ماهيت) بلل کېږي.

ماهيتونه هغه نومونه دي، چې موږ يې د بېلابېلو موجوداتو او مخلوقاتو ترمنځ د فرق او تمير لپاره کاروو او (وجود) د اوبو په څېر دی، چې هغه په بېلابېلو لوښو او ظرفونو کې اچوو. کله چې اوبه په بېلابېلو ظرفونو کې اچول کېږي، په هر لوښي کې خاص شکل او خاص نوم پيدا کوي. هستي يا (وجود) هم په دې نړۍ کې په بېلابېلو قالبونو کې اچول کېږي او بېلابېل نومونه يې پيدا کړي دي. دا قالبونه او ظرفونه هماغه ماهيتي قالبونه دي او هر قالب ځان ته يو ماهيت گڼل کېږي.

له پورته څرگندونو څخه دا پايله اخلو چې ماهيت او وجود سره تړلي دي او په حقيقت کې ماهيت د وجود څرنگوالی دی. که ووايو (دا کاغذ دی)، (زه انسان يم) يا (زه انساني ماهيت لرم)، دلته دا خبره څرگنده ده چې موږ يوازې په دغه يوه جمله کې د يوې پاڼې کاغذ او د خپل ځان ټول مشخصات نه‌شو بيانولی، بلکې د کاغذ او انسان هغه ستر خصوصيات په پام کې نيسو، چې په ټولو کاغذونو او انسانانو کې شريک دي. دغه ډول خصوصيات د شيانو د کُلي او ټوليز ماهيت څرگندوی دي، مگر که چېرې د هر شي او هر فرد ځانگړي خصوصيات په پام کې ونيسو، کُلي ماهيت په فردي ماهيت بدلېږي.

ketabton.com - The Digital Library



## ۳: د (وجود) مفهوم په (وجودي فلسفه) کې:

وجودي فلسفه لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه، د (وجود د اصالت) په معنا ده، مگر د سارتر او د هغه د پلویانو له خوا یې معنا (د انسان د وجود له اصالت) سره سمون خوري. په دې ډول د (وجود) د کلمې کوم استعمال چې د وجودیانو له خوا کېږي، د دغې کلمې له عادي استعمال سره توپیر لري. په ورځنیو خبرو اترو کې وېنه، کاڼي، دېوالونه او نور شیان وجود لري، خو په ایگزیستېنشیالیزم کې چې له (وجود) څخه خبره کېږي، هدف ترې (د انسان وجود) دی.

په بل عبارت، په وجودي فلسفه کې (وجود) د (ژوندی‌والي) او (شته‌والي) په معنا نه دی، نباتات او حیوانات هم ژوندي دي او وجود لري، مگر دوی مجبوره نه‌دي چې په خپل (ژوندي‌والي) باندې فکر وکړي، دا یوازې انسان دی چې له خپل وجوده باخبره دی او پر ماهیت یې پرله‌پسې فکر کوي.

سارتر وایي: (مادي شیان یوازې په خپل نفس کې «في‌نفسه» وجود لري، په داسې حال کې چې انسان د خپل نفس لپاره «لنفسه» وجود لري، له دې امله د انسان وجود او د اشیاو وجود یو ډول نه‌دي.)

که په ساده ډول ووایو؛ وجودیان، (وجود) د داسې هستۍ خاصیت بولي چې خلاق، فعال، متفکر، ټاکونکی او مسئول وي او (موجود) له انسان څخه پرته ټولو هغو پدیدو ته چې انفعالي هستي لري او د انسان د لاسوهنې منفعل وي او خپله معنا د انسان له بدلون څخه اخلي اطلاق کېږي. په دې توگه په وجودي فلسفه کې (وجود لرل) له (شته‌والي) سره یو شان ته او مترادف نه‌دي.

د څېړونکو په اند د ایگزیستېنشیالیزم قوت او اتکا په هماغه ایډیالیزم ولاړه ده، چې ارتجاعي رومانتیزم ته یې قوت ورکړی دی. د ارتجاعي رومانتیزم هنرمن عقیده لرله چې احساسات د بهرنیو حقایقو محک دي او د ژوند واقعي مظاهرو ته یوازې هغه مهال پام کېدای شي چې په داخلي نړۍ کې او د زړه په جهان کې احساس شي. ایگزیستېنشیالیسټ هم عقیده لري چې زموږ له هستۍ او وجود پرته نړۍ محسوسه او اغېزناکه نه‌ده او دا موږ یو چې نړۍ ته معنا ورکوو. یا په عالم کې د هستۍ سرچینه په خپله موږ یو.

ketabton.com - The Digital Library



د هایدیګېر په نظر:

(د جود د پېژندلو لپاره فقط یوه لاره شته او هغه په خپله انسان دی. انسان یوه داسې کړکۍ ده چې د وجود پر مخ پرانیستل شوې ده او د وجود پېژندنې لپاره باید د انسان د وجود ابعاد کشف کړو.)

د وجودي فلسفې پلویانو انسان د خپل کار بنسټ ګرځولی دی او په دې ډول یې د هغه مسئولیتونه هم ورزیات کړي دي. د دوی په اند انسان هغه رود ته ورته دی چې په هر ځای او هر وخت کې خپل ځان ته په خپله لوری او بڼه ټاکي او له دې مخې په نړۍ کې هر نوښت له انسان څخه سرچینه اخلي. انسان په بشپړ ډول خپلواک دی او په بشپړ ډول د خپل ژوند او چارو مسئول دی.

له همدې کبله دوی وایي:

(ترڅو چې بشر کوم عملي اقدام نه‌وي کړی، تر صفت لاندې نه‌راځي؛ ځکه نه ښه دی او نه بد، بلکې هېڅ دی، یا یو خالي لوښی دی چې وروسته د ژوند په جریان کې په ښو او بدو پېژندل کېږي چې لوښی یې په زهرو ډکېږي او که په شاتو.)

د انسان اراده، مسئولیت، آزادي او عمل تر ډېره د هغه د ماهیت موضوع راپاروي. د دغې موضوع په اړه وجودیان بېلابېل نظرونه لري.

هایدیګېر وایي: (د انسان ماهیت د هغه په وجود کې دی.)

سارتر وایي: (د انسان وجود، د هغه تر ماهیت مخکې دی.)

سارتر د دغې موضوع د لا روښانولو لپاره یو مثال راوړي او لیکي:

(یو انځورګر چې غواړي یوه تابلو رسم کړي، تر هغه وخته چې د سپینې تابلو په خوا کې ناست دی؛ رنګ، قلم، برس او نور وسایل ورسره دي، په ذهن کې یې یوه تابلو شته، خو د هغه هنري تابلو لا واقعیت ته نه‌ده راغلې. دلته د تابلو ماهیت شته، خو وجود یې نه‌شته، خو کله چې تابلو رسم او جوړه شوه، نو وجود پیدا کوي. په دې اساس په تابلو باندې، د هغې ماهیت مخکې دی؛ ځکه چې ماهیت یې د رسام په ذهن کې موجود دی. انسان هغه موجود دی چې دی خلق شوی دی، خو کله چې هست شوی، نور دی په خپله خپل ځان جوړوي.)

ketabton.com - The Digital Library



سارتر زیاتوي: (انسان په لومړي سر کې نه ماهیت او نه کیفیت لري؛ له انسان څخه هغه وخت «یو څه» جوړېږي چې وجودي پیدایښت او ارزوَنه پیل کړي او د ماهیت او کیفیت خاوند شي.)

سارتر بل ځای هم د دغې نظریې پخلی کوي او وایي:

(لومړی فرد منځ ته راځي او بیا هغه خپل ماهیت په خپله ټاکي او دغه ټاکنه یا انتخاب په دایمي توګه جریان لري. څرنګه چې د بشر وجود تل په تغیر او تحول کې دی او په دغه تغیر او تحول کې هر فرد لاس لري.)

د وجودي فلسفې د پېژندنې د تیورۍ یو موقف دا دی، چې هر یو فرد د خپلې پوهې او معرفت مسئول دی. معرفت له شخصي خبرتیا او ځانپوهاوي څخه سرچینه اخلي او د انسان د شعور، خبرتیا او احساساتو له محتوا څخه د تجربې د محصول په توګه ترکیب مومي. انساني موقعیتونه له عقلاني او غیرعقلاني دواړو عناصرو څخه جوړېږي چې د معرفت اعتبار، د هغه ارزښت او معنا د خاص وګړي لپاره ټاکي.

د دغه فلسفي بهیر پلویان په دې باور دي چې په خپله کس باید په خپلې هستۍ او برخلیک پورې اړوندو مسائلو ته ځواب ومومي. په بله وینا، هغوی په عین وخت کې د هستۍ د مسائلو لپاره چې د نورو د ځوابونو رد یې په پام کې نیولی دی، وړاندیز کوي چې هر وګړی باید په دغو مسائلو فکر وکړي، څو لومړی په نړۍ کې د خپلې هستۍ په اصالت پوه شي او وروسته د خپلو ستونزو پر حل برلاسي پیدا کړي. د دوی په نظر د چارو ښتیاوالی له هر څه مخکې د ځانپېژندنې او د انساني هستۍ د اصالت درک دی. په بله وینا، انسان چې د ټولو شیانو معیار او مقیاس دی، باید خپل انساني وجودي حقیقت هم پر ټولو شیانو مقدم وبولي.

سارتر وایي:

(بشر پرته له کومې مرستې او سند څخه هر وخت او هره شېبه د بشریت په جوړولو مجبور دی.) نوموړی د یوه فرانسوي شاعر (پونز) دغه جمله تائیدوي چې وېلې ده:

(بشر د بشر راتلونکی دی.)

سارتر څرګندوي:

(بشر ته ښایي چې نوي سرحدونه پرانیزي او له پروني جهان څخه مخکې لاړ شي.)

ketabton.com - The Digital Library



سارتر په دې ډول د انسان د مسئوليت او تعهد مسئلې ته ډېر تم کېږي او د ګڼو ټولنيزو نيمګړتياو او ناخوالو ترخنګ د انسان تر ټولو مهمې دندې ته ګوته نيسي، نومورړی زياتوي:

(موږ په داسې ډول پيدا شوي يو؛ سره له دې چې زيات رنځونه او ستونزې پر موږ راتپل شوې، بيا هم غواړو خپل رول په نړۍ کې په ښه شان ادا کړو.)

سارتر انسان د خپل ځان او خپلو ارزښتونو د جوړولو مسئول بولي او وايي:

(دا موږ يو، چې معيارونه او ارزښتونه رامنځ ته کوو.)

د سارتر په آثارو کې که څه هم د طبيعت لړه يادونه کېږي او کابو ټولې ليکنې يې د ښاريانو لپاره دي، خو د ارزښتونو د منځ ته راوړو پر نظريې د ښې پوهېدنې لپاره ان د طبيعت مثال ورکوي. نومړی ليکي:

(ارزښتونه زموږ له اعمالو څخه را الوزي، هماغه ډول لکه کوم وخت چې په باغ کې قدم وهو او زموږ په راتګ سره مرغان له ونو الوزي.)

## ۴: د انسان د ماهيت ټاکنې پړاوونه:

دا چې انسان څه ډول خپل ځان د تکامل او انسان‌والي په لور بيايي، يا د وجودي فلسفې په اصطلاح، څه ډول د ماهيت خاوند کېږي؟ د دغې فلسفې پلويانو ورته لاندې پړاوونه ټاکلي دي:

الف: آزادي

ب: مسئوليت

ج: انتخاب

د: پروژه

هـ: اخلاق

دا پينځه واړه پړاوونه د يو او بل بشپړونکي دي او له يو او بله پرته يې بشپړتيا ناشونې ده. دلته يې هر يو په لاندې توګه پېژنو:

ketabton.com - The Digital Library



## الف: آزادي:

په وجودي فلسفه کې يوه تر ټولو څرګنده موضوع د انسان د بشپړې آزادۍ مسئله ده. د دغې فلسفې په باور؛ آزادي د انسان د عظمت منبع ده او انسان ته د دې امکان ورکوي چې خپل انسانوالی وټاکي او ورو ورو له خپل ځان څخه يو نه‌تماميدونکی تعريف په لاس راوړي.

آزادي د بشر لپاره هغه ځواک دی چې په وسيله يې ځان او جهان بدلولی شي او دا وړتيا ورکولی شي چې هغه شيان يو ځل په لاس راوړي چې د وېرې، ناپوهۍ او ځان محدودولو له امله يې له لاسه ورکړي دي.

(هېګل) تر ايګزيستېنشياليزم وړاندې د بشر د هڅو، پرمختګ او لاسته‌راوړنو تر شا کارکوونکې روحيې ته د آزادۍ نوم ورکړی و.

د ايګزيستېنشياليزم په نظر، آزادي او عمل د يوې سکې دوه مخونه دي. عمل له آزادۍ پرته بې‌ارزښته دی او آزادي له عمل پرته. په بله معنا؛ له عمل پرته آزادي نه څرګندېږي. آزادي له عمل سره يو شی ده. آزادي يو باطني فضيلت دی، چې زرګونه ظاهري فضيلتونه زيږوي او له ځان او جهان سره د رابطې د جوړولو او پرې کولو جواز راکوي. يو شمېر پوهان د وجودي فلسفې ارزښت په دې کې ګڼي، چې انسان د ماټرياليزم په ډول سړه او کڼه مادي وسيله نه‌ګڼي، بلکې څرګندوي چې انسان په خپله د خپل ځان جوړوونکی دی او بالاخره انسان ډېر څه کېدلی شي.

خو يوه مسئله چې د آزادۍ د حس کولو په شېبه کې ډېره مهمه ده، هغه د مکان او زمان مسئله ده. د ايګزيستېنشياليستېو په اند، د هر چا شخصيت د هغه د موقعيت پر اساس ټاکل کېږي، يعنې د هغو ټېل شويو امورو پر بنا چې په هغه يا دغه جغرافيايي مکان کې منځ ته راغلي وي.

له دې امله آزادي له موقعيت پرته وجود نه‌لري او بشر خپل ماهيت په موقعيت کې د موقعيت پر اساس ټاکي. انسان د دغه موقعيت په سم درک او پېژند سره کولی شي، هم د ځان او هم د دغه موقعيت لپاره ګټور ثابت شي.

ketabton.com - The Digital Library



## ب: مسئوليت:

**له آزادۍ څخه کار اخيستل، په خپله مسئوليت منځ ته راوړي. له لويه سره مسئوليت د انسان له انسان‌والي سرچينه اخلي. انسان لومړی د خپل انسان‌والي پر وړاندې مسئول دی او بيا د ژوند، نړۍ او نورو انسانانو پر وړاندې.**

**سارتر وايي، کله چې ته کوم عمل تر سره کوې او هيله کوې، چې بايد نور له هغه څخه پيروي وکړي، په دې ډول يوه ګُلي او ټوليزه تګلاره غوره کوې او تر فرديت مخکې دې جمعيت منلی دی، يعنې خپل ځان دې لومړی د يوه فرد په توګه نه، بلکې د جمع په توګه احساس کړی دی.**

**سارتر استدلال کوي چې تقريباً هر انسان همدا ډول دی او همدا لامل دی چې هر فردي مسئوليت، په خپل ذات کې جمعي مسئوليت هم دی. له دې سببه تعهد او مسئوليت دا دی چې هېڅوک، په هېڅ کار کې فرد نه‌دی، بلکې هر کس په هر کار کې جمع دی، چې دا کار په خپل وار سره فردي او ټولنيز مسئوليتونه سره پخلا کوي او له دې مخې انسان له فلسفي اړخه مطلقه آزادي لري او له اجتماعي اړخه مسئوله او متعهده آزادي.**

**ډېر کله ايګزيستېنشياليزم ته د وېرې او اضطراب د فلسفې نوم ورکړل شوی دی، دا چې ولې؟ په دې اړه افغان ليکوال او د فلسفې استاد (پوهاند ډاکتر بهاألدين مجروح) ليکي:**

**(که د تاريخ دورو ته نظر وکړو، نو دا به راته معلومه شي، چې په انسان کې يو اساسي تمايل موجود دی او هغه دا دی چې انسان تل د خپلو اعمالو او د خپل موجوديت د مسئوليت بار په بل شي اچوي. يا طبيعي حوادث د انسان د اعمالو مسئول وي، يا ارباب‌الانواع، يا سرنوشت، يا اجتماع، يا د غريزې په شان مستبد قدرت... داسې ښکاري چې په حقيقت کې انسان د خپل مجبوريت ثبوت ته زيات خوشحالېږي؛ ځکه چې د مسئوليت بار يې له اوږو کمېږي او د روحي اضطراب پر ځای يو راز خاطر جمعي ورته پيدا کېږي او د دې مطلب لپاره دی له يوې ميتافزيکي دنيا سره ټينګه رابطه ساتل غواړي. انسان له دې څخه زيات لذت اخلي چې په ځان وژاړي، له خپل سرنوشت څخه شکايت وکړي، د خپل مجبوريت څنځيرونه نور هم پسې**

ketabton.com - The Digital Library



وشرنگوي؛ ځکه چې په دې حالت کې ورته کوم مسئولیت نه‌شته او چې مسئولیت نه وي، اضطراب نه‌وي او انسان له ډېرو خوشبختیو څخه یوې بې‌اضطرابۍ او بې مسئولیتۍ بدبختۍ ته زیات خوشحالېږي. معاصرې وجودي فلسفې ته متفکرین د اضطراب فلسفه وایي؛ ځکه چې د دې فلسفې په نظر د انسان د خپل موجودیت او د خپلو ټولو اعمالو مسئولیت د انسان په غاړه دی. د وجود فلسفه لومړی د انسان لپاره ټولې د رفعِ مسئولیت لارې ترې، په ماوراً الطبیعه جهان کې ورته خلا ثابتوي. په طبیعي نظام کې ورته د انساني ارادې مظاهر ښیي او په نفسي جهان کې ورته د انسان انتخابي قدرت ورښکاره کوي او نتیجه یې اخلي چې انسان هغه مختاره اراده ده چې ځان په خپله انتخابوي، خپل ځان ته سرنوشت طرح کوي، خپل شخصیت په خپله جوړوي او د خپلې مختارې ارادې په وسیله خپل ځان ته د اسارت او مجبوریت دامونه ږدي.)

## ج: انتخاب:

د وجودي فلسفې په اند، انتخاب یعنې دا پېژندل چې د ژوند بېلابېلې لارې زما پر وړاندې دي او زه کولی شم، په پوره مسئولیت له هغو څخه ځینې وټاکم او یا یې ونه ټاکم. د سارتر په وینا (حتی نه‌انتخاب هم یو انتخاب دی.)

وجودي فلسفه وایي، انسان یو طراح موجود دی او هره شېبه انتخاب کوي او له دغو طرحو او انتخابونو پرته انسان هېڅ دی. په دې ډول انسان چې هر شی وغواړي، انتخابولی یې شي، خو باید غوره انتخاب وکړي. په دغه فلسفه کې د (غوره انتخاب ټکي، موضوع حساسه کړې ده.

دا چې مورِ ډارن یو، زړور یو، بخیلان یو، شریفان یو، یا په ټوله کې ښه یا بد یو، دا هر څه زموږ انتخاب رامنځ ته کړي دي. له دې امله انسان هغه موجود دی چې طرحې پنځوي، انتخابونه کوي، هدفونه ټاکي او د دې ټولو د تحقق لپاره د راتلونکي په لور حرکت کوي. دلته یوازې دا بس نه‌ده چې ووایو (مورِ هدف لرو)، بلکې باید ووایو، چې (مورِ په خپله هدف یو.)

ketabton.com - The Digital Library



خو دا چې هر شی خپل ضد لري، هر انتخاب په مشکله پایله مومي، یا د هرې لارې پر مخ لوړې ژورې شته. همداسې د انتخاب او هدف پر وړاندې هم ماته شته. وجودي فلسفې او د دغې فلسفې تر اغېز لاندې پنځېدلیو ادبیاتو تر ډېره بریده د انسان ماتې خوړونکی برخلیک انځور کړی دی او خبرداری یې ورکړی چې ماتې او ناکامي د ژوند یوه اساسي مسئله ده. د دوی په اند، انسان ممکن د خپلو طرحو او انتخابونو په شور کې ورک شي، خو کله چې له ماتې سره مخ شي، نو دا شېبه دی بېرته خپل ځان ته راګرځي او په لا جدیت سره خپل مسئولیت ته متوجه کېږي، چې دا د نړۍ پر مخ د ژوند یوه واقعي تجربه ده.

## د: پروژه:

(پرو) د مخکې او (ژه) د وړلو او اچولو معنا لري چې ټوله معنا یې «مخکې وړل» یا «مخکې اچول» راځي. دا اصطلاح د وجودي فلسفې پلویان د انسان د ودې، بدلون او ایډیال کېدلو په باره کې هم کاروي. دوی وایي؛ انسان په لومړي سر کې یو بې ماهیته وجود دی چې د وخت په تېرېدو سره د خپلې ارادې او انتخاب له مخې خپل ځان مخکې بیایي. په وجودي فلسفه کې (پروژه) یعنې په خپله د انسان له خوا د خپل ځان مخکې وړل. په بله معنا انسان (د څرنګه و) په حالت کې نه‌دی، (د څرنګه کېدو) په حالت کې دی.
د انسان دغه تکامي مرحله شرایط غواړي. وجودي فلسفه هم دغه ټکي ته پام کوي او څرګندوي چې هغه یا دغه شرایطو کې انسان څه شی دی؟ په ځواب کې وایي:
انسان د یوه سیند په شان دی چې په هر ځای کې د هغه ځای د محسوسو حالاتو له مخې خپلې بڼې ته بدلون ورکوي او بېلابېلې ځانګړنې راخپلوي. په همدې وجه انسانانو د تاریخ په اوږدو کې بېلابېل دودونه، مذهبونه او شرایط تر شا پرېښي دي. له دې امله ډېر ارزښتونه تلپاتې نه‌دي او د تحول او تکامل د اصل تابع دي. پایله دا راوځي چې هر څوک د انسانیت په یوه داسې مرحله کې دی چې خپل ځان لا غوره مرحلو ته رسولی شي.

ketabton.com - The Digital Library



**د سارتر په اند، انسان یوازې هغه څه نه‌دی چې تر اوسه شوی دی. هغه څه دی چې لا د یو څه کېدو په حال کې دی. د انسان تېرمهال، د هغه ټول واقعیت نه‌ټاکي. که یو څوک ښوونکی وي، دا د هغه ټول وجود نه‌بیانوي. هغه کېدای شي شاعر هم شي، ډرېور هم شي، بزرگر هم شي یا بېخي خپل دنده او معیار بدل کړي. له دې کبله انسان د یوه بشپړ شوي موجود په توگه نه‌شي تعریفېدلای؛ ځکه د هغه هویت تل د جوړېدو په حال کې دی او دغه هویت باید د هغه په عمل کې ولټول شي.**

**هایدېگېر د «انسان» پر ځای «دازاین» کلمه راوړي، هغه وایي: «دازاین تل له هغه څه زیات دی، کوم چې اوس په واقعیت کې دی.»**

**د هایدېگېر په اند، دازاین هغه موجود دی چې یوازې «موجود» نه‌دی، بلکې خپل موجودیت ورته مسئله ده. یو داسې موجود چې د خپل موجودیت په اړه پوښتنه او ارزونه کولی شي.**

## هـ : اخلاق:

**د وجودي فلسفي په اند، اخلاق د کومو ثابتو اصولو پر اساس نه‌شو ارزولی او اندازه کولی. څرنگه چې انسان د (څرنگه و) پر ځان د (څرنگه کېدو) په حال کې دی، دغسې اخلاق هم د (و) پر ځای د (کېدو) په حال کې دي.**

**افغان لیکوال او کره‌کتونکی «اسدالله غضنفر» په تاریخي لحاظ د انسان د اخلاقي بدلون په باب لیکي:**

**(اخلاق بدلېږي، تاریخ راته وایي چې انسان وار په وار نرم شوی او د بې‌رحمۍ خویونه یې کم شوي دي. د څو سوه کاله پخوا اروپایان د اعدامېدونکو کسانو ننداریې ته په شوق ورتلل، مگر اوس یې ضمیر د اعدام د صحنو د لیدلو اجازه نه ورکوي. په تېره زمانه کې خلکو ته دا بده نه‌ښکارېده، چې په بل ملک حمله وکړي، نارینه ووژني او ښځې یې له نورو غنایمو سره خپلو کورونو ته راوړي... د زلمکو نیول، د هغوی خصیانول او په کور کې د غلامانو په حیث ساتل، هېڅ‌ا ته بداخلاقي نه‌ایسېده. موږ اوس په غلامۍ شرمېږو او غندو یې؛ خو څو سوه کاله پخوا زموږ لویو عالمانو او اخلاقیونو په دې خبره اور وانه‌خیست، چې غریب یا اسیر انسان به ټول**

ketabton.com - The Digital Library



عمر د تورې د ښځېتن بېمزده خدمت کاوه او په اسیرو نجونو به د کاسیرو فاتحانو حرمسرایونه ډک وو.)

په وجودي فلسفه کې عمل هغه وخت اخلاقي دی چې په آزادۍ پای ته ورسېږي، داسې آزادي چې د بل انسان آزادي یا (انسانوالي) ته زیان ونهرسوي او که چېرې زیان ورته ورسوي، بیا عمل اخلاقي نهدی.

## ۵: وجودي فلسفه او نظریاتي تضادونه:

سارتر یو مهال اعلان کړه چې (ایگزیستېنشیالیزم د هیومانیزم یا انسانپالنې یوه بڼه ده.) خو وروسته د نومړي دغه ادعا له نیوکو سره مخ شوه. افغان لیکوال او د فلسفې استاد (ارواښاد اسد اسمایي) د خپلې یوې لیکنې په یوه برخه کې دغه موضوع داسې بیانوي:

(په اروپایي ایگزیستېنشیالېزم کې ژان پُل سارتر د هغه نامتو نماینده دی او هیومانیزم یعنې له انسان سره مینه یې خپل ایډیال گرځولې وه، خو د هیومانیزم اصلي مفکوره چې کېدای شوای او باید له انسان سره په عاطفي رابطه ولاړه وئ، په یوه ناینحل پراډاکس تبدیله شوه. یو مثال به راوړو؛ د عاشق او معشوق تر منځ رابطه د سارتر په نزد د جلاد او قربانۍ رابطې ته ورته ده او د هغه په نظر اصلي گناه په داسې نړۍ کې اوسېدل دي چې نور هم پکې اوسېږي. د نورو کسانو تحمل، رنځ او عذاب دی او بالاخره جهنم د نورو انسانانو حضور او موجودیت دی. له دې جهته ویلی شو، چې د سارتر رواني او فلسفي نقطه نظر له هیومانیزم یا بشردوستۍ سره په مقابله کې واقع دی او د هغه په ایگزیستېنشیالیزم کې هیومانیزم تبلیغاتي عنوان دی.)

استاد اسد اسمایي د خپلې دغې لیکنې په بله برخه کې وایي:

(ژان پُل سارتر چې له هیومانیزمه خبرې کوي، د ترلې دروازې قهرمان یې دې نتیجې ته رسېږي چې دوزخ یعنې تاسې، جهنم یعنې د تاسو او نورو خلکو حضور، یا انسان، انسان ته دوزخ دی او هر انسان بل ته جهنم دی، چې دا طرزِ تفکر له هیومانیزم سره په پراډاکس کې واقع دی.)

ketabton.com - The Digital Library



يو شمېر نور څېړونکي وايي، مخکې له دې چې سارتر د ايګزيستېنشياليزم خبره راواخلي او هغه د هيومانيزم او بشرپالنې سره غاړه‌غړې وبولي. نوموړي په خپلو مهمو آثارو (کانګې) او (دېوال) کې د بشر د ژوندانه يو تريخ طنز وړاندې کړی دی، چې په هغو کې له هرې خوا له پوچۍ سره مخ دی او په جدي ډول له تاريخي او اخلاقي هيلو سره اړيکې پرې کوي.

سارتر د (کانګې) اثر په يوه برخه کې ليکي:

(د پوچۍ کلمه مې تر قلم لاندې زيږي، لږ مخکې مې په باغ کې ونه‌موندله، ورپسې سترې هم نه‌وم، اړتيا مې ورته نه‌وه. ما د شيانو په اړه له شيانو سره، پرته له کلمو چورت واهه. په سر کې مې پوچي وه، چې نه کوم تصور ته ورته وه او نه کوم آواز ته، بلکې د يوه مړه اوږده مار په څېر مې تر پښو لاندې کېدله... او پرته له دې چې د ويلو لپاره څه وړاندې کړم، پوهېدم چې د خپل وجود کيلی، د خپلو کانګو کيلی او د خپل ژوند کيلی مې موندلې ده. په رښتيا ټول هغه څه چې کولی مې شوی، وروسته يې پيدا کړم، په همدې پوچۍ پورې اړه لري. بيا هم پوچي د يوې کلمې په څېر راڅرګنده شي. زه له کلماتو سره په جګړه کې يم، هغلته مې يو شی لمس کړل، مګر دلته غواړم د پوچۍ يو مطلق خصلت څرګند کړم... د يوه لېوني خبرې د هغه موقعيت په اړه پوچې دي، په کوم کې چې دی دی، مګر په خپله د هغو د لېونتوب په برخه کې پوچې نه‌دي...)

د پوچۍ مفهوم نه يوازې د سارتر په ليکنو کې ځان ښيي، بلکې د نورو ايګزيستېنشياليستو په آثارو کې هم په پوره توګه ليدل کېږي. په دې برخه کې د (کېرکې‌ګارډ) دا وينا مشهوره ده چې وايي:

(زه چې خپله ګوته په هستۍ کې ښکته کړم، د پوچۍ بوی ورکوي. زه چېرته يم؟ زه څوک يم؟ دغه څه چې نړۍ ورته وايو، څه دي؟ چا زه دلته اچولی او پرې اېښی يم؟ څرنګه نړۍ ته راغلم؟ ولې له ما سره مشوره ونه‌شوه؟)

(کانګې) د سارتر يو فلسفي او وجود پوهنيز ناول بلل شوی دی. دغه اثر نوموړي په ۳۳ کلنۍ کې خپور کړی. دا يو داسې ناول دی چې پېښه نه‌لري، خو د روايت کولو اړخ يې پياوړی دی. د داستان قهرمان يې د (روکانتن) په نوم يو ګوښه‌ګير، زړه

ketabton.com - The Digital Library



تنګی او له اخلاقیاتو بېزاره کس دی چې تل له هر څه استغراق ورځي او کانګې کوي.

دغه ناول له ظاهري اړخه د روکانتن د ورځنیو خاطرو په بڼه لیکل شوی. روکانتن خپل یادښتونه په داسې حال کې لیکلي چې د آسیا او افریقا له یوه اوږده سفره راستنېږي او له خپلو لیدنو کتنو وروسته دا سوژه ورته پیدا کېږي چې د شپاړسمې پېړۍ د یوه اشرافي (مارکي دو رولبون) په باره کې لیکل وکړي، خو ناول تر ډېره بریده بل ډول مخکې ځي او د رولبون تر ژوندلیک له خپل ځان او خپلې وجودي نړۍ سره زیات لاس او ګرېوان کېږي. د دغه ناول ځینې جملې په دې ډول دي:

(یوې خواشینۍ ته ورته حالت راپېښ دی، چې سوکه سوکه زما په ورځني عادت بدل شوی. نه پوهېږم زه بدل شوی یم او که نور څه بدل دي... دا هماغه څه دي چې زما هستۍ ته یې ضد او نقیض صورت ورکړی دی. هغه هیلې چې کلونه یې زه په خپل ځان کې ډوب کړی وم، مړې دي او اوس خپل ځان خالي احساسوم... نور خپل کتاب د رولبون په اړه نه‌لیکلم، هغه پای ته ورسېد. نور یې نه شم غځولی، له ژوند سره به څه کوم؟... ځان ته وایم: ما چې خپل تېر ژوند خوندي نه‌شوای کړای، څنګه به د بل چا تېر ژوند وژغورلی شم؟... رولبون زما شریک و، هغه د خپلې هستۍ لپاره ما ته ضرورت درلود او ما د دې لپاره چې خپله هستي احساس نه‌کړم، هغه ته اړ وم. هغه به چې رانږدې شو، زما ژوند به یې فتحه کاوه او ځان به یې په ما کې څرګنداوه. ما خپله هستي نه‌لیدله، زما هستي له هغه سره وه. د هغه لپاره مې خوراک کاوه، د هغه لپاره مې ساه اخیسته، هر څه مې د هغه لپاره وو... زه د اشیاو په منځ کې تنها او بې‌دفاع یم. زه اشیاو راچاپېر کړی یم... نن د نورو لپاره یکشنبه ده، خو زما لپاره نه، زه د ورځو پر وړاندې بې‌تفاوته یم...)

د سارتر له انده، د انسان نېستي، د هغه له هستۍ رازېږي او هغه د خپلو هستېدو لپاره عمل ته اړتیا لري. دلته روکانتن هم د دې لپاره لیکل کوي، چې له نېستۍ وتښتي. روکانتن د فرانسوي فیلسوف (ډیکارټ) هغه وینا چې وایي: (زه فکر کوم، نو یم.) په دې بڼه اړوي: (زه لیکل کوم، نو یم.)

کره‌کتونکي وایي، په اروپا کې د لومړۍ او دویمې نړیوالو جګړو پر مهال زیاتره مفکرین د پوچۍ او ناهیلۍ خوا ته لاړل، چې دا هر څه له هغو وېرو، بدګومانیو، زړه

ketabton.com - The Digital Library



**تنگيو، د کرکې او يوازيتوب له احساساتو ځخه راپورته شول چې د جگړو په ترڅ کې يې د اروپايي انسان په لاشعور کې رسوب وکړ.**

**سارتر يوازينی روښانفکره نه‌دی چې تر قلم لاندې يې پوچي زوکړه کوي او د ژوند کرغېړن تصوير وړاندې کوي، بلکې د زياتو قلم‌والو او مفکرينو برخليک همداسې دی.**

**(البېرټ کامو) د ايگزيستېنشيالېزم يو بل پلوی او د سارتر ملگری و، چې ليکنو يې د پوچۍ د فلسفې په نوم شهرت وموند. د ده يو اثر (د سيزيف افسانه) نومېږي. په دغه اثر کې د (سيزيف) په نوم يو سړی، د خدايانو له خوا محکومېږي چې يوه ډبره د غره سر ته وخېژوي، خو ځنگه چې دی ډبره د غره سر ته وړي، هغه بېرته رارغړي، په ده باندې همداسې ژوند تېرېږي، ډبره د غره سر ته وړي، هغه بيا بيا رارغړي، د هغه لپاره د ډبرې هره ذره او د غره هره پربنه يوه دنيا جوړوي، خو سيزيف خپل دغه بې‌حاصله کار ته دوام ورکوي...**

**فرانسوی ليکوال (اندره مالرو) د کامو د دغه اثر په اړه ليکي:**

**(ارباب‌الانواعو سيريف په دې محکوم کړ، چې ډبره د تل لپاره د غره څوکې ته وخېژوي او له هغه ځايه بېرته په خپل وزن سره راولوېږي. ارباب‌الانواع په دې دلايلو پوهېدل، چې له بې‌گټې او ناهيلونکي کار ځخه بل هېڅ وحشتناک عبرت نه‌شته.)**

**البېرټ کامو غواړي د سيزيف د افسانې له لارې د انسان د ژوندانه يو پوچ او غم‌لړلی انځور وباسي. نوموړی دا پوښتنه مطرح کوي چې انسان خپل لنډ او تکراري ژوند په څه تېروي؟ پورته کېدل، بس ته ختل، د ورځې درې څلور ساعته په دفتر يا کارخانه کې کار کول، خواړه، سرويس، څلور ساعته کار، استراحت، دوشنبه، سه‌شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه... په دې ترتيب کامو هم د سارتر په شان له متضادو احساساتو سره پاتې شوی. ده که څه هم ويلي: (ضروري نه‌ده، چې هر سړی دې ستر سړی وي، د انسان لپاره يوازې انسانيت بس دی.) خو دا ټکی هم د پام وړ دی، چې وايي: (انسان يوازينی مخلوق دی چې پر خپل خقلت ناراضه دی.)**

**د ايگزيستېنشياليستو ليکوالو او متفکرينو په آثارو کې ډېر داسې ټکي شته چې د استاد اسمايي په وينا د دوی له شعار سره په پراډاکس «تضاد» کې واقع دی.**

ketabton.com - The Digital Library



د استاد محمدصدیق روهي په اند، د ایگزیستېنشیالیستېو په ادبي او فلسفي آثارو کې فرد او ټولنه د دوو بېگانه قوتونو په توگه له یو بل سره مخامخ کېږي. نتیجه څرگنده ده؛ فرد نه‌شي کولی د ټولنیز انکشاف له قانون سره د ټکر په نتیجه کې بریالیتوب ته ورسېږي. البېرټ کامو د انتحار وړاندیز کوي، ژان پُل سارتر او نور ملگري یې هم فرد په مخمصه او مشکلاتو کې پرېږدي او یا له هغه څخه غواړي چې شرایط او زمانه د ځان تابع کړي.

د ایگزیستېنشیالېزم قهرمان یا د تکراري او پوچ ژوند قرباني کېږي او یا دا چې د ټولنې د عیني قوانینو پر ضد مبارزه کوي او په سیلاب کې مخ په پورته لامبو وهي. ایگزیستېنشیالیسټ چې په لومړي سر کې ځان آزاد گڼي، په پای کې له فاجعې سره مخ کېږي، د تنهایۍ او بېگانگۍ احساس کوي؛ ځکه چې خپل ځان یې په لوی لاس له ټولنې څخه پردی کړی دی، په اضطراب او اندېښنو کې ژوند کوي او د اسارت، تهوع او نا‌امیدۍ په لومه کې نښلي.

## ٦: پر وجودي فلسفه نیوکې او د سارتر ځوابونه:

په اروپا کې د وجودي فلسفې د شهرت او مقبولیت تر څنگ، پر هغو باندې نیوکې او انتقادونه هم زیات تر سترگو کېږي. د دغو نیوکو او انتقادونو پیل د وجودي فلسفې له پیدایښت سره هم‌مهاله دی.

ژان پُل سارتر چې هلې ځلې یې د دغه فلسفي مکتب په ټینگښت او ارزښت کې تر نورو روښانه دي، په خپل وخت کې له گڼو نیوکو سره مخ شوی دی. نوموړی په خپله د همغو نیوکو او حتی مخالفتونو په باب یوه نسبتاً اوږده لیکنه کوي چې لنډیز یې دا دی:

(ځیني وگړي نیوکه کوي، چې ایگزیستېنشیالیزم خلک گوښه‌گیرۍ او ناهیلۍ ته رابولي. دوی وایي څنگه چې په دغه فلسفه کې ټولې لارې تړل شوې دي، نو داسې پایله ورڅخه تر لاسه کېږي چې په نړۍ کې زموږ عمل او اقدام ناممکن دی. دغه ډول نیوکې په ځانگړې توگه په موږ باندې کمونیستان کوي. له بلې خوا په موږ باندې نیوکه کېږي چې موږ د بشر ناوړه او د شرم وړ حالاتو ته گوته نیسو، هر ځای له

ketabton.com - The Digital Library



**ککړتيا او کړکېچ ښخه خبرې کوو او د بشري ژوندانه له خوشحالوونکو ښکلاو ښخه سترګې پټوو. مسيحيان په موږ باندې ايراد نيسي او وايي چې موږ د بشر له واقعيت او د هغو د اقداماتو له جديت ښخه انکار کوو؛ ځکه هغه مهال چې موږ له ازلي ارزښتونو منکر شو، نو له «عبث‌والي» ښخه پرته بل هېڅ شی هم نه‌پاتې کېږي، يعنې هر څوک چې څه وغواړي، ويې کړي، نو بل څوک حق نه‌لري، له خپل ليدلوري ښخه د نورو خلکو اعمال او باورونه محکوم کړي... خو تر ټولو مهم ايراد چې موږ ته متوجه شوی، دا دی چې زموږ ټوله پاملرنه د بشر د ژوندانه له شريرو او تيارو اړخونو سره بوخته ده. څو ورځې مخکې ما ته يوه چا وويل، يوې ښځې چېرته د قهر او غوسې په وخت کې ناسمې خبرې کړې وې، خو وروسته يې د ښښنې غوښتنې په وخت ويلي وو؛ هسې نه چې اګزيستېنشياليسته شوې يم!**

**موږ د دا رنګه نيوکو په ځواب کې ويلی شو، چې ايګزيستېنسياليزم په خپل ذات کې له يوې داسې فلسفې ښخه عبارت ده چې له لويه سره د بشر ژوند ممکنوي او له بل لوري دا هم ښرګندوي، چې هر عمل او هر حقيقت د انسان د نفس محصول دی. زموږ فلسفه تر ټولو فلسفو لږ جنجالي، مګر تر ټولو جدي او سخت‌ګيره ده. دا فلسفه د فن لرونکو او فيلسوفانو لپاره ده، مګر بيا يې هم پېژندنه آسانه ده.**

**ايګزيستېنسياليزم د نړۍ د هغو اړخونو عکاسي کوي چې نامطلوبې، ناوړه او تاواني وي. په دې اساس لومړی بايد د موضوعاتو منفي، تاواني او ناوړه خواوې ښرګندې شي، وروسته هغو ته تغير ورکړل شي. د يوه متفکر ليکوال دنده دا ده چې د موضوعاتو غلطۍ او بدۍ ښرګندې کړي. ايګزيستېنسياليزم يوه عمل پلوه هڅه ده. زموږ فلسفه وايي، هر سست‌عنصره شخص، خپل ځان په خپله سست‌عنصره کړی دی او هر قهرمان شخص، پخپله له خپل ځانه قهرمان جوړ کړی دی. د سست‌عنصره شخص لپاره تل دا امکان شته، چې نور سست‌عنصره ونه‌اوسي، همداسې د قهرمان شخص لپاره هم دا امکان شته چې له قهرمانۍ ښخه لاس وويني‌ځي. هغه څه چې حساب ورباندې کېږي، يوازې د انسان اراده، عمل او مسئوليت دی چې د هغه شخصيت ټاکي. په دې توګه اګزيستېنسياليزم يوه خوشبينه، پر عمل ولاړه او عملي اقداماتو ته هڅوونکې فلسفه ده. ښرنګه چې وينئ، موږ نه‌شو کولای دغه فلسفه پر ګوښه‌ګيرۍ، بې‌مسئوليتۍ او پر يوازيتوب غوښتلو باندې متکي فلسفه وبولو؛ ځکه په**

ketabton.com - The Digital Library



دغه فلسفه کې انسان د هغه د عمل له مخې سنجول کېږي او باور لري چې بشر د خپل برخلیک ټاکونکی او جوړونکی دی. له همدې امله د ایگزیستېنسیالیزم فلسفه له کوشش او عمل څخه د انسان راگرځوونکې نه‌ده. موږ په زغرده اعلانوو، چې یوازینی شی چې بشر ته د ژوند کولو امکان وربښي، هغه عمل دی.

ایگزیستېنسیالیزم یوازینۍ فلسفه ده چې بشر ته وړتیا او شایستگي وربښي، یوازینۍ فلسفه ده چې بشر ته د کوم بل مادي شي په توگه نه‌گوري، تاسې وینئ هر ماټریالیست «چې وایي ټوله نړۍ مادي ده او همدا ماده ده چې اروا یې زیږولې ده.» ټولو بشري افرادو او حتی خپل ځان ته د کاڼي، لرگي او نورو مادي شیانو په څېر خطاب کوي. خو موږ غواړو، د انسان ماهیت او ارزښت د نړۍ له نورو مادي شیانو څخه رابېل کړو. د ناهیلۍ په اړه باید ووایو، چې دغه اصطلاح یوه خورا ساده معنا لري، په ایگزیستېنسیالیزم کې موږ یوازې په هغه څه باندې تکیه کوو، چې زموږ له ارادې سره اړه لري او د هغو احتمالاتو په مجموعې باندې تکیه کوو، چې زموږ عمل ممکنوي. کله چې یو انسان څه شی غواړي، نو تل له یو شمېر احتمالي عواملو سره مخامخ دی. د ساري په ډول، زه خپل یوه دوست ته سترگې په لاره یم، دغه دوست مې یا په موټر کې راځي او یا په اورگاډي کې. دلته زما هیله او اُمیدواري، زما د دوست د رارسېدو په ټکي ولاړه ده، چې گواکي پرته له کومې حادثې څخه به موټر یا اورگاډی راورسېږي او زما دوست به ترې رابښکته شي. زه دلته د امکاناتو په دایره کې قرار لرم، مگر تر هغه ځایه کولی شم، دغه امکاناتو ته هیله‌من واوسم چې په دقیق ډول زما د عمل په احاطه کې راشي. خو که چېرې په بشپړ ډول زما د عمل له احاطې څخه ووځي، باید له هغو څخه خپله هیله او امید پرې کړم، ځکه هېڅوک نه‌شي کولای نړۍ او د نړۍ امکانات زما له ارادې سره برابر کړي...

ایگزیستېنشیالیزم له گوښه‌گیری، تېښتې او راحت‌طلبۍ سره مخالفت لري، سستي، تېښته او ځان گوښه کول د هغه کسانو لاره ده چې وایي، هغه څه چې زه یې نه‌شم تر سره کولی، نور خلک کولی شي تر سره یې کړي. ایگزیستېنشیالیزم د دغه ډول فکر په مقابل کې پاځون کوي، ځکه باور لري چې واقعیت له عمل کولو څخه پرته نه رامنځته کېږي، حتی تر دې هم مخکې گام اخلي او وایي: بشر له خپلې طرحې څخه پرته بل هېڅ شی هم نه‌دی. بشر چې کله خپلو طرحو ته تحقق ورونه‌بښي، په

ketabton.com - The Digital Library



خپل بشرتوب کې پاتې راځي. بشر له خپل ژوند او د خپلو اعمالو له مجموعې پرته هېڅ دی... د بشر ژوند یوه سپینه تخته ده، هغه په دې انتخاب کې آزاد دی چې په دې تخته څه انځوروي. هر انسان د خپل ژوند د تابلو هنرمن دی. د هغه هر عمل، هر تصمیم او هر چلند د هغه موجودیت تعریفوي او د هغه د شخصیت تابلو تراشي.

د ایگزیستېنشیالیزم لومړی هڅه دا ده چې انساني افراد د هغه څه اختیار، مسئولیت او څښتنوالي ته چمتو کړي چې په ختګ کې یې لري. په دې ډول موږ چې کله وایو، بشر د خپل وجود مسئول دی، موخه مو دا نه‌ده چې ووایو انسان د خپل ځانګړې فردیت مسئول دی، بلکې وایو، هر فرد د بشریت د ټولو افرادو پر وړاندې مسئول دی.

موږ هېڅکله د یوه هنري اثر د عبث‌والي په اړه خبرې نه‌کوو، کله چې موږ د «پیکاسو» له کومې یوې هنري تابلو څخه خبرې کوو، چې هنرمند کوم عبث او بې ځایه کار کړی دی. موږ په ډېره ښه توګه دغه ټکي ته اشاره کوو، چې پیکاسو یې خپله تابلو داسې انځور کړې، چې د انځورونې پر مهال په خپله د ده روحیه همدغسې وه لکه دغه تابلو. موږ د اخلاقو په باب هم داسې نظر لرو، د هنر او اخلاقو تر منځ شریک ټکی دا دی چې  په دغه دواړو مواردو کې موږ له ابداع او جوړونې سره سر و کار لرو. ځینې وایي چې موږ باید پښې له خپلې بړستنې ونه‌باسو. هر کار چې د پخوانیو زړو رواجونو له دایرې څخه بهر وي، هسې هوایي شی دی. تجربو ښودلې انسان هېڅه د بدمرغۍ او پستۍ په لوري زور کوي. ځوک چې دغه ډول منفي، بدبینه او محدودونکې کلمې په ژبه راوړي. دا هغه خلک دي چې هغوی «بشر یعنې همداسې» مفکورې ته ترجیح ورکوي. په حقیقت کې همدغه ډول خلک دي چې ایگزیستېنشیالیزم ته یې د یوې تورې او غمجنونکې مفکورې نوم ورکړی دی. ایگزیستېنشیالیزم په زغرده اعلانوي چې بشر یعنې تشویش او اضطراب «چېرته چې د مسئولیت احساس نه‌وي، هلته تشویش او اضطراب هم نه‌وي.» د دغې جملې مفهوم دا دی چې کله بشر خپل ځان مسئول او ملتزم وباله، هغه بیا د یوې ځانګړې اندېښنې په لړ کې پوهېږي، چې بشر نه یوازې هغه دی چې خپل موجودیت او د ژوند لار غوره کوي، بلکې تر دې وړاندې داسې قانون او تګلارې غوره کوونکی هم دی چې په خپل انتخاب سره د بشري ټولنې لوری ټاکي. موږ ټول بشریت ته د یوه وجود په

ketabton.com - The Digital Library



سترګه ګورو، چې د يوه عمل او پرېکړه په نورو هم اغېز شيندي. موږ آزادي د آزادۍ لپاره غواړو. موږ دا حس کړې چې زموږ آزادي د نورو په آزادۍ پورې اړه لري او د نورو آزادۍ زموږ په آزادۍ پورې.)

## ۷: وجودي فلسفه او ادبيات:

ادبياتو او فلسفې د پيدايښت له وخته يو شمېر ګډ ټکي او مشترکات سره درلودلي دي. ډېر داسې فيلسوفان شته چې پر ادبي موضوعاتو يې ليکل کړي او ډېر داسې اديبان شته چې په آثارو کې يې د فلسفې څرکونه موندلی شو.

ادبيات او فلسفه که څومره د پيوستون ټکي سره لري، هغومره د بېلتون ټکي هم سره لري. د دغو دواړو اړخونو شته‌والی موږ ته دا راښيي چې د ادب او فلسفې تر منځ اړيکې، تر ډېره نسبي او احتمالي دي او سل په سلو کې يې په حتمي‌توب ټينګار نه شي کېدای. ادبيات په عمومي ډول پر تخيل ولاړ دي او فلسفه پر تعقل. د خيال او عقل تر منځ روابط داسې دي لکه د ادبياتو او فلسفې چې دي. موږ هېڅکله دا نه‌شو ويلی چې په ادبياتو کې عقل هېڅ رول نه‌لري او نه دا ويلی شو، چې عقلاني مسايل، خيال ته هېڅ اړتيا نه‌لري. خيال او عقل د انسان د ذهني نړۍ سترې برخې دي چې له يو او بل پرته ښايي نيمګړي وي.

په فلسفه کې له لويه سره عقل‌پالنې ته زيات ارزښت ورکول کېږي. افلاطون وايي:

(حقيقي پېژندنه کولای شو، يوازې د هغه شيانو په باب ترلاسه کړو چې د عقل له لارې د تشخيص وړ وي... موږ د هغه شيانو په باب چې تصور يې کولای شو او احساسولی يې شو، نامطمئنه درک لرو او د هغو شيانو په باب چې د عقل په واسطه يې تشخيصولای شو، حقيقي او ډاډمنه پېژندنه لرو.) (افغانيار، ۱۳۹۴: ۹۸)

ډېکارت وايي:

(يوازې عقل دی چې يقين منځته راوړي.)

فريدريش هېګل وايي:

(حقيقت معقوليت دی او معقوليت حقيقت دی.)

ketabton.com - The Digital Library



که په ټولیزه توګه ووایو، زیاترو پخوانیو فیلسوفانو د فلسفي، علمي او ساینسي مسایلو په پوهه او درک کې په عقل باندې ټینګار کړی دی، خو اوسنۍ څېړنې په ځانګړې ډول ارواپوهنیزې څېړنې وایي چې د انساني ژوند په علمي او عملي پرمختیا کې نه یوازې عقل، بلکې تخیل هم ونډه لرلې ده. په دې معنا چې په ژوند کې د هر نوښت پیلامه د انسان له خیال څخه کېږي او د عقل او تفکر په مرسته دوام مومي. نو ویلای شو چې تخیل او تعقل که څه هم په خپل منځ کې توپیر لري، خو په ډېرو اړخونو کې د یو او بل لاس‌نیوی کوي. ښایي ډېرکله مونږ عقل تر هرڅه لومړی او مهم وګڼو، خو د انساني پوهې، معرفت او خلاقیت په ساحه کې یوازې په عقلي بنسټونو تکیه، د انسان پر تخیلي، عاطفي او رواني اړخونو سترګې پټول دي؛ ځکه دغه شیان له عقلي ځواک سره په ملتیا هغه څه دي چې انسان ته یې د تخلیق او تخنیک، پوهې او ګروهې او د ژوندانه په نورو اړخونو کې ګڼې نقشې، اندازې او انګېزې په لاس ورکړې دي. له دې مخې ویلای شو چې خیال نه یوازې د ادبیاتو په پنځونه کې رول لري، بلکې د ټولو علومو پیلامې او فرضیې له خیال څخه سرچینه اخلي او بالاخره د عقل په بڼه کې پخېږي. په نولسمه میلادي پېړۍ کې داسې فیلسوفان هم راپیدا شول چې فلسفه او د ژوند چارې یې یوازې د عقل تابع نه‌ګڼل.

په دغو فیلسوفانو کې (فریدریش نېچې) هغه څوک دی چې د عقل په ارزښت او ځواک انتقاد کوي او وایي چې یوازې عقل د انسان په ژوند کې تسلط او حاکمیت نه‌لري. که عقل له نورو غیرعقلي پېښو سره مقایسه کړو، نو معلومه به شي چې عقل د فلسفي تفکر یوازنۍ وسیله او یوازینۍ مهمه موضوع نه‌ده او د انسان په ذهن کې د فلسفي تفکر لپاره له عقل څخه نورې پراخه او ژورې موضوعګانې هم شته. د ده په نظر د انسان په ژوند کې دغو مهمو غیرعقلي پېښو ته پام نه‌کول او اهمیت نه‌ورکول، یوازې د ځان غولول دي او بس. (۲۶: ۳۰ – ۳۱)

غني خان هم ورته نظر لري، د ده یو شعر دی:

کـېنه افلاطونه فلسفه دې سنبال کـېږده
ستا تله قطرې تلي او دلته دریابونه دي

که له دې ټولو خبرو راتېرو شو، نو د وجودي فلسفې او ادبیاتو په باب دومره ویلی شو، چې دغه فلسفي مکتب له بل هر فلسفي مکتب څخه زیات ادبیات او فلسفه سره

ketabton.com - The Digital Library



نږدې کړل. که د وجودي فلسفې او له ادبياتو سره د هغو د تړاو تاريخ ته وکتل شي، نو داسې ښکاري چې په ادبياتو کې د ايگزيستنشياليستي افکارو راوړل او انځورول لومړی په فرانسه کې پيل شوي دي.

دا چې ژان پُل سارتر خپل گڼ افکار د ادبي آثارو په چوکاټ کې ځرگند کړل او البيرټ کامو هم خپله فلسفه د ادبياتو په ژبه بيان کړه، له همدې کبله ځينې کره کتونکي وايي:

(د فرانسې ايگزيستنشياليزم د تخليق شوي پر ځای زيات اقتباس شوی دی او د فلسفې په تاريخ کې چندان مهم ځای نه‌لري.)

مگر حقيقت دا دی چې په فرانسه کې ايگزيستنشياليزم، خپل ځان او ادبياتو ته يوه نوې ځېره وښله چې په دې سره هم نوموړې فلسفه مشهوره شوه او هم يې هغه فاصله چې د ادبياتو او فلسفې تر منځ وه، له منځه يووړه. په دې کار سره د دغې فلسفې لارويان په خپل وخت کې له ستر ادبي شهرت څخه برخمن شول. سارتر او کامو خو د ادبياتو په برخه کې د نوبل جايزې د گټونکو په ډله کې راغلل.

څېړونکي وايي؛ په ايگزيستنشياليستي ادبياتو کې انسان د ابدي موجود او د ماورالطبيعه وجود په شان کې ځلېږي چې د زمان او مکان او د اجتماعي چاپېريال له اغېزو څخه وتلی وي. د انسان کړاوونه له مادي محروميتونو، اجتماعي فشارونو او فکري اختناقونو څخه پيدا نه، بلکې د ده د خپل وجود مولود دي. د وجودي ادبياتو بله خاصه دا ده چې په هغو کې همېشه د ژوند په ډگر باندې د مرگ سيوری خپور وي. د دغه مکتب ليکوال نه‌شي کولی چې په ژوند کې يو ژور مفهوم ومومي او د انسان خلاقانه هڅې د مرگ نه د ډار د کمولو موجب وگڼي. د مرگ تجليل او لمانځنه، هغه د ژوند د تقدير ټاکونکي په حيث گڼي او له دې امله هغه ډار ته صوفيانه او رومانتيک رنگ ورکوي، چې له مرگه يې لري؛ دا ځکه چې هغه مهال نړيوالو جگړو لوېديځ لړزولی او ځورولی و، په دې اساس يې د دغه مکتب پلويان له مرگ سره دغه ډول رابطې ته رابللي وو.

د ايگزيستنشياليستو ليکوالو په آثارو کې د انساني ژوند گڼ ناسم اړخونه تصويرېږي او حتی تر دې چې ځينو ليکوالو يې ټول ژوند يو پوچ او بې‌معنا کشمکش بللی او انسان ته يې پکې د يوه خپلواک، خو وارخطا او اندېښمن موجود خطاب کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



د دوی په نظر، په نړۍ کې آزادي او خپلواکۍ يو وجداني شی ده، نو د وجدانونو تعداد نړۍ منحوسه کړې او دا د دې سبب کېږي چې موږ همېشه په اضطراب کې يو. مينه او همکاري مو په ناهيلۍ اوړي، له دې امله (خپله کېدل او نور کېدل) چې د ژوند ضروري او ارضي خاصيت دی، د دايمي وارخطايۍ سبب کېږي.

سارتر په ايگزيستېنشياليستي ادبياتو کې د تعهد، التزام او د ځان مسئول بللو پلويتوب کاوه، خو د نوموړي دغه مفکورې د يو شمېر کره‌کتونکو له نيوکو سره مخ شوې. له دې امله سارتر په ۱۹۴۵م کال د (نوي عصر) په نوم د يوې مياشتنۍ مجلې بنسټ کېښود. ده د درېيو کلونو په اوږدو کې دغې مجلې ته د ادبياتو د تعهد او ماهيت په اړه مقالې وليکلې، چې وروسته د (ادبيات څه دي؟) په کتاب کې راټولې او چاپ شوې.

په دغه کتاب کې د ادبياتو په اړه تيوريک بحث شوی دی. د سارتر د دغه اثر له محتوا او نظرياتي اړخ سره ځينې کره‌کتونکي ډېر موافق نه‌دي، خو په هغه کې د سارتر د افکارو ژورتيا، د معلوماتو پراختيا او د سبک ښکلا د ټولو له خوا د منلو او ستايلو وړ دي.

سارتر د دغه کتاب او نورو مقالو له لارې، تر هر چا زيات د ليکوال د مسئوليت، رسالت او ژمنتوب په باب خبرې کړې دي. د افغان ليکوال او کره‌کتونکي محمداکبر کرگر په اند: (نوموړی له دويمې نړيوالې جگړې وروسته په روښانفکره ټولنو کې د ادبي تعهد او مسئوليت مسئله وغځوله او د دې لپاره چې هغه ته فلسفي بستر ورکړي، د «ادبيات څه دي؟» اثر يې وليکه. نوموړی په خپل اثر کې آزادي، عمل او مسئوليت سره برابر بولي. د هغه په نظر ليکوال څرنگه عمل کوي؟ هغه په ځواب کې وايي، چې د ليکلو له لارې عمل کوي او نړۍ او چاپېريال بدلوي.)

سارتر ليکي: (په وږې نړۍ کې د ادبياتو مفهوم څه شی دی؟ ښايي ووايو چې ادبيات د اخلاقو په څېر کُليت او ټوليز کېدو ته اړتيا لري. که ليکوال غواړي لوستونکي يې ډېر وي، ښايي د خلکو په کتار کې ودرېږي، يعنې د دوو ميلياردو وږيو خلکو په کتار کې، که نه د يوې ځانگړې او ممتازې طبقې په خدمت کې به وي او له همدې ممتازې طبقې سره به په زبېښاک کې شريک وي.)

ketabton.com - The Digital Library



د سارتر او په مجموع کې د ټولو وجودي ليکوالو سبک او ادبي تګلارې که د نړۍ په کچه سل په سلو کې پلويان نه دي پيدا کړي، لږ تر لږه په بېلابېلو هېوادونو، ژبو او کلتورونو کې يې ځينې اديبان او روښانفکران اغېزمن کړي دي، حتی که چېرې موږ د افغانستان معاصر ادب ته پام وکړو، داسې اديبان او روښانفکران لرو چې د سارتر او نورو ايګزيستېنشياليستو ليکوالو له آثارو او افکارو سره اشنا وو او لږ او ډېر يې ترې اغېز مونډلی دی. د ساري په توګه زموږ په هېواد کې (پوهاند ډاکتر بهأالدين مجروح) هغه څوک و، چې په فلسفه پوهېده، اروايوهنيز او فلسفي آثارو يې ليکلي او د خپل شهکار اثر (ځانځاني ښامار) پېل يې د سارتر له يوې کيسې او يوې جملې څخه کړی دی.

د پوهاند مجروح د دغه اثر پيل داسې دی:

(داسې وايي
چېرته لرې يو لوی ښار و
په دې ښار کې اوسېده يو لوی سړی هم
د ولس په هوښيارانو کې هوښيار و
سوچ وهل، فکر کول يې کسب او کار و
د جهان او ژوند رمزونه لټول ده
په دفترو، په اوراقو، کتابو کې
يوه ورځ د ورځ يې دا شان ته بيان کړو
تر کوم وخته چې دا ځمکه، دا اسمان وي
تل د هر انسان دوزخ به بل انسان وي.)

په پورته کرښو کې له (لوی سړي) څخه د پوهاند مجروح موخه (سارتر) دی او يوه ورځ يې چې کوم بيان کړی، هغه هم د سارتر وينا ده. د پښتو ادب د تکړه شاعر او ليکوال عبدالغفور لېوال په اند: (مجروح غواړي خپل تيزس او فلسفي وړانديز د ايګزيستېنشياليزم د نامتو استازي ژان پُل سارتر د مشهورې مقولې «يو انسان د بل انسان دوزخ دی» په وړاندې ودروي. مجروح ټينګار کوي، چې د انسان لپاره د هغه خپل نفس دوزخ دی، له دې ځايه وروسته شاعر د خپل وړاندې شوي تيزس د زبات

ketabton.com - The Digital Library



لپاره د افسانې په چوکاټ کې د ننه د انسان اروایي منځ ته ننوځي. نفس د یوه ښامار په توګه تمثیلوي او دا ښیي چې دغه ښامار څنګه د شعور او تحت‌الشعور په ساحه کې منځ ته راځي، وده کوي او دومره پر مخ ځي، چې خپله د شعور څښتن «انساني اروا» په ښامار بدلوي.)

مونږ که د پښتو ادب په لمن کې په کوم بل فلسفي لیکوال یا شاعر پسې سترګې اړوو، نو تر ټولو لومړی مو (غني خان) تر سترګو کېږي. د پښتو ادب څېړونکو غني خان په بنسټیز ډول د فکر شاعر بللی دی او هغه هم د فلسفي فکر. غني خان خپل فلسفي افکار د شعر په چوکاټ کې وړاندې کړي دي. د ده د فلسفي فکر مرکز هم د ایګزیستېنشیالیزم په ډول انسان دی او په انسان کې د انساني ژوند او مرګ فلسفه.

غني خان هم پر خپلو اسلامي او پښتني ارزښتونو پوهېده او هم پر ایګزیستېنشیالیزم. همدا لامل دی چې د ده شعر که هر څومره ایګزیستېنشیالیزم ته نږدې هم شي، بیا هم د خپلې ټولنې رنګ او بوی نه‌بایلي.

مونږ د دغه پیاوړي فلسفي شاعر ځینې شعرونه او خبرې، د ایګزیستېنشیالیزم د نومیالي استازي (ژان پُل سارتر) له ځینې افکارو او ویناو سره د موضوع د نږدېوالي له مخې په پرتلیزه توګه راوړو.

سارتر وایي:

(انسان د انتخاب حق لري او کولی شي له امکاناتو څخه په استفادې خپل ځان له خپلو هدفونو او ارمانونو سره عیار کړي.)

(یوازې زه یم چې د یوه شي ښه‌والی او بدوالی څرګندوم.)

(د بشر جوړوونکي، په خپله بشر دی.)

غني خان وایي:

(او ما ځان له ساز کړ په خپله جوړ
د خپل خوب نه، د خیال نه
د خپل غم نه، د مستۍ نه
د خپل تول نه، د خپل تال نه
او ما ځان له، یار کړ په خپله جوړ
د خپل سوز نه، د ارمان نه

ketabton.com - The Digital Library



د خوبونو نه، د رنګونو نه
د ګلونو نه، د خزان نه
او ما ځان له، غم کړ په خپله جوړ
د خندا نه، د خوشحالۍ نه
د وصال نه، د خمار نه...
او ما ځان له ژوند کړ په خپله جوړ
د امید نه، د رڼا نه
د تیارو نه، د ښېرو نه
د غمو نه، د سودا نه
او ما ځان له، مرګ کړ په خپله جوړ
د ژوندون نه، د مستۍ نه
د سپرلي نه، د ژېړو ګلونو نه
د لالونو نه، د ځوانۍ نه)

سارتر وايي:

(هستي او نېستي «وجود او عدم» د يو او بل په مقابل کې دوې مترادفې خبرې دي او په ښکاره يو له بل سره مخالفې دي؛ خو داسې نه‌ده، ځکه نيستي او نشتوالی د هستي او شته‌والي په وجود کې ده. که چېرې هستي نه‌وای، نېستي به هم منځ ته نه‌وای راغلې.)

غني وايي:

(مرګ او زندګي يوه ده، غم او خوشحالي يوه
ژوند چې چېرته نه‌وي، مرګی چا هلته ليدلی)

سارتر وايي:

(انسان په دې نړۍ کې تنها او لا چاره دی، بېګانه او پردی دی، خو که چېرې خپل حالت ته اندېښمن او مضطرب شي، نو د لاچارۍ او بېګانګۍ احساس يې نور هم زياتېږي.)

غني وايي:

(وروره دی، دا جهان، يو مکان د فنا

ketabton.com - The Digital Library



ورته مه کړه ژړا، ورته مه کړه ژړا
دی یو خوب، دا ژوندون، دا ځواني یوه نشا
ولې ځې په ژړا، ولې ځې په ژاړې؟)

سارتر وايي:

(دوزخ یعنې تاسې
جهنم یعنې د تاسې او یا نورو خلکو حضور...
انسان، انسان ته دوزخ دی
او هر انسان ته، بل انسان جهنم دی.)

غني وايي:

(دې گوگل کې مې د ننه
هم دوزخ دی، هم جنت...
دې گوگل کې مې د ننه
هم دنیا ده، هم عقبا
دا هم لاره، هم کاروان دی
هم تدبیر دی، هم قسمت
پروت په دې کې ټول داستان دی
د جزا او د سزا)

سارتر وايي:

(لیکوال او شاعر دواړه له ژبې سره، سروکار لري، خو د دواړو چلند بېل دی... دا سمه ده چې نثر لیکونکی یې هم لیکي او شاعر یې هم لیکي، خو د دوی د لیکلو تر منځ توپیر موجود دی. گډه وجه یې یوازې د لاس خوځښت دی، چې کلمات پرې لیکي. پر دې سربېره د یوه نړۍ له بل سره جلا ده، هغه څه چې د یوه لپاره رښتوني دي، د بل لپاره نهدي...)

غني وايي:

(زما خیال دی چې په ژوند کې د یوه شاعر مرام او هدف له یوه مبلغ او ملا سره بېخي جلا او بېل شان دی... یو شاعر باید د فکر او خیال، قول او

ketabton.com - The Digital Library



عمل په ډګر کې د ښکلا او ښایست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کړي، چې هغه د خپلو خواهشاتو له ګندګیو څخه خپل مخ د باغي عدن خوا ته واړوي. دا کار په پند او نصیحت نه‌شي کېدای، زما هغه خلک بد اېسي، چې ما ته نصیحتونه کوي.)

سارتر وایي:

(د شعر حکم یو ډول لوبه ده، چې هر چا بایلوه، نو ګټونکی يې شو. اصیل شاعر هغه دی چې د دې لپاره چې ګټونکی شي، ماته که د مرګ په بیه هم وي مني يې... موږ انسان ته په تراژدیک لید ګورو، تراژدیک لید او شاعرانه لید سره یو شی دي.)

غني وایي:

(تر کومه چې په ژوند کې د عذاب او مصیبت، درد او غم تعلق دی، نو زما خیال دی، د ښکلا د تخلیق لپاره د هغې قسمت ادا کول لازم دي. هر یو شاعر او فن کار دا بوږنوونکي قسمت ادا کوي او په دوی کې یو څو کسان خوشبخته وي، چې د ښکلا او دلربايۍ یو څاڅکی راپیدا کړي. د هنر، ښکلا او دلربايۍ د منځ ته راوړو لپاره ته باید چې د ژوند در او غم ته ورمخامخ شې.)

سارتر وایي:

(د شاعر هدف دا نه‌دی چې ماته او شکست نړیوال مسیر ته داخل کړي. حقیقت دا دی چې د هغه سترګې یوازې ماته او تباهي ویني. شاعر یوازې د ماتې سندره نه‌وایي، بلکې د ماتې په لید سره له هغه تېرېږي او په بل اړخ کې د انسان له ماتې خوړونکي ذات سره مخامخ کېږي او په خپله یوه شېبه کې د انسانیت د ژوندانه یوه شېبه احساسوي.)

غني وایي:

(شاعر د خپل ماحول غلام وي. د ده مثال د یوه داسې حیوان دی چې د هغو پر وجود څرمن نه‌وي؛ که هسې لږ د اغزي څوکه وروړې، نو په کړیکو ځان وژني او که هسې لږ آرام شي، نو له خوشحالۍ نه بې‌هوشه کېږي.)

ketabton.com - The Digital Library



د پښتو معاصر ادب په هغو شاعرانو کې چې اشعار یې فلسفي رنګونه لري، یو بل نوم (هاشم بابر) دی. بابر د پښتو شاعرۍ په نړۍ کې د ځانګړي سبک او اسلوب خاوند دی. د ده په شاعرۍ باندې د غني خان غونډې د فلسفې رنګ راخپور دی. ځینو څېړونکو هاشم بابر ته په پښتو ادب کې د وجودي فلسفې د استازي خطاب کړی دی. غني خان د هاشم بابر په یوې شعري ټولګې (سیورى) باندې سریزه کښلې. نوموړي د دغې سریزې په یوه برخه کې ویلي: (که په یورپ کې سارتر د دې فلسفې پیغمبر دی، نو په پښتنو کې یې هاشم بابر خلیفه دی.)

په خپله هاشم بابر د غني خان د دغې وینا په هکله ویلي:

(د سارتر فلسفه او ادبي لیکونه، ما د غني‌خان د دې لیک نه پس لوستي دي. کېدی شي چې خپلې زمانې موږ دواړه په یوه غم اخته کړي یو.)

هاشم بابر بل ځای د خپل ځان او خپل شعر په اړه ویلي:

(زه له فناه ډېر وېرېږم او زما په شاعرۍ کې د فناه وېره ډېره غالبه ده.)

د بابر دا خبره د (البېرټ کامو) له دغې وینا سره اړخ لګوي چې وایي:

(د انسان عظمت په دې کې دی، چې پوهېږي مړ به شي.)

دغه شان سارتر هم ویلي:

(له مرګ او لوړې څخه په دایمي توګه د خطر احساس، انسان ته د ژوند حق او معنا ورپېژني.)

هاشم بابر له خپل پیدایښت څخه د راپیدا شویو وېرو تصویر د خپله شعر په څو کرښو کې داسې راوړي:

(دا وېرې ترهې چې په موږ اوسېږي
دغه جوړ ځکه چې بې ځایه یو
نه مېلمانه یو، نه پړاو لرو
پښې په ګړنګونو ږدو
د دې ګنګوسو نه به خلاص شو څنګه؟
څنګه به بچ شو؟)

ketabton.com - The Digital Library



**او بل ځای وايي:**

**(نه لاس وهلی شم، نه پښې، لوخـړو نغښتی یمه**
**مرگی په ژوند وینم، نصیب داسې راوستی یمه)**

**سارتر وايي:**

**(انسان د خپل وجود په جال کې نښتی دی او په بېخي بې‌مطلبه دنیا کې اوسي،**
**خو له دې سره سره له خپل وجود څخه تېښته نه‌شي کولی.)**

**خو هاشم بابر له سارتر څخه په دغه ځای کې لاره بېلوي:**

**(یو لوی جـهان راکې بې‌تابه اوسي**
**خدایه! څه دې له معامله خو وکړه)**

**او یا:**

**(زه هاشم په ځان کې شته هسې اوسېږم**
**چې زخمونه مې یې سره دي له رخساره)**

ketabton.com - The Digital Library

# د سارتر ویناوې

ketabton.com - The Digital Library



**کله چې يوازې شو**
**د ملګري په لټون کې وو**
**کله چې ملګري پيدا کړو**
**بيا يې د عيبونو په لټون کې وو**
**او کله چې يې له لاسه ورکړو**
**بيا يې په خاطرو او يادونو پسې سترې وو.**

***

**يو انسان د نورو انسانانو ثمره ده او په همغه اندازه ارزښت لري، لکه نور انسانان چې يې لري.**

***

**شله‌ګي چې تر آزاره ونه‌رسېږي، پاروَنه او پوهوَنه ده، خو که چېرې د آزار تر بريده ورسېږه، شکنجه ده.**

***

**زه له هغو قربانيانو څخه کرکه کوم، چې خپلو محکومونکو ته درناوی لري.**

***

**له ټولو سره مې وفا وکړه او له هېچا څخه مې د وفا تمه ونه‌کړه، په دې ډول ډېر آرام وم.**

***

**نړۍ د بې‌عدالتۍ سيمه ده، که يې منې، په جرم کې ورسره شريکېږې او که يې بدلوې، په جلاد باندې بدلېږې.**

***

**هغه ايمان چې په يوه وسوسه او يوه زمزمه ضعيف شي، ايمان نه، بلکې يو خيال او سراب دی.**

***

ketabton.com - The Digital Library



شايد لويه ستونزه همدا وي، هغه ژوند چې موږ پېژانده، پای ته رسېدلی، خو تر اوسه داسې څوک نه‌شته چې پوه شي، ځای يې څه شي نيولی دی؟

* * *

کله ناکله بايد له خپله ځانه د يوازيتوب دېوال راچاپېره کړو، د دې لپاره نه چې نور له ځانه لرو کړو، د دې لپاره چې وگورو، څوک مو د ليدو لپاره دغه دېوال نړوي.

* * *

آزادي د انسان انتخاب نه‌دی؛ د انسان د وجود نه‌بېلېدونکې ځانگړنه ده.

* * *

شعور تش او بې‌موضوع موجوديت نه‌دی؛ هغه تل له يوه شي، فکر يا تجربې سره اړيکه لري.

* * *

آزادي د انتخاب له امکان سره تړلې ده، تر هغه چې انسان انتخاب کوي، د خپل وجود په جوړولو کې ونډه لري.

* * *

انسان کله ناکله ځان داسې قانع کوي چې گواکې هېڅ انتخاب نه‌لري، څو له مسؤليت څخه وتښتي.

* * *

آزادي دا ده چې له هغه څه سره څه کوې چې له تا سره شوي دي.

* * *

انسان خپله آزادي دی.

* * *

انتخاب کول د يو شي د ارزښت تأييدولو په معنا هم دی.

* * *

انسان له خپل اوسني حالت ورهاخوا د راتلونکي امکان هم دی.

ketabton.com - The Digital Library



**انسان خپل تېر وخت نهشي له منځه وړلی. تېر وخت د انسان برخه ده، خو انسان مجبور نهدی چې راتلونکی یې هم د تېر په څېر وي.**

* * *

**انسان یوازې د اوسني واقعیت مجموعه نهده؛ هغه تل د هغو امکاناتو پر لور متوجه وي چې لا نهدي رامنځ ته شوي.**

* * *

**د بل انسان نظر زموږ پر ځانپېژندنه اغېز کوي.کله چې بل انسان موږ ویني، موږ خپل ځان د هغه د نظر له زاویې هم احساسوو.**

**د بل انسان نظر موږ ته دا احساس راکوي چې موږ یوازې د خپل ځان د پاملرنې وړ نهیو، بلکې د بل چا د قضاوت موضوع هم یو.**

* * *

**شرم یوازې داخلي احساس نهدی؛ د بل انسان له حضور او نظر سره ژوره اړیکه لري.**

* * *

**انسان هر څه نهشي بدلولی، خو په رامنځ ته شوي حالت کې د خپل دریځ او عمل د ټاکلو امکان ورسره دی.**

* * *

**انسان د خپل ځان لپاره یوه نهبشپړېدونکې پروژه ده.**

* * *

**کله چې له شیانو سره عادت پرده پورته شي، نړۍ نااشنا او وېروونکې ښکاري.**

* * *

**موجودیت یوازې شتهوالی نهدی؛ کله ناکله د خپل شتهوالي درک انسان له ژورې ناکرارۍ سره مخ کوي.**

* * *

**انسان د خپلو ورځنیو عادتونو تر شا ډېر وخت له خپل اصلي وجود څخه پټ پاتې کېږي.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**کله چې انسان د ژوند معمولې معناوې له لاسه ورکړي، د موجودیت بې‌معنایي ورته بربنډېږي.**

* * *

**آزادي تل خوږه نه‌ده؛ کله ناکله د انتخاب بشپړه آزادي انسان له اضطراب سره مخ کوي.**

* * *

**تېر وخت هغه ډول منظم نه‌دی، لکه څنګه چې موږ يې په خپلو خاطرو کې جوړوو.**

* * *

**انسان ډېر ځله د دې لپاره کیسې او افسانې جوړوي چې خپل ژوند ته داسې معنا ورکړي چې په واقعیت کې هغسې معنا نه‌لري.**

* * *

**یوازیتوب انسان دې ته اړ کوي چې له خپل ځانه هغه پوښتنې وکړي چې د خلکو په منځ کې يې پټوي.**

* * *

**موږ عادت شوي یو چې نړۍ په نومونو او مفهومونو کې ووينو؛ خو کله چې دا پرده لرې شي، شیان په خپل خام موجودیت کې راڅرګندېږي.**

* * *

**انسان غواړي خپل ژوند د یوې منظمې کیسې په څېر ووینې، خو ژوند تل د کیسې په څېر منظم نه‌دی.**

* * *

**د شته‌والي تر ټولو ستره وېره دا ده چې پوه شو: هېڅ شی مجبور نه‌و چې شته وای.**

* * *

**کله ناکله یوه عادي ونه، ډبره یا بل داسې شی، د خپل ساده موجودیت له امله انسان ته له هر فلسفي کتاب څخه ډېره ژوره پوښتنه وړاندې کوي.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

مورِ نړۍ ته معنا ورکوو، بيا هېروو چې دا معنا مورِ خپله جوړه کړې ده.

* * *

انسان له خپل ځان څخه هغه وخت ډېر پردی کېږي چې خپل ژوند يوازې د نورو د تمو پر اساس تنظيم کړي.

* * *

د ژوند د معنا پوښتنه هغه وخت زياته درڅخه کېږي چې پخواني ځوابونه نور قناعت درنه‌کړي.

* * *

مينه، هنر، يادونه او خوبونه د انسان هڅې دي چې د بې‌نظمه شته‌والي په منځ کې د معنا سبب کېږي.

* * *

انسان له موجوديت او شته‌والي څخه نه‌شي تښتېدلای؛ يوازې له هغه سره د خپل چلند طريقه ټاکلی شي.

* * *

ما غوښتل ليکوال شم، ځکه فکر مې کاوه چې ليکل انسان له عادي ژوند څخه پورته کوي.

* * *

کتابونه راته داسې وو، لکه نړۍ چې په کوچنۍ بڼه پکې ساتل شوې وي.

* * *

ما په ماشومتوب کې د ليکوال کېدو خيال د خپل ځان د جوړولو له خيال سره يو کړ. ليکوال کېدل يوازې د ليکلو هنر نه‌و؛ دا زما لپاره د خپل وجود د معنا موندلو هڅه وه.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**ما ډېر وخت د خپل اصلي ځان پر ځای هغه انسان جوړاوه چې غوښتل مې نور يې وويني.**

* * *

**ادبيات انسان ته دا خيال وربښلی شي چې ګواکې هغه د تل پاتې‌کېدو لاره موندلې ده.**

* * *

**ما غوښتل د کلمو له لارې داسې نړۍ جوړه کړم چې زما تر مرګ وروسته هم پاتې شي.**

* * *

**ماشومتوب د انسان د ځان‌جوړونې لومړنی پړاو دی؛ هلته انسان د ځان لپاره د ژوند او نړۍ يوه کيسه جوړوي.**

* * *

**کلمې يوازې د نړۍ د بيان وسيلې نه‌دي؛ کله ناکله انسان د کلمو په وسيله خپل ځان هم جوړوي.**

* * *

**هغه ماشوم چې ځان يې د کتابونو له لارې پېژانده، ورو ورو پوه شو چې کتابونه هم د ژوند بديل نه‌شي کېدای.**

* * *

**ادبيات کولی شي موږ ته د حقيقت پر ځای د حقيقت يو ښکلی تصوير راکړي.**

* * *

**انسان کله ناکله د دې لپاره ليکل کوي چې له خپل عادي او محدود وجود څخه ځان وژغوري.**

* * *

**د ځان په اړه تر ټولو سخت حقيقت دا دی چې انسان خپله هغه کيسه هم نقد کړي چې د خپل ژوند لپاره يې جوړه کړې ده.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**زما د ماشومتوب خیالونه وروسته زما د فکري ژوند د نقد موضوع وګرځېدل.**

* * *

**د خپل ژوندلیک لیکل، په پای کې د خپل ځان له جوړې شوې افسانې سره مخامخ کېدل دي.**

* * *

**لیکل یوازې د ژبې کارول نه‌دي؛ لیکل له نړۍ او نورو انسانانو سره د اړیکو جوړول دي.**

* * *

**لیکوال هغه انسان دی چې د عمل یوه ځانګړې لار یې غوره کړې ده.**

* * *

**لیکل یوازې فکر او تأمل نه‌دی، بلکې عمل هم دی.**

* * *

**لیکل د آزادۍ د غوښتلو یوه ځانګړې لار ده. لیکوال غواړي د خپلو لیکنو له لارې د انسان د انتخاب او آزادۍ ساحه پراخه کړي.**

* * *

**ادبیات له ټولنیز مسؤلیت او انساني واقعیت څخه د تېښتې خوندي پناه‌ځای نه‌دی.**

* * *

**خبرې او لیکل بې‌اغېزې او بې‌مسئولیته شی نه‌دي؛ خبرې او لیکل دواړه د نړۍ پر وړاندې دریځ نیول دي.**

* * *

**له ځانه پوښتم: ایا د ځوانۍ د ژغورلو لار «هېرول» نه دي!؟**

* * *

**دا نړۍ له یوې ورځې زیاته نه‌ده، همدا یوه ورځ ده چې بیا بیا تکرارېږي. سهار هماغه ورځ پیلوو او ماښام یې پای ته رسوو.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**کله چې د يوې موضوع په ليکلو لاس پورې کوم، ناڅاپه پوهېږم چې پر دې موضوع څومره نه‌پوهېږم.**

* * *

**لاسونه مې تړلی شئ، پښې مې تړلی شئ، خوله مې تړلی شئ، خو ذهن مې هېڅکله نه‌شئ تړلی.**

* * *

**خلک د خپلو نيمګړتياو په اندازه نور خلک ځوروي.**

* * *

**مورږ د قهرمانانو رول لوبوو، ځکه چې ډارن يو.**
**د خيرمنو کسانو رول لوبوو، ځکه چې شرير يو.**
**د وژونکو کسانو رول لوبوو، ځکه د همنوعو د وژنې تنده لرو.**
**او له دې امله رول لوبوو، چې د زېږېدو له وخته درواغجن يو.**

* * *

**که په تنهايۍ کې د تنهايۍ احساس کوئ، نو له ځانه سره شخړه لرئ.**

* * *

**څوک چې د خپلې کينې زغم ونه‌لري، هغه هر هغه څه چې په ځان کې نه‌لري، په نورو کې يې بې‌ارزښته کوي.**

* * *

**زه هېڅ پوه نه‌شوم، چې ځواني يعنې څه؟ زه ان په ماشومتوب کې زړبودۍ ته ورسېدم.**

* * *

**نه ژوند کولی شو، نه مرګ ته زړه ښه کوو، نه يو بل ليدلی شو، نه له يو بل جلا کېدلی شو؛ له عجيب زړه تنګون سره مخ يو!**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**د مایوسۍ په بل اړخ کې د یوه نوي ژوند پیل خښ وي.**

* * *

**له ژونده مې چې هر څه غوښتل، رایې کړل. خو وروسته یې پوه کړم چې دا شی د غوښتلو نه‌وو.**

* * *

**ارزښت له هغې معنا پرته بل څه نه‌دی چې تاسې یې یو څه ته ورکوئ.**

* * *

**په نړۍ کې ډېر داسې کسان شته چې په دوزخ کې اوسي، ځکه سخت یې د نورو په قضاوتونو پورې ځان تړلی.**

* * *

**ژمنتیا او تعهد په الفاظو کې نه، په عمل کې باید ثابت شي.**

* * *

**تعهد یو عمل دی، نه یوه خبره.**

* * *

**داسې وحشتناک یوازیتوب مې احساساوه، چې آن د ځان‌وژنې نیت مې کړی و. یوازیني شي چې له ځان‌وژنې یې راګرځولم، دا و، چې فکر مې کاوه، پر مرګ به مې هېڅوک خفه نه‌شي او تر ژوندانه به په مرګ ډېر یوازې وم!**

* * *

**کله چې انسان هر شی، د سپېڅلي په نوم غوره کړي، زه یې اخلاقي بنسټ بولم.**

* * *

**هغه څوک چې په خپله ترهه او اندېښنه نه‌پوهېږي چې ستونزه یې څه ده؛ هغه ترهه او اندېښنه منفي او مبتذله ده.**

* * *

**زموږ خوی، چلند او کړه‌وړه؛ زموږ په فکر پورې اړه لري. هېڅوک نه‌شي کولی، په موږ کې زموږ د فکر خلاف چلند، خوی او کړه‌وړه رامنځ ته کړي.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

سیاست یعنې ځان لوړ ګڼل او په نورو خلکو خپل دغه باور منل.

* * *

کله چې موږ وایو؛ بشر په خپل انتخاب کې آزاد دی؛ موخه مو دا ده چې له موږ څخه هر یو، هر هغه څه چې غواړو یې، په آزادانه ډول انتخابولی شو.

* * *

خبره دا نه‌ده چې یو شی له منځه ځي؛ کوم څه چې له منځه ځي، د هغو یاد هم له منځه ځي.

* * *

کلمې او خبرې‌اترې تر هغې چې موږ یې ګڼو، زیاتې ځواکمنې او خاینې دي.

* * *

زه هغه وخت آزاد یم چې د نړۍ ټول وګړي آزاد وي؛ څو چې په نړۍ کې یو کس هم اسیر وي، آزادي بې‌معنا ده.

* * *

هغه څه چې بشر ته د ژوند کولو امکان وربښي، عمل دی.

* * *

ادبیات بنایي ونه‌شي کړای، د جنګ او وینې تویولو مخه ونیسي. بنایي یو ماشوم هم له مرګه ونه‌شي ژغورلی، مګر داسې څه کولی شي چې نړۍ وربانديې فکر وکړي.

* * *

انسان د خپل ځان په ساتلو او پاللو باندې مجبور دی.

* * *

ترڅو چې په بشپړ ډول ډاډمن نه‌شم، هیله او اُمید له لاسه نه‌ورکوم.

* * *

هغه څه چې له یو سړي څخه سست‌عنصره انسان جوړوي، له عمل څخه تېښته او تسلیمېدل دي.

ketabton.com - The Digital Library



* * *

بشر تر هغه وخت پورې بې‌ارزښته دی، ترڅو یې خپلو پلانونو او فکرونو ته واقعیت نه‌وي ببښلی.

* * *

انسان یو تېری کوونکی ژوی دی او د هر شي چې علاقه‌من شي، پر هغو باندې یرغل کوي. د انسان زړه د یرغل او تجاوز ټاټوبی دی او هره علاقه یې له یرغلیز خویه پیروي کوي.

* * *

که چېرې نه‌شې کولی، له پسرلي خوند واخلې، دا د دې دلیل نه‌شي کېدای، چې نور خلک دې هم ترې خوند وانه‌خلي.

* * *

کله چې هیله او اُمید مري، کله چې د هیلې او اُمید کوچینی امکان هم له لاسه ورکوو، نو د هیلو او اُمیدونو څخه تشه فضا په خیالونو، ماشومانه فکرونو او له حقیقته په لرې کیسو باندې ډکوو او دا ټول د خپل ژوند د دوام لپاره کوو.

* * *

هېڅکله په هغه لار مه‌ځه، چې پای یې درته معلوم نه‌وي.

* * *

که تفاهم او پوهاوی نه‌وای، دوستي منځ ته راتله، خو مینه او محبت نه.

* * *

کله چې د انسان کومه اړتیا رفعه شي، بیا نو داسې فکر کوي، لکه هغه اړتیا چې نور هېڅ مفهوم نه‌لري.

* * *

د ژوند د جګړې پر وړاندې، ماشومان او سپین‌ږیري په یوه لیکه کې ولاړ دي.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**انسان هغه مهال له خپله ځانه د رضایت احساس کوي، چې کله کوم ښه کار ترسره کوي.**

* * *

**په خوب او خوراک کې اندازه او اعتدال په پام کې نیول، له ژوند څخه د خوند اخیستو بنسټ جوړوي.**

* * *

**ټول ښکلي او منلي شیان چې وینې یې، ذهن ته یې وسپاره؛ څو د تل لپاره له تاسو سره پاتې شي. ځکه کوم وخت چې دا شیان نهوي او یا نهشته شي، ته به یې وینې او له تا څخه به نهوي ورک شوي.**

* * *

**موږ تل باید اخلاق جوړ کړو او ارزښتونه وپنځوو.**

* * *

**ټول وایي هیله او ارمان د ځوانانو لپاره ګناه نهده، خو زه وایم چې ان د زړو او سپینږیرو لپاره هم نهده.**

* * *

**هېڅ داسې دقت نهشته چې ګټه او بریا دې ونهلري.**

* * *

**انسان په دغې نړۍ کې یو نابلل شوي مېلمه ته ورته دی چې عدم او نېستي یې تر څنګ قدم وهي او د برخلیک سیوری یې هره شېبه پر سر تاوېږي. موږ یوازې د خپل ژوند، بقا او شتهوالي پیروي کوو او نوره نړۍ راته بېمفهومه ښکاري.**

* * *

**بشر د ارزښتونو منځ ته راوړونکی دی.**

* * *

**تاریخ کوم خودکاره او بېموټروانه ماشین نهدی. تاریخ په یوازې سر استقلال نهلري، تاریخ هماغه شی دی او هماغه شی کېږي، لکه موږ یې چې غواړو.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

رقابت پر خپل ځای او رفاقت پر خپل. دا دواړه یو د بل مانع نه‌دي.

* * *

له اسمانه ځمکې ته اورېدل، عجیبه نه‌دي. له ځمکې اسمان ته اورېدل، عجیبه دي.

* * *

نیکي زموږ د زړه په ژورو کې او حقیقت زموږ د ادراکو په مبهمو زاویو کې ځای لري.

* * *

له مرګ او لوږې څخه په دایمي توګه د خطر احساس، انسان ته د ژوند حق او معنا ورپېژني.

* * *

هر څومره چې ژوند سختېږي، هغومره اسانېږي هم.

* * *

خلک له هر شي څخه خبرې کوي، په ځانګړي توګه له هغه شي څخه زیاتې خبرې کوي، چې نه وربانديې پوهېږي.

* * *

ایا هغه څوک چې اطاعت او ګوښه‌ګیري د پرمختګ لامل بولي او په ژوند کې د هېڅا ځواب نه‌شي ویلای، د آزادۍ خوی په خپل ځان کې نه‌وژني!؟

* * *

هغه څوک چې ډېره بیړه لري، ښایي ژر ورسېږي، خو له ډېرې ستومانۍ سره.

* * *

بشر باید هره شېبه خپل ځان جوړ کړي.

* * *

ارزښت له دې پرته بل څه نه‌دی، دا موږ یې چې په ارزښت مو منلی دی او هغه ته معنا ورکوو.

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**ښايي ستاسې (نن) په (پرون) بدل شي، مگر امکان لري، ستاسې (سبا) هېڅکله (نن) نه‌شي.**

* * *

**که چېرې غواړئ د منډې وهلو له لارې ځانوژنه وکړئ، لومړی باید په ښه ډول منډې وهل زده کړئ.**

* * *

**ستا د نن هلې‌ځلې، ستا د اولادونو او هېواد د سبانۍ نېکمرغۍ ضامن دي.**

* * *

**انسان د هغه څه مجموعه نه‌ده، چې دی يې لري، د هغه څه مجموعه هم ده، چې لا تر اوسه يې نه‌لري، خو د درلودلو توان او ارمان يې لري.**

* * *

**انسان باید دا عادت جوړ کړي چې په لږ شي هم ځان خوشحاله کړای شي. که چېرې لږه غوښتنه ولرئ، په لږو شیانو خوشحاله کېږئ، هرڅومره چې خپلې اړتیاوې راکمې کړئ، هغومره به مو د ژوند چارې سمې شي.**

* * *

**بشر خپل هدف د ځان د ننه نه، بلکې له ځانه د باندې لټوي.**

* * *

**له عمل او تصمیم پرته، بشر هېڅوک دی.**

* * *

**قلم چې هر ډول وغواړې خوځېږي، اصلي خبره دا ده چې څنگه، د چا لپاره او څه ډول يې خوځوې؟**

* * *

**دوزخ له کومه ځایه پیل کېږي؟**

ketabton.com - The Digital Library



له غلامۍ او اسارت څخه. له جنګ او وینې تویولو څخه او له هغو قوانینو څخه چې له مورېږ څخه آزادي او خپلواکي تروړي.

* * *

استعداد ذاتي او غریزه‌يي شی دی، مګر د ژوندانه په اوږدو کې د هغو زیاتونه او پاروَنه ممکنه ده.

* * *

که چېرې هڅه او کوښښ نه‌وای، بشر به د تمدن څرک نه‌وای لیدلی.

* * *

نه غواړم تا ته ووایم چې څومره مینه درسره لرم؛ مینه داسې څه نه‌ده، چې په ویلو څرګنده شي.

* * *

انسان نه‌شي کولای، تل نرم واوسي، کله ناکله د بغاوت او تندۍ شېبې هم لري.

* * *

زمونږ ارزښت په دې کې دی چې په ژوند کې څه ډول انتخاب کوو.

* * *

بشر د خپلو اعمالو له مجموعې او د خپل ژوند له کشمکش پرته بل څه نه‌دی.

* * *

په ادبیاتو کې دا هیله مه‌کوئ، چې تل دې یوه کلمه، یوه معنا ورکړي.

* * *

په نړۍ کې بشپړه نېکمرغي نه‌شته ده، خو ځینې وخت یې نښې‌نښانې رامعلومېږي.

* * *

که چېرې کومه مینه او محبت ځان د انسان په عمل او چلند کې راڅرګند نه‌شي کړای، هغو ته مینه او محبت نه‌ویل کېږي.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**بشر په لومړي سر کې په خپله رابشپړ شوی موجود نه‌دی، بلکې د خپلو اخلاقو په ټاکلو او بشپړولو سره خپل ځان جوړوي.**

* * *

**هېڅوک نړۍ ته اتل نه‌راځي.**

* * *

**د هنر او اخلاقو تر منځ يو شريک ټکی دا دی چې دواړه زموږ د نوښت او ابداع له مخې منځ ته راځي. په نړۍ کې زموږ د عمل او عقل له دخالت پرته نه اخلاق منځ ته راځي او نه هنر.**

* * *

**بشر چې هر مهال نړۍ ته راځي، له داسې راتلونکي سره مخامخ دی، چې هغه بايد په خپله د ځان لپاره وټاکي.**

* * *

**فلسفه د پوهېدلو وړ شی ده، نه د يادولو.**

* * *

**بشر محکوم دی، ځکه په خپله نه دی راپيدا شوی؛ خو په عين حال کې آزاد هم دی، ځکه له کومه وخته يې چې د ځمکې پر مخ گام ايښی، د ټولو هغو کارونو مسئول دی چې دی يې ترسره کوي.**

* * *

**بشر يو داسې موجود دی، چې تر بل هر څه زيات خپل راتلونکي ته تلوسه لري او يوازينی موجود دی چې په دې پوهېږي چې زه راتلونکی لرم.**

* * *

**کله چې موږ وايو؛ بشر د خپل ځان مسئول دی، موخه مو دا نه‌ده چې گواکې انسان يوازې د خپل ځانگړي فرديت مسئول دی، بلکې دا ده چې هر فرد د بشريت د ټولو افرادو پر وړاندې مسئوليت لري.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



ستاسې فکرونه تر هغه وخت پورې حقیقت نه‌بلل کیږي، څو مو په عمل باندې لاس پورې کړی نه‌وي.

* * *

د بشر مفهوم یوازې هغه نه‌دی چې په خپل ذهن کې یې لري، بلکې هغه دی چې له خپل ځانه یې غواړي.

* * *

انسان هغه څه دی، چې دی یې له خپله ځانه جوړوي.

* * *

د یوه لیوني خبرې د هغه د موقعیت په اړه پوچې دي، په کوم کې چې دی دی، مگر په خپله د هغه د لیونتوب په برخه کې پوچې نه‌دی.

* * *

هیڅوک نه‌شي ویلی، چې د نقاشۍ د هنر راتلونکی به څه ډول وي او په هیڅکله په هغې تابلو باندې قضاوت نه‌شي کیدای، چې تر اوسه لا انځور شوې نه‌ده.

* * *

تاسې آزاد یئ، د آزادۍ لار ځان ته په خپله راجوړه کړئ.

* * *

کله چې موږ وایو؛ بشر په خپل انتخاب او غوراوي کې آزاد دی. مطلب مو دا دی چې له موږ څخه هر یو په پوره خپلواکۍ ځان انتخابوو او ځرگندوو. بشر هماغه څه بنیي، چې غوره کړي یې دي.

* * *

کله چې زموږ مینه له حیواناتو سره تر حد واوړي، غیر انساني بڼه غوره کوي.

* * *

د نړۍ ټول دار او مدار داسې دی چې گویا ټولو انسانانو د یو او بل په کارونو کې سترگې گنډلې دي او هر یو خپله طریقه او سلیقه له یو او بله تنظیموي.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**زما په وجود کې داسې زيات په کار نه‌اچول شوي استعدادونه، ذوقونه او امکانات شته چې زما د ژوند ارزښت په هغو پورې تړلی دی، نه په هغو معمولي کارونو پورې چې په ژوند کې يې ترسره کوم.**

* * *

**انسان هغه مهال خپل تصوير په لاس راوړي، چې کله په جدي او مسئولانه توګه له ژوند سره مخامخ شي؛ انسان له دغه تصوير پرته بل څه نه‌دی.**

* * *

**بشر له هغه شي پرته بل څه نه‌دی، کوم څه چې ده له ځانه جوړ کړی دی.**

* * *

**حتی اخلاص او صداقت که له فکر سره ملګری نه‌وي، بې‌حاصله دی.**

* * *

**يوازې انسان هغه اروا ده چې د سپکاوي او تهمت پر وړاندې د دفاع لوری نيسي او په مقاومت لاس پورې کوي.**

* * *

**له شک پرته به زما د ژوند پای هم د هغه د پيل په څېر وي. ژوند مې د کتاب په پرانيستلو پيل کړ او ښايي د کتاب په بندلو پای ته ورسېږي.**

* * *

**هغه مهال چې تاسې (تلپاتې‌والی) يکې له لاسه ورکوی، ژوند مو هم خپله معنا له لاسه ورکوي.**

* * *

**ايا ماشومان هغه هېنداري نه‌دي چې په هغو کې هم د مرګ څېره وليدای شو؟**

* * *

**مونږ آزادي د آزادۍ لپاره غواړو او زمونږ دغه غوښتنه په هر وخت کې شوني ده.**

* * *

**کله چې بډايان جګړه جوړوي، دا بېوزلان دي چې ژوند يکې له لاسه ورکوي.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

سست‌عنصره شخص د هغه عمل او چلند له مخې پېژندل کېږي چې دی يې هر وخت ترسره کوي. هغه څه چې خلک يې په مبهم او ناڅرګند ډول محسوسوي، د هغوی د وېرې او ډار لامل کېږي. همدا لامل دی چې کله موږ د سست‌عنصره شخص يادونه کوو، د همدغې سست‌عنصرۍ او وېرې په سبب يې مقصر بولو.

* * *

په مينه کې يو جمع يو، ېبرته يو کېږي.

* * *

موږ يو او بل ته ورته يو، خو په حقيقت کې دغه ورته‌والی د ځان نيمګړتيا ګڼو.

* * *

کله چې بدمرغي او ناهيلي له حده واوړي، انسان ته د نېکمرغۍ حقيقت ورمعلوموي او د نړۍ پر وړاندې يې څواکمنوي.

* * *

چټلۍ په اوبو کې د لاندې لوېږي.

* * *

موږ چې کله د آزادۍ چيغې وهو، هدف مو دا دی چې دغه آزادي په نورو خلکو پورې اړه لري او همداسې د نورو خلکو آزادي، زموږ په آزادۍ پورې تړلې ده.

* * *

موږ د هغو صفاتو او انګېزو تابع يو، چې د هغو نښې‌نښانې په ژور ډول زموږ په زړه او ذهن کې ځان څرګندوي.

* * *

که غواړې په ښه ډول ژوندی پاتې شې، نو په خپل ځان کې ځينې هيلې او غوښتنې ووژنه.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



په شعر کې کلمات هغسې نه‌کارول کېږي، لکه په نثر کې چې کارول کېږي. په شعر کې له کلماتو څخه استفاده نه‌کېږي، بلکې هغو ته استفاده ورکول کېږي... شاعر له ژبې څخه د وسیلې په توګه کار اخیستل پرېږدي او شاعرانه چلند ورسره کوي.

* * *

شعر د انځورګرۍ، مجسمه‌جوړونې او موزیک جوړولو غوندې دی، په شعر کې کلمات د نښو نښانو معنا او دنده نه‌لري، بلکې د یو (څیز او شي) په توګه منل کېږي.

* * *

ژوند له ګډوډۍ او اضطراب پرته بل څه نه‌دی.

* * *

ډېر وخت کېږي چې موږ مړه شوي یو، بس له هماغه وخته چې نور د چا په درد نه خورو.

* * *

انسان د خپل وجود په جال کې نښتی دی او په یوه بېخي بې‌مطلبه دنیا کې اوسي، خو له دې سره سره له خپل وجود څخه تېښته نه‌شي کولی.

* * *

جهان د احتمالاتو ټاټوبی دی او له دې کبله آزاد دی، د راتلونکي دروازه خلاصه ده او تېر هېر دی؛ نو ټول شیان آزاد دي. دغه بڼې، هغه ښار او په خپله زه.

* * *

هېڅ شی تر زړه اسانه نه‌ماتېږي.

* * *

زه هېڅکله خپلو باطني افکارو له نورو خلکو څخه د برترۍ احساس ته نه‌یم هڅولی، له دې مخې له امکاناتو او وسایلو څخه مې پرته خپل ځان تلپاتې‌توب ته سپارلی دی.

* * *

په مرګ یو محکوم شوی انسان پوهېږي چې د ده لپاره ټول شیان مجاز دي.

ketabton.com - The Digital Library



* * *

دا زما يو مجبوريت دی، کله چې خپله آزادي غواړم، نو بايد د نورو آزادي هم وغواړم.

* * *

موږ په داسې ډول پيدا شوي يو، سره له دې چې زيات رنځونه او ستونزې پر موږ راتپل شوې، بيا هم غواړو خپل رول په نړۍ کې په ښه ډول ادا کړو.

* * *

د هستۍ او نېستۍ تر منځ يوه مرموزه اړيکه شته.

* * *

انسان تل بايلوونکی دی، يوازې ناپوهان فکر کوي چې بايلوونکی نه‌دی.

* * *

يو پوچ انسان هېڅکله د ځانوژنې اقدام نه‌کوي، بلکې غواړي ژوند وکړي او پرته له دې چې سبا ولري، پرته له دې چې هيله او اُميد ولري او پرته له دې چې خپل کار ته تسليم شي، غواړي ژوندی پاتې شي. پوچ انسان خپل وجود د طغيان او سرکشۍ په حال کې تائيدوي، مرگ ته په بې‌تفاوته نظر گوري او بالاخره همدغه جادو د نوموړي په وجود کې خپلواکي پوکي.

* * *

ناروغي کله ناکله کوم ژر تېرېدونکی بحران نه‌وي، په خپله زما د وجود يوه برخه شي او په خپله (زه) شي.

* * *

کله چې موږ د سپکاوي او حقارت پر وړاندې نه‌درېږو او تسليمي غوره کوو، ايا له خپل ځان څخه د ژوند کولو حق نه‌سلبوو!؟

* * *

هر ژوندی موجود له کوم دليل پرته زيږي، د ضعف له مخې خپل ژوند ته دوام ورکوي او په تصادف سره مري.

ketabton.com - The Digital Library



* * *

امن، عدل، آزادي او مساوات د یوې ټولنې د پرمختګ ضامن دي.

* * *

کله چې انسان هېڅ کار نه‌کوي، نو داسې فکر کوي، لکه ټول کارونه چې دی کوي.

* * *

مور چې داسې ناراحته او غم لړلي یو، نور له هېڅ شي نه، یوازې له خپله لاسه یو.

* * *

د دې لپاره چې عدم او نېستي وپېژنو، لومړی باید پوه شو، چې وجود او هستي څه ده؟

* * *

د ژوند چینه د مرګ په خوا بهېږي.

* * *

موږ اضافي یو، خو نېکمرغي مو دا ده چې دغه ټکی نه محسوسو.

* * *

هېڅوک نه‌شي کولی، خپله آزادي خپل هدف وټاکي. په داسې حال کې چې د نورو آزادي خپل هدف ونه‌بولو.

* * *

ناپوهان نېکمرغه خلک دي؛ ځکه په دې نه‌پوهېږي چې موږ په دې نړۍ کې څومره یوازې یو.

* * *

انسان په دنیا کې یوازې او لاچاره دی، بېګانه او پردی دی، خو که چېرې خپل دغه حالت ته اندېښمن او مضطرب شي، نو د لاچارۍ، بېګانګۍ او یوازیتوب احساس یې نور هم زیاتېږي.

* * *

مړینه بس نه‌ده، باید پر ځان ومرو.

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**له تا سره مینه بل څه نه‌ده، پرته له دې چې تا وهڅوم چې له ما سره مینه وکړې.**

* * *

**یوازې په غوښتلو او اراده کولو سړی اتل کېدلای نه‌شي؛ د اتل کېدو لپاره د اتل غوندې عمل په کار دی.**

* * *

**که چېرې په موږ کې د ننه کومه پوهه، هوښیاري او معنا نه‌وي، د باندې ټول شیان راته بې‌معنا او ناپېژانده ښکاري.**

* * *

**ځینې وخت یوه وړه ناغېړي او ټنبلي د دې سبب کېږي، چې ټول هغه څه له لاسه ورکړو، چې د زړګونو هلو ځلو پر بنسټ مو لاس ته راوړي دي.**

* * *

**نړۍ ته راتلل او په نړۍ کې شته‌والی، د انسان یو اساسي ماهیت دی.**

* * *

**کله چې یو ماشوم له بدمرغۍ سره مخ کېږي، تر هر څه لومړی د هغه کمزوری درک، دغه حالت او علت ته بې‌ځوابه شي.**

* * *

**هېڅوک نه‌پوهېږي چې د ستونزو او بحران په وخت کې وفادار خلک کومې خوا ته مخ اړوي.**

* * *

**د خلکو له تصمیم پرته، د سبا تاریخ نه‌شو اټکلولی.**

* * *

**کله چې انسان مړ شي، بیا نو په نړۍ کې ورته (سبا) او (راتلونکی) ارزښت نه‌لري.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**هېڅ شی په نړۍ کې بې‌سببه نه‌دي پیدا شوي، ټولو موجوداتو هغه که لوی دي او که واړه، په دې نړۍ کې یې ځانګړی ځای نیولی دی.**

****

**د هر انسان په خویونو او عادتونو کې د نورو انسانانو خویونه او عادتونه هم رابښکاره کېږي.**

***

**موږ یوازې هغه مهال د مرګ په فکر کې کېږو، چې کله د ژوند له ستونزو او ناخوالو سره مخ شو.**

***

**ژوند چې څومره پوچ وي، په همغه اندازه مرګ د زغملو شي.**

***

**هر کله چې عقل او درک له انسان څخه سلب شي، ژر د انسان ناوړه څېره راڅرګندېږي.**

***

**نېستي او نشتوالی چې کله وروستي حد ته ورسېږي؛ په یوه داسې جنون او لېونتوب بدل شي چې انسان تر خپل ستوني تېروي او له ځان سره یې وړي.**

***

**کله چې انسان پوچ شي او کله چې انسان بې‌حده ناهیلی شي، تر هر څه د مخه ورته د (مینې او محبت) کلمې معنا وبایلي.**

***

**هر څه په خپل وخت ترسره کېږي، موږ باید مخکې له مخکې د یوه کار د پایلې تمه ونه‌لرو.**

***

**موږ ډېر ځله د خپلو پرېکړو پړه په شرایطو وراچوو، څو له خپل مسؤلیت څخه ځان خلاص کړو.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**انسان غواړي خپل راتلونکی خوندي کړي، خو ژوند هېڅکله بشپړ امنیت نه تضمینوي.**

* * *

**آزادي یوازې دا نه‌ده چې هر څه وغواړې؛ آزادي دا ده چې د خپلو انتخابونو پایلې ومنې.**

* * *

**انسان کله ناکله د دې لپاره دروغ وایي چې له خپل حقیقت سره مخامخ نه‌شي.**

* * *

**د راتلونکي په اړه زموږ ویره ډېری وخت له دې څخه راولاړېږي چې پوهېږو هره پرېکړه باید په‌خپله وکړو.**

* * *

**د انسان لپاره تر ټولو سخته شیبه هغه ده چې پوه شي؛ هېڅوک د هغه پر ځای ژوند نه‌شي کولای.**

* * *

**کله چې انسان د خپلو غوښتنو او د ټولنې د تمو تر منځ بند پاتې شي، د خپل اصلي انتخاب پېژندل ورته ستونزمن کېږي.**

* * *

**د ژوند د معنا نشتوالی انسان ته د ناامېدۍ تر څنګ د معنا جوړولو امکان هم ورکوي.**

* * *

**انسان غواړي ځان ثابت او تعریف شوی موجود وبولي، خو د هغه ځان او ژوند تل د بدلون په حال کې وي.**

* * *

**له ځان سره رښتینی کېدل اسانه چاره نه‌ده، ځکه صداقت او رښتینولي انسان اړ باسي چې د خپلو انتخابونو مسؤلیت ومني.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**د بلوغ تر ټولو مهمه نښه دا ده چې انسان پوه شي: خپل ژوند باید په خپله انتخاب کړي.**

* * *

**آزادي یو نعمت دی، خو د آزادۍ تر ټولو دروند اړخ دا دی چې انسان د خپلې پرېکړې پړه پر بل چا نه‌شي اچولای.**

* * *

**انسان غواړي آزاد وي، خو ډېر ځله له خپلې آزادۍ وېرېږي.**

* * *

**موږ کله ناکله د شرایطو زندانیان نه‌یو؛ بلکې د خپلو وېرې او شک زندانیان یو.**

* * *

**د راتلونکې په اړه ډاډ غوښتل، د انسان هغه هڅه ده چې د نامعلوم ژوند لپاره مصنوعي امنیت جوړ کړي.**

* * *

**د بل انسان مینه هغه وخت په ستونزه بدلېږي چې موږ وغواړو د هغه آزادي هم تر واک لاندې راولو.**

* * *

**انسان ډېر ځله د خپل ځان په اړه هغه کیسه مني چې نورو ورته جوړه کړې وي.**

* * *

**تر ټولو سخته آزادي دا ده چې انسان ومني: د خپل ژوند لپاره کوم تضمین او ټاکل شوې معنا نه‌لري.**

* * *

**د انسان اضطراب له دې حقیقت څخه زېږي چې د انتخاب پر مهال هېڅوک نه‌شي ویلای چې کومه لاره به خامخا سمه وي.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**موږ د خپل ژوند لپاره دلیلونه جوړوو، خو ډېر وخت له دغو دلیلونو څخه یوازې د خپلو پرېکړو د توجیه لپاره کار اخلو.**

* * *

**د ژوند معنا داسې شی نه‌ده چې انسان یې له نړۍ څخه پیدا کړي؛ انسان یې د خپلو انتخابونو او عملونو له لارې جوړوي.**

* * *

**کله چې انسان له خپل انتخاب څخه تښتي، په حقیقت کې له خپل ځان څخه تښتي.**

* * *

**رښتینې بلوغ دا نه‌دی چې انسان ټول ځوابونه پیدا کړي؛ دا دی چې د بې‌ځوابه پوښتنو په منځ کې هم د انتخاب جرئت وکړي.**

* * *

**سیاست یوازې ښکلې او اصولي خبرې نه‌دي؛ سیاست له پرېکړو او پایلو سره مخامخ کېدل هم دي.**

* * *

**کله چې د عمل وخت راشي، یوازې د نظریې لرل کافي نه‌دي؛ انسان باید انتخاب وکړي.**

* * *

**انسان نه‌شي کولای تل د خپلو پرېکړو له پایلو ځان جلا وګڼي.**

* * *

**په سیاست کې د «سم هدف» ادعا د هرې وسیلې د توجیه لپاره کافي نه‌ده.**

* * *

**کله ناکله تر ټولو سخته پرېکړه دا نه‌وي چې څه وکړو، بلکې دا وي چې د څه لپاره خپل اصول قرباني کړو.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



نظریه هغه وخت ازموېل کېږي چې له واقعي انسانانو او واقعي انتخابونو سره مخ شي.

* * *

په سیاسي مبارزه کې وفاداري یوازې د یوې مفکورې پر وړاندې نه، بلکې د خپلو انتخابونو پر وړاندې هم وي.

* * *

د عمل نړۍ له هغو کسانو سره هم مخامخ ده چې د پاکو اصولو تر شا پټ پاتې کېږي.

* * *

د تاریخ په لویو شخړو کې شخصي وجدان او سیاسي اړتیا تل یو له بل سره په جوړجاړي کې نه‌وي.

* * *

هیڅ سیاسي شعار انسان له شخصي مسؤلیت څخه په بشپړه توګه نه‌شي خلاصولای.

* * *

تر ټولو خطرناک حالت هغه دی چې انسان د خپلې مفکورې په نوم د هر کار د روا کولو اجازه ځان ته ورکړي.

* * *

د انسان ارزښت یوازې په هغه څه کې نه‌دی چې د یوې ډلې لپاره یې کوي؛ د خپل وجدان پر وړاندې هم مسؤلیت لري.

* * *

دوزخ تل اور او شکنجه نه‌ده؛ کله ناکله د بل انسان په لومه کې بند پاتې کېدل هم دي.

* * *

انسان د نورو له قضاوت څخه ځان نه‌شي خلاصولای، ځکه د نورو نظر د هغه د ځان‌انځورونې برخه ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**موږ له نورو څخه تېښته کولای شو، خو له هغه انځور څخه نهشو تښتېدلای چې هغوی زموږ په اړه جوړ کړی وي.**

* * *

**انسان غواړي ځان د نورو په سترګو کې ښه ثابت کړي، خو د خپل تېر حقیقت له منځه وړل ورته ممکن نهدي.**

* * *

**د بل انسان نظر هغه وخت په زندان بدلېږي چې موږ خپل ارزښت په هغو پورې وتړو.**

* * *

**له مرګ وروسته هم د انسان کړنې د هغه له وجود څخه نهجلا کېږي؛ نور خلک یې د هغه له تېر ژوند سره پېژني.**

* * *

**موږ تل د خپل ځان لپاره یو تصویر جوړوو، خو نور خلک کولای شي هغه تصویر مات کړي.**

* * *

**که انسان د خپل ارزښت لپاره د بل انسان تائید ته اړتیا ولري، نو خپله آزادي یې کمزورې کړې ده.**

* * *

**انسان کله ناکله د حقیقت پر ځای هغه افسانه انتخابوي چې ژوند ورته د زغملو وړ کړي.**

* * *

**انسان له نورو سره اړیکه غواړي، خو همدغه اړیکه یې د قضاوت او په نورو پورې د ځان تړلو سرچینه هم ګرځېدای شي.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**بل انسان موږ ته یوازې یو شخص نه‌دی؛ هغه زموږ د ځان‌پېژندنې یوه هینداره هم گرځي او کله ناکله همدا هینداره موږ ته په زندان بدلېږي.**

* * *

**کله چې موږ د یو شي تصور کوو، هغه شی زموږ د شعور په داخل کې د یوه نوي ډول موجودیت بڼه اخلي.**

* * *

**تصور شوی شی د واقعي شي په څېر زموږ مخې ته نه‌درېږي؛ شعور هغه په خپل ځانگړي ډول رابښکاره کوي.**

* * *

**د واقعي شي درک کول او د هماغه شي تصور کول یو شان رواني عملونه نه‌دي.**

* * *

**تصور انسان ته اجازه ورکوي چې هغه څه هم په ذهن کې حاضر کړي چې په واقعیت کې اوس زموږ مخې ته حضور نه‌لري.**

* * *

**د تصور نړۍ د واقعیت ځای نه‌نیسي؛ بلکې له واقعیت سره د شعور د اړیکې یوه بله بڼه رامنځته کوي.**

* * *

**تصور د شعور له آزادۍ سره ژوره اړیکه لري، ځکه شعور کولای شي موجود واقعیت له ورکړل شوي حالت څخه جلا انځور کړي.**

* * *

**انسان یوازې هغه څه نه‌ویني چې شته؛ هغه کولای شي هغه څه هم تصور کړي چې لا نه‌دي موجود.**

* * *

**تصور شوی شی د واقعي شي ټولې ځانگړنې نه‌لري؛ شعور یې یوازې هغه اړخونه را اخلي چې ورته مهم دي.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**د تصور انځور د ذهن په یوه کونج کې ایښودل شوی مادي عکس نه‌دی؛ هغه د شعور یو عمل دی.**

* * *

**که مورږ تصور د حافظې له ساده انځور سره یو شی وبولو، د شعور د فعالیت مهم توپیرونه له لاسه ورکوو.**

* * *

**حافظه مورږ تېر وخت ته بیایي، خو تصور کولای شي، زمورږ شعور له موجود واقعیت څخه هاخوا بوځي.**

* * *

**تصور انسان ته د دې توان ورکوي چې له ورکړل شوي واقعیت څخه فاصله واخلي او د بل امکان په اړه فکر وکړي.**

* * *

**د تصور آزادي د انسان د شعور له هغې وړتیا سره تړلې ده چې واقعیت یوازې په یوه ممکنه بڼه ونه‌مني.**

* * *

**انسان ځکه تصور کولای شي چې شعور یې یوازې د موجودو شیانو په منلو پورې محدود نه‌دی؛ هغه کولای شي غیرحاضر او ناموجود شیان هم خپله موضوع وګرځوي.**

* * *

**تصور د ذهن دننه د یوه تصویر لیدل نه‌دي؛ تصور د شعور هغه آزاد عمل دی چې د واقعیت له مستقیم حضور څخه واټن اخلي او غیرحاضر، ناموجود یا ناممکن شی د خپل ځان لپاره راپنځوي.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**انسان د خپل تاریخ جوړوونکی دی، خو تاریخ هم د انسان پر انتخابونو او امکاناتو اغېز کوي.**

* * *

**آزادي په تشه فضا کې نه‌رامنځته کېږي؛ انسان خپله آزادي په مشخصو مادي او ټولنیزو شرایطو کې عملي کوي.**

* * *

**د انسان اړتیاوې هغه څه دي چې فرد له نورو انسانانو او له خپل چاپېریال سره په عملي اړیکه کې نښلوي.**

* * *

**انسانان کله د ګډ هدف لپاره سره یو ځای کېږي، خو دغه یووالی تل ثابت او دایمي نه‌وي.**

* * *

**یوه ډله هغه وخت رامنځته کېږي چې افراد خپل انفرادي حالت له ګډ هدف او عمل سره وتړي.**

* * *

**ډله یوازې د افرادو مجموعه نه‌ده؛ په ګډ عمل کې د افرادو تر منځ نوې اړیکې پیدا کېږي.**

* * *

**د ګډ هدف لپاره یووالی د انسانانو د آزاد عمل له لارې رامنځته کېږي، نه د بهرني زور له امله.**

* * *

**کله چې یوه ډله د بقا لپاره خپل جوړښتونه ټینګ کړي، وروسته هماغه جوړښتونه د افرادو پر آزادۍ محدودیت لګولای شي.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**انسانان د تاریخ شرایط جوړوي، خو وروسته همدغه جوړ شوي شرایط د هغوی د راتلونکو انتخابونو برخه ګرځي.**

* * *

**ټولنیز واقعیت د افرادو له عملونو پرته نهجوړېږي، خو فردي عمل هم له ټولنیز واقعیت څخه جلا نهشي درک کېدای.**

* * *

**مادي فقر د انسانانو تر منځ د شخړې او سیالۍ مهمه سرچینه کېدای شي.**

* * *

**کله چې منابع محدودې وي، د ژوند اړتیاوې، انسانان د یو او بل پر وړاندې دروي.**

* * *

**انسان یوازې د خپل شخصي ژوند له لارې تاریخ نهجوړوي؛ د هغه عمل د نورو له عملونو سره یوځای تاریخي بڼه پیدا کوي.**

* * *

**تاریخ د مخکې ټاکل شوې لارې په څیر نهدی؛ هغه د انسانانو د عملي فعالیتونو او متقابلو شرایطو په بهیر کې جوړېږي.**

* * *

**آزادي او اړتیا یو د بل مطلق مخالف نهدي؛ د انسان آزادي تل د مشخصو شرایطو په منځ کې ځان رابښیي.**

* * *

**د انسان د ټولنیز ژوند د پوهېدو لپاره باید فرد او ټولنه یو له بل څخه جلا ونهګڼل شي.**

* * *

**انسان تاریخ ته بڼه او لوری ورکوي او همهاله تاریخ راولاړېږي، انسان ته بڼه او لوری ورکوي.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**کله چې انسان احساساتي کېږي، نړۍ ورته د پخوا په څېر نه‌ښکاري.**

* * *

**انسان هغه وخت احساساتي غبرګون ښيي چې عادي لارې‌چارې ورته د يوې ستونزې په حل کې بسنه ونه‌کړي.**

* * *

**احساسات د نړۍ د بدلون يوه هڅه ده، خو دا بدلون ډېر ځله په مستقيم عمل نه، بلکې د شعور په بدلېدو کې راڅرګندېږي.**

* * *

**کله چې انسان له داسې حالت سره مخ شي چې حل يې ورته ناشونی ښکاري، احساس کولای شي د هغه د چلند لاره بدله کړي.**

* * *

**په احساس کې انسان يوازې د نړۍ په اړه فکر نه‌کوي؛ هغه نړۍ په يوه ځانګړي احساساتي ډول تجربه کوي.**

* * *

**احساسات د بدن له بدلونونو سره تړاو لري، خو په بدن کې يې فزيولوژيکي نښې د احساس ټوله معنا نه‌شي بيانولای.**

* * *

**انسان کله ناکله د عمل له لارې د نړۍ د بدلولو پر ځای خپل احساساتي حالت بدلوي، څو نړۍ ورته د زغملو وړ شي.**

* * *

**انسان په احساس کې له نړۍ څخه نه‌جلا کېږي؛ بلکې له نړۍ سره خپله اړيکه بدلوي.**

* * *

**د احساس معنا يوازې د بدن د ننه نه‌موندل کېږي؛ بايد وګورو چې په هغه شېبه کې انسان نړۍ څنګه تجربه کوي.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**احساس د يوې ستونزې پر وړاندې د شعور يوه ځانګړې حل‌لاره ده، که څه هم دا حل‌لاره تل واقعي او بريالۍ نه‌وي.**

* * *

**کله چې انسان د يوې پېښې عادي معنا بدلوي، د هغه احساساتي تجربه هم بدلېږي.**

* * *

**احساساتي شعور نړۍ ته نوې معنا ورکوي او انسان د هماغې نوې معنا له مخې عمل کوي.**

* * *

**احساس انسان ته ښيي چې شعور يوازې د نړۍ نندارچي نه‌دی؛ شعور د نړۍ په تجربه کولو کې فعال رول لري.**

* * *

**کله چې جګړه را روانه وي، انسان يوازې د جګړې له وېرې نه، بلکې د نامعلوم راتلونکي له وېرې هم کړېږي.**

* * *

**انسان کله ناکله د يوې پرېکړې انتظار کوي، خو همدا انتظار د هغه د ژوند تر ټولو درنه برخه وي.**

* * *

**د راتلونکي ناڅرګندتيا انسان دې ته اړ باسي چې خپل اوسنی ژوند ته هم په شکمن نظر وګوري.**

* * *

**سوله هغه وخت هم له منځه تللای شي چې لا جګړه په رسمي ډول نه‌وي پيل شوې.**

* * *

**د جګړې سيوری د انسان پر ورځني ژوند داسې خپرېږي چې عادي شيان هم ناڅاپه نوې معنا پيدا کوي.**

ketabton.com - The Digital Library



* * *

**کله چې انسان د راتلونکي په اړه يقين ونه لري، هره کوچنۍ پېښه ورته د لويې پېښې غوندې ښکاري.**

* * *

**تاريخ يوازې د مشرانو په پرېکړو نه‌جوړېږي؛ د عادي خلکو وېرې، انتخابونه او کړنې يې هم جوړوي.**

* * *

**انسان ځينې وخت د داسې نړۍ په منځ کې خپل شخصي ژوند ته دوام ورکوي چې له ده څخه ډېر لوى بحران ورسره مخ وي.**

* * *

**د جګړې په تمه کېدل هم د جګړې يوه بڼه ده؛ ځکه وېره له پېښې مخکې د انسان ذهن اشغالوي.**

* * *

**هغه څه چې انسان يې د خپل شخصي انتخاب په توګه ويني، ډېر ځله د ټولنيزو او تاريخي شرايطو تر اغېز لاندې وي.**

* * *

**انسان غواړي د خپل ژوند لپاره ډاډ ولري، خو تاريخ داسې ډاډ لږ ورکوي.**

* * *

**په بحراني وختونو کې د انسان اصلي شخصيت د هغه په انتخابونو کې ډېر روښانه څرګندېږي.**

* * *

**تاريخي پېښې د ميليونونو انسانانو شخصي ژوند سره نښلوي، حتی هغه خلک چې يو بل نه‌پېژني.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**کله چې راتلونکی نامعلوم وي، انسان د خپل اوسني ژوند هره شېبه د احتمالي پای په سترګه ویني.**

* * *

**آزادي یوازې د انتخاب امکان نه‌دی؛ انسان باید په هغو شرایطو کې هم انتخاب وکړي چې خپله یې نه‌دي رامنځته کړي.**

* * *

**کله چې انسان د یوې لویې پېښې انتظار کوي، انتظار خپله په یوه پېښه بدلېږي.**

* * *

**انسان غواړي سبا وپېژني، خو تاریخ له هېچا سره خپل راز نه‌شریکوي.**

* * *

**د جګړې تر ټولو لومړۍ قرباني کله ناکله د انسان د عادي ژوند احساس وي.**

* * *

**انسان د خپلې آزادۍ په اړه هغه وخت ډېر فکر کوي چې د انتخابونو ساحه یې تنګېږي.**

* * *

**ځینې خلک له جګړې څخه د تېښتې لاره لټوي، ځینې یې د مقابلې او ځینې یوازې د انتظار.**

* * *

**د راتلونکي په اړه وېره د اوسني وخت معنا هم بدلولای شي.**

* * *

**هغه څه چې پرون عادي وو، د بحران په وخت کې ناڅاپه ډېر ارزښتناک ښکاري.**

* * *

**تاریخ د لویو نومونو تر څنګ د هغو بې‌شمېره انسانانو له ژونده هم جوړېږي چې نومونه یې هېڅوک نه‌یادوي.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



د انتظار په وخت کې انسان له خپل ځانه هغه پوښتنې کوي چې په عادي ورځو کې يې له ځانه پټوي.

* * *

هیڅوک نه‌شي کولای د تاریخ له جریان څخه په بشپړ ډول بهر پاتې شي.

* * *

د انسان شخصي انتخاب هغه وخت سختېږي چې د ټولنې برخلیک ورسره وتړل شي.

* * *

بحران د انسانانو تر منځ پټ توپیرونه راڅرګندوي: څوک عمل کوي، څوک تېښته کوي او څوک یوازې ننداره کوي.

* * *

تاریخ یوازې هغه وخت نه‌جوړېږي چې خلک عمل کوي؛ د نه‌عمل کولو پرېکړې هم تاریخ بدلوي.

* * *

په انسان کې مخکې له مخکې د ښه‌والي او بدوالي داسې څه نه‌شته، چې په هغو باندې پوهه او خبرتیا تر لاسه کړي، بلکې دا پوهه او خبرتیا ده چې په هغو باندې ښه والی او بدوالی معلوموي.

* * *

لیکل یعنې عمل کول، یعنې تعهد او له خپلې آزادۍ څخه استفاده، مګر باید خبر واوسې چې له آزادۍ څخه ناسمه ګټه وانه‌خلې.

* * *

نیستي هماغه هستي ده، نیستي یو داسې شی ده، لکه هستي او یا لکه د هستۍ ضد. د نړۍ ټول شیان د خپل ضد شیانو سره رابطه لري او که چېرې دغه رابطه نه‌وي، هستي او نیستي به کوم مفهوم ونه‌لري.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



د یوه مایوسه انسان لپاره نړۍ پوچه او بې‌معنا کېږي او واړه حوادث ورته د غرونو په شان خپل دروندوالی ښیي.

* * *

د عمر له تېرېدو څخه په ژوند کې چټک شی نه‌شته، خو څوک دې ته پام نه‌کوي.

* * *

که یو ملت د فاشېزم نړۍ‌لید ته غاړه کېږدي، راتلونکی به یې له فاشېزم پرته بل څه نه‌وي.

* * *

که چېرې کتاب په ښه ډول لیکل شوی وي، ضرر نه‌لري.

* * *

په ژوند کې داسې شیان شته، که مو یو ځل له لاسه ورکړل، بیا به یې هېڅکله تر لاسه نه‌کړو.

* * *

په انسان کې مخکې له مخکې د ښه‌والي او بدوالي د پېژندلو پوهه نه‌شته. ښه‌والی او بدوالی انسان په ژوند کې زده کوي او وروسته خپل ځان ورسره جوړوي.

* * *

زما ټول کتابونه د یوه وړي ماشوم لپاره هېڅ ارزښت نه‌لري.

* * *

په ژوند کې ګڼ تصمیمونه شته، خو موږ باید ټول تصمیمونه ونه‌نیسو.

* * *

ایګزیستېنیشیالستان هېڅ وخت د انسان یو وروستی تعریف نه‌وړاندې کوي، دا ځکه چې انسان تل د تعریف کېدو په حال کې دی.

* * *

انسان د خپلې لار په ټاکلو سره د ټولو انسانانو لار ټاکي.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**هېڅوک تر هغه وخته آزاد نه‌شي اوسېدلای، څو د نورو انسانانو آزادیو ته درناوی ونه لري.**

* * *

**د نویو جزیرو د کشف لپاره باید د سمندر غاړو د پرېښودلو جرئت ولرو، دغه نړۍ د قسمت نه، د دقت نړۍ ده.**

* * *

**موږ په هر کار باندې لاس نه‌شو پورې کولای، د هر شي او هر کار انتخاب سم نه‌دی. انتخاب په یوه معنا د (ممکن) معنا لري، په دې اساس هغه څه چې ممکن نه‌وي، بې انتخابي یا انتخاب نه‌کول نه‌دي. موږ تل کولی شو، په آزادانه ډول انتخاب وکړو، خو په دې باید پوه وو، که چېرې انتخاب ونه‌کړو؛ بیا مو هم یو انتخاب کړی دی.**

* * *

**هېڅکله هغه ور مه‌ډبوه، چې نه‌پوهېږې، شا ته یې څه تېرېږي.**

* * *

**(ډیکارټ) چې کله غوښتل، د جسم او روح تر منځ رابطه کشف کړي، له ستونزو سره مخ شو؛ دا ځکه چې د جسم او روح تر منځ مشخصه پوله نه‌شته.**

* * *

**دومره جرئت په کار دی چې وکولی شې، هر څه له لاسه ورکړې؛ ځکه یوه ورځ نه یوه ورځ هغه څه له لاسه ورکوې چې د ټول عمر په هڅه او تلاش دې لاس ته راوړي دي.**

* * *

**زه تل په خپلواکه توګه انتخاب کولی شم، خو باید پوه وم، که هېڅ انتخاب هم ونه کړم، نو په واقعیت کې زما دا (نه انتخاب) هم یو انتخاب دی.**

* * *

**فکر زما د وجود یوه برخه ده، له دې امله، زه نه‌شم کولای د خپل فکر خنډ واوسم.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



آزادي د دې لامل کېږي چې انسان ته فرصت ورکړي چې د هغو باورونو د راپرځولو لپاره ګام واخلي، چې ټول عمر يې د هغه تر اسارت لاندې ژوند کړی دی.

* * *

ډاکټران، چارواکي، قاضيان او مذهبي مشران، نورو انسانانو ته په داسې نظر ګوري، لکه دوی چې پيدا کړي وي.

* * *

کومه فلسفه چې په احتمالاتو ولاړه وي او پر حقيقت باندې نه‌راڅرخي، په خپله ژبه خپل ځنکدن اعلانوي.

* * *

بشر تر هر څه وړاندې يوه (طرحه) ده، چې په خپله ځان‌پالنه کې ځان بشپړوي.

* * *

حتی که يو سړی له مور څخه فلج نړۍ ته راشي، که د سپورټ اتل نه‌شي، مسئوليت يې پر خپله غاړه دی.

* * *

يوازينی شی چې زما فکرونه بوختوي، دا دی چې له ژوند څخه به ډېر د مرګ پر مهال يوازې وم.

* * *

تر ټولو زيات غمجن کسان هغه دي، چې تر ټولو زيات خاندي.

* * *

انسان محکوم دی چې آزاد واوسي؛ ځکه دنيا ته په راتګ سره د خپلو کارونو مسئول دی.

* * *

مورې چې کله نړۍ ته راځو، په خپل ځان کې وجود لرو، خو دا چې څه واوسو، دغه ټکی په هغو پرېکړو پورې اړه لري، چې مورې يې د ځان لپاره کوو.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



مه‌پرېږدئ چې بچیان مو وژاړي، ځکه باران هم غوټۍ له منځه وړي.

* * *

موږ ته د خپل ځان کشفوَنه، د نورو انسانانو د کشفونې او موندنې لامل کېدای شي.

* * *

کله چې غواړم یو حقیقت د خپل ځان په اړه ثابت کړم، باید له نورو خلکو څخه لیدنه او کتنه وکړم، نور خلک زما د وجود لپاره لازم دي. په دې ډول د ځان پېژندنې لپاره د نورو خلکو پېژندل یو راز دی.

* * *

انسان محکوم دی چې په یوازې سر پرېکړه وکړي او محکوم دی چې آزاد واوسي.

* * *

زه دین نه‌لرم، خو که مې غوښتي د ځان لپاره کوم دین وټاکم، هغه به د شریعت لاره وای.

* * *

هغه څوک چې زیاتې خبرې کوي، له لاسه یې لږ کار کېږي.

* * *

موږ باید د خپلې آزادۍ لپاره، د ټولو انسانانو آزادي په پام کې ونیسو.

* * *

زموږ لومړنی خاصیت؛ ژوند او شته‌والی نه‌دی، عدم او نشتوالی دی.

* * *

څه شی چې زموږ لپاره ښه دي، د نورو لپاره هم ښه دي.

* * *

د بلوط دانه پرته له دې چې د بلوط په ونه بدله شي، بله لار نه‌لري.

* * *

دا انسان دی چې د خپلو اعمالو چوکاټ باید مشخص کړي.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**یو انسان مخکې له دې چې په یوه زړور یا ډارن، یا مسیحي یا محافظه‌کار او سوسیالیستې بدل شي، شته‌والی او وجود مومي. دا خبره یوازې په انسان کې ده چې وجود پر ماهیت باندې مخکې‌والی لري، موږ شته یو او مخکې له دې چې په یو څه بدل شو، خپلواک یو.**

* * *

**یو انسان هغه مهال د زړه‌تنګۍ احساس کوي، چې د ټولو شیانو وجود په نړۍ کې تر اندازې زیات او اضافه ویني. دغه اضافه‌والی انسان نه یوازې په چاپېریال کې احساسوي، بلکې د خپل وجود د ننه یې هم احساسوي.**

* * *

**ولې یو سړی ډارن او بې‌کفایته دی، دا ځکه چې هغه په خپله د ځان لپاره د ډار او بې‌کفایتۍ پرېکړه کړې.**

* * *

**ادب که هر څه نه‌شي، هېڅ دی.**

* * *

**احساسات مخکې له دې چې د یوه ځواک په توګه موږ یرغمل کړي، د چال چلند یوه نمونه ده، چې منلې او راخپله کړې مو ده.**

* * *

**ټول وخت بډایان له بېوزلانو سره پېغور وزمه خواخوږي ښیي.**

* * *

**درواغ ما نه‌دي اختراع کړي، موږ هر یو چې نړۍ ته راځو، درواغ راته په میراث پاتې وي.**

* * *

**زموږ ټولو دا غوښتنه ده چې آزاد او مسئول ژوند وکړو.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library



هر څوک ویلای شي؛ غواړم یو اوچت لوبغاړی، لوی عالم او یا لوی عاشق جوړ شم، خو له بدمرغه دا هر څه یوازې په الفاظو کې وي.

* * *

ارزښتونه زموږ له اعمالو څخه را الوزي، هماغه ډول لکه کوم وخت چې په باغ کې قدم وهو او زموږ په راتګ سره مرغان له ونو الوزي.

* * *

د انسان لپاره تر خپلو اعمالو ورهاخوا، نور اسرار او رازونه هم شته.

* * *

انسان باید دا عادت خپل کړي چې په لږو شیانو خوشحاله شي. څومره چې لږ وغواړې، هغومره به لږ څه خوشحالبږې او څومره چې خپلې اړتیاوې راکمې کړې، د ژوند چارې به دې ساده او د کنټرول وړ شي.

* * *

په نړۍ کې پرته له (څرنګه ژوند کولو) ، نور هر څه کشف شوي دي.

* * *

موږ آزاد یو، خو په عین وخت کې له خپلې آزادۍ څخه ویره هم لرو.

* * *

زموږ آزادي له دغه حقیقت سره تړلې ده چې له هغو پوهې او ځانخبرۍ څخه ځان نه‌شو ژغورلی چې زموږ له هستۍ او شته‌والي سره تړاو لري.

* * *

په نړۍ کې له هغه هدف څخه پرته چې موږ یې ټاکو، بل هېڅ هدف نه‌شته.

* * *

که تر اوسه نه یې مړ شوی، ښښه وکړه، کینه د تیرو په څېر درنه ده، هغه پر ځمکه وغورځوه او سوکاله ومره.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



**په کار ده ځينې وخت په ژوند کې ځينې کسان ورک کړئ، څو خپل ځان پيدا کړئ.**

* * *

**په نړۍ کې د انسان مسئوليت تر دې زيات دی، لکه څنګه چې يې دی فکر کوي.**

* * *

ketabton.com - The Digital Library

# سارتر په انځورونو کې

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library




ketabton.com - The Digital Library



سارتر په ٦۴ کلنۍ کې




ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library





سارتر د مطالعې پر مهال

ketabton.com - The Digital Library





سارتر د «کانګې» ناول د ليکلو په کلونو کې

ketabton.com - The Digital Library





سارتر او سیمون دوبووار په ۱۹۵۵م کال په چین کې

ketabton.com - The Digital Library





سارتر په «۵» کلنۍ کې

ketabton.com - The Digital Library





سارتر او مور يې «آنه‌ماري»

ketabton.com - The Digital Library







ketabton.com - The Digital Library





سارتر د دویمې نړیوالې جګړې په کلونو کې

ketabton.com - The Digital Library





سارتر د وینا په حال کې



ketabton.com - The Digital Library





سارتر او مېرمن سیمون دوبووار

ketabton.com - The Digital Library





سارتر، چيګوارا او سيمون دوبووار

سارتر په خپلو خاطراتو ليکي:

غوښتل مې له چيګوارا سره وګورم، د هغه له يو کس نه مې غوښتنه وکړه، چې د ملاقات وخت راته برابر کړي. هغه راته د شپې دوې بجې وښودلې، لږ د وخته ورغلم او حيران شوم، چې ولې يې دا وخت وټاکه. وروسته مې په خپله له چيګوارا وپوښتل: دا وخت خو ستا د خوب او استراحت دی؟ هغه يو جالب ځواب راکړ، ويل يې: (زه ډېر کلونه ويده وم، نور بايد ويده نه‌شم!)

په دغه تصوير کې وينو، چې چيګوارا، د سارتر سګرټ لګوي. ويل کېږي په دغه شېبه کې سارتر چيګوارا ته وويل:

(انسان د سګرټ غونډې دی، چې په کومه شېبه روښانه شي، هماغه شېبه د له منځه تلو په لور روان شي.)

ketabton.com - The Digital Library






د سارتر مورنی نیکه «شارل شوایتزر»

ketabton.com - The Digital Library





سارتر او سيمون دوبووار له فيډل کاسترو سره

ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library



## د سارتر د ځو کتابونو انځورونه






ketabton.com - The Digital Library






**د سارتر قبر**

ketabton.com - The Digital Library



# سرچينې


۱. افغانيار، پوهندوی دکتور ناظر حسين .(۱۳۹۴هـ). فلسفه او فلسفي بهير، ژباړن: محمداسمعيل يون، کابل: د افغانستان ملي تحريک
۲. ايوبي، محمدنادر .(۱٤۲٦ق). فلسفه، کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه
۳. ټوماس، هينري. ټوماس، ډانلي .(۱۳۸۴هـ). په فلسفه کې تلپاتې پېښې، ژباړن: نصيراحمد احمدي، دانش خپرندويه ټولنه
٤. خليل، ډاکتر حنيف .(۲۰۱۱م). د پښتو نوې شاعري، پېښور: يونيورسټي پبلشرز
۵. رايس، کرستينه شولڅ .(۱۳۹۴هـ). نامتو مفکران، ليکوال او شاعران، ژباړونکې: اناهيتا روهي، کابل: مېرمن کلتوري- ټولنيز بهير
٦. روهي، څېړندوی محمدصديق .(۱۳۸٦هـ). ادبي څېړنې، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۷. دُراني، عبدالرحيم .(۱۳۸۴هـ). فلسفه څه ده؟ پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۸. دورانت، ويل .(۱۳۷۹هـ). تاريخ فلسفه، مترجم: عباس زرياب، چاپ پانزدهم، تهران: انتشارات علمی و فرهنگی
۹. سارتر، ژان پُل .(۱۳۸۸هـ). ادبيات چيست؟ ترجمه: ابوالحسن نجفي و مصطفی رحيمي، چاپ هشتم، تهران: انتشارات نيلوفر
۱۰. سارتر، ژان پُل .(۱۳۴۴هـ). کلمات، ترجمه: حسينقلي جراهرچي، انتشارات کاوه
۱۱. سارتر، ژان پُل .(۱۳۹۴هـ). هستي و نيستي، ترجمه: مهستي بحريني، تهران: انتشارات نيلوفر
۱۲. سارتر، ژان پُل .(۱۳٦۱هـ). اگزيستنسياليسم و اصالت بشر، ترجمه: داکتر مصطفی رحيمي، چاپ هشتم، تهران: انتشارات مرواريد
۱۳. سارتر، ژان پُل .(۱۳٦۵هـ). تهوع، ترجمه: اميرجلال الدين اعلم، چاپ دوم، تهران: انتشارات نيلوفر
۱٤. سارتر، ژان پُل .(۱۳۹۰). سن عقل، ترجمه: منوچهر کيا، تهران: انتشارات سمير
۱۵. سيد حسيني، رضا .(۱۳۸۷هـ). مکتبهای ادبي، جلد دوم، چاپ چهاردهم، انتشارات نگاه
۱٦. سيد عابدجان .(۱۳۸۴هـ). فلسفه د جنون او جانان، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۱۷. شاملويي، حبيب الله .(۱۳۸۳هـ). بزرگان چه گفته اند؟ تهران: انتشارات فردا

ketabton.com - The Digital Library



۱۸. شیرواني، ډاکتر علي .(۱۳۹۴هـ). د فلسفې کلیات، ژباړن: محمدحامد ژواک، دانش خپرندویه ټولنه
۱۹. شینواری، سرمحقق دوست .(۱۳۹۳هـ). د ادب د تیورۍ اساسونه، دویم چاپ، ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه
۲۰. غضنفر، اسدالله .(۱۳۹۳هـ). کلتور او ټولنه، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه
۲۱. غني خان .(۲۰۰۸). لټون (د غني خان د شعرونو کلیات)، د محمدزبیر حسرت په زیار، پېښور
۲۲. کامو، آلبرت .(۱۳۸۲هـ). بیگانه، ترجمه: جلال آل احمد و علي اصغر خبره‌زاده، انتشارات نیلوفر
۲۳. کرګر، محمداکبر .(۱۳۸۸هـ). د شعر درناوی، دانش خپرندویه ټولنه
۲٤. کرګر، محمداکبر .(۲۰۰۵م). ادبیات او د انسان د ننني نړۍ، دانش خپرندویه ټولنه
۲۵. ګاردر، یوستین .(۱۳۹۲هـ). دنیای سوفي، ترجمه: حسن کامشاد، انتشارات نیلوفر
۲٦. لېوال، عبدالغفور .(۱۳۸۱هـ). د وریښمو تول (کره کتنه)، د افغانستان د مسلمانو مهاجرو سازمان، امریکا
۲۷. مجروح، پوهاندډاکتر بهأالدین .(۱۳۵۳هـ). د جبر او اختیار ډیالکتیک، دویم چاپ، کابل: د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی
۲۸. مجروح، پوهاندډاکتر بهأالدین .(۱۳۸۵هـ). ځانځاني ښامار، د کلید د کتاب خپرولو اداره
۲۹. Jean-Paul Sartre French philosopher and author, https://www.britannica.com/biography/Jean-Paul-Sartre
۳۰. Jean Paul Sartre: Existentialism, https://iep.utm.edu/ sartre-ex/
۳۱. Jean Paul Sartre quotes, https://www.azquotes.com
۳۲. https://www.britannica.com/biography/Jean-Paul-Sartre
۳۳. https://plato.stanford.edu/entries/sartre/
۳٤. https://www.nobelprize.org/prizes/literature/۱۹٦٤/sartre/biographical/
۳۵. https://www.ebsco.com/research-starters/history/jean-paul-sartre
۳٦. https://www.researchgate.net/publication/۳۷۲۳۷٦۲۰۳_Jean-Paul_Sartre's_Existential_Freedom_A_Critical_Analysis

ketabton.com - The Digital Library



# The Life, Philosophy and Sayings of Sartre

author: m. safa

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*